# دافغانانو وروستي خپلمنځۍ جګړه

# او

# دبشر حقوق

سرمحقق محمداکبرمعتمد شینواری

۱۳۷۵

Download from:aghalibrary.com

# د کتاب پیژندنه

*د کتاب نوم : د افغانانو وروستي خپلمنځي جنګونه او د بشر حقوق
*لیکوال : سرمحقق محمداکبر معتمد شینواری
*خپروونکی : د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه
*د چاپ شمیر : ۲۰۰۰ ټوکه
*د چاپ ځای : تاپ پرنټرز - پیښور
*د چاپ کال : ۱۳۷۵ / ۱۹۹۷ ع
*مهتمم : محمد ظاهر بابري
*کمپوزر : سید حسین پاچا

Download from:aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

په دې محوطه کې چې اوس یې افغانستان بولو ډېر ستر شخصیتونه تیر شوي دي چې موږ وربانديې ویاړو .

زموږ په هیواد کې بلخ د تمدن او عظمت ټاټوبی و ، هرات د علم او ادب مقر ګڼل کیده ، غزنی او کندهار د فاتحانو جاله وه ، د لوګر ناوه د علم او تدریس مکتب و او د ننګرهار پراخه وادي د پیری او مریدی او ذکرو فکر مدرسه وه او د هر کاڼي او بوټي لاندې یې یو شاعر پروت دی .

په دغو ځایونو کې بشریت ته خدمت شوی دی ، د انسان درناوی او احترام شوی دی او د هر چا حقوق پکې خوندي او ساتل شوي وو .

مګر همدغه محوطه او خاوره د نظره شوه او په دې وروستیو کلونو کې داسې بیخوندي او نادودې پکې راغلې چې که پخوا موږ ورباندې فخر کاوه خو اوس پکې څه نه دي پاتې . پخوا پکې د انسان درناوی کیده او حقوق یې محفوظ وو ، خو اوس پکې د انسان سپکاوی کیږي او حقوق یې د پښو لاندې کیږي ، باید افغانان په ګډه د دې کار چاره وسنجوي او هیواد پرې نږدي چې نور پسې برباد شي او د خلکو د خندا شو .

په دې وړه رساله کې ما زیار ایستلی ، چې د وروستیو کلونو د جنګونو له امله چې زموږ په هیواد کې د بشري حقوقو د نه رعایت کومه غمیزه پیل شوې ، د دې غمیزې داستان د خپلو لیدنو، کتنو او د خاطرو د بیان په ترڅ کې تاسې ته وړاندې کړم .



Download from:aghalibrary.com

# فهرست


| مخ | عنوان |
|---|---|
| ۱ | د افغانستان وروستي جنګونه او د بشر حقوق |
| ۵۲ | هغه عوامل چې دغه جنګونه يې مينځته راوړي دي چې په نتيجه کې يې د بشر حقوق تلف شول |
| ۷۰ | تنظيمونو چې قدرت په لاس کې ونيو څه پيښ شول ؟ |
| ۹۰ | د سولې او آرامۍ په خاطر وړانديزونه |




Download from:aghalibrary.com

# د افغانستان وروستني جنګونه او د بشر حقوق

پخوا به خلکو ويل چې په جنګونو کې جامې شليږي او بد کار دی مګر په افغانستان کی دا وروستني جنګونه د جامو د شليدو جنګونه نه دي ، په دې جنګونو اوّ جګړو کې په زرهاوو خلك مړه شول ، په سلهاوو کورونه وران شول ، چور او چپاول وشو ، پاخه سړکونه په خامو بدل يا له منځه لاړل ، پلونه په باروتو والوتل ، کلي او ښارونه کنډواله شول ، زراعت او مالداري چې د افغانانو د ډيره کيو چاره ده بيخونده شوه ، د ځينو ولايتونو وګړي ځينو نورو ولايتونو ته نه شي تللای .

په دې جنګونو کې پښتون او تاجك ، هزاره او ازبك چې د تاريخ په اوږدو کې يې د ورونو په شان ژوند کړی دی نن ورځ يو د بل غوښو ته کښينول شول ، يو د بل وينو ته يې کښينول او يو د بل په سر باندې يې ميخونه ټکوهل .



Download from:aghalibrary.com

د قدرت ورږو او د پیسو حریصانو ته به د ولس او ملت له خوا نور گناهونه وبخښل شي مگر دا گناه چې دوی د ورونو قومونو په مینځ کې کرښې تیرې کړې او د یو ملت قومونه یې یو د بل دښمن وگرځول ، خلك به دا گناه ورته ونه بخښي او نه به د دې گناه نه ورته تیر شي . دا مصیبت او کړاو به تاریخ پخپله گیډه کې ساتي او وخت په وخت به قومي تصادمات منځته راځي چې تاریخ به ورسره نوی کیږي او مبدا او علت به یې چې د دې موجوده وسله والو ډلو دا وروستنۍ لوبې دي د خلکو په اذهانو کې بیا بیا تکراریږي ، دا غمیزه او ناکردې به څو سدۍ ونیسي او که چیرې یو قوي مرکزي حکومت ډیر ژر جوړ نه شي د هیواد د ټوټې کیدو احتمال هم لیرې نه بریښي او که سپین درته ووایم هیواد همدا اوس هم عملاً په څو برخو ویشل شوی دی چې هره برخه یې خپل جلا سیاست چلوي او حتی پولي سیستم یې هم سره تقریباً جلا دی .

په دې وروستیو جنگونو او شخړو کې چې څه د پاسه څلور کاله ور نه تیریږي ډیرې بیخوندۍ او فجایع منځته راغلل چې د ټولو د شمیرلو نه قلم عاجز دی او ځینې داسې جنایتونه او ناولې خبرې دي چې د قلم عفت یې لیکل نه ایجابوي ؛ د خلکو په حریم او کورونو بې اجازې ټوپکوالا ورننوتل ، مالونه او شته یې چور کړل ، نارینه یې ووژل او ښځې یې بې ستره کړې ؛ ماشومان اختطاف شول ؛ په خلکو وحشت او ډار مسلط شو ، لوږې او تندې راغلې ، قحطي او قیمتي سر راښکاره کړ او خلاصه چې د ښایسته وطن نه دوزخ جوړ شو او د بشر حقوق پکې په مړه خیټه هضم شول .

د تنظیمونو د قدرت نه پخوا هم دا چارې وې او خلك له کړاو سره مخامخ وو ، اما د تنظیمونو په وخت کې بیا خبره په بل شان وه او بل شان ده ، دوی د فجایعو او جنایتونو مخه ونیسي ، بلکې یو تنظیم



Download from:aghalibrary.com

يې بل ته منسوبوي ، يو پاڅيږي بل ملامتوي او خپله پښه پخپله په ترښخ وهي ، دوی يو واحد مرکزي حکومت نه لري چې چارې سمبال کړي ، همدا وجه ده چې هرڅه ورنه ګډوډ او وران شول ، خپل خلك يې وځورول او پردي يې په ځان پورې وخندول .

په همدې رابطه دا خبره د ويلو ده چې کله وسله والې ډلې په بيګاره ډول په کابل رانںوتلې نو د تير حکومت خلکو په ډاګه وويل چې : زموږ طالع او بخت بيدار و چې تنظيمونه په اتفاق او يو فکر سره کابل ته رانغلل ، بلکې په داسې حال کې راغلل چې يوه بل ته ټوپك نيولې دی ، له همدې کبله د تير حکومت وفادارو د خوشحالۍ او آرامۍ سا واخيستله او څه د يو تنظيم او څه د بل تنظيم سره يوځای شول او له هغه څه نه خلاص شول چې دوی يې تصور کاوه .

زه د خپل هيواد په دا ټولو وروستيو کودتاګانو کې په کابل کې وم او هر څه مې له نږدې وليدل او وڅارل . محمد داؤد خان په خپل تره زوی کودتا وکړه ، هغه يې برطرف او خپل ځان يې د هيواد جمهور رئيس اعلان کړ ، کودتا سپينه وه ، مرګ ژوبله پکې ونه شوه يوازې يو څو تنه پکې بنديان شول چې هغه هم بيا وروسته زر راخلاص شول ، د بشر حقوقو په دغه اخ وډب کې داسې د ويلو وړ نوې ضربه ونه ليدله او هر څه د پخوا غوندې وو . کودتا د شپې له خوا وشوه او په دا سبا يې خلك او مامورين خپلو کارونو ته لاړل او چا حتیٰ د کودتا آثار هم حس نه کړل او هر څه په پخوانۍ بڼه وو ، دولتي او شخصي مالونه هم هيڅ لوټ او تالا نه شول او نه د هيواد دارايي او پانګه خارج ووتله .

محمد داؤد چې ځان يې د جمهوريت مؤسس او د انقلاب رهبر باله په خپله لومړنۍ وينا کې چې ملت ته يې وکړه په اصطلاح ځينې مترقي خبرې وکړې او په هغه وخت کې دا طبيعي وه چې چا به مترقي خبرې


Download from:aghalibrary.com

کولې هغه به د خلکو خوښیده او ممکن محمد داؤد به په همدې نیت دا خبرې کړې وې ، د کیڼ لاسو د ځینو ډلو د محمد داؤد دا ټرمونه او خبرې خوښې شوې او ده ته یې ځان ورنژدې کړ . محمد داؤد هم خپله غیره ورته پرانستله او دوی یې ټینګ ونیول . دا یوه سیاسي لوبه او معامله وه او په سیاست کې معامله ګري تل رامنځته کیږي . یعنې دواړه خواوې په دغه معامله او نژدیوالي کې سنه زړي او صاف نیته نه وو او خپل فرصت او خپلې موخې ته یې کتل . دواړو خواوو اوږده ستراتیژي په لاره اچولې وه او لنډ ګوزار یې نه کاوه ، هماغه و چې په ۱۳۵۷ کال کې کړکیچ زیات شو ، تاو او تریخوالی منځته راغی ، لومړی د پرچم یو مشهور شخص میراکبر خیبر ووژل شو او ورپسې د کیڼ لاسو ټول مشران بندیان شول او چې دوی مایوس شول نو په اردو کې یې خپلو طرفدارانو ته د کودتا امر ورکړ ، هماغه و چې داسې کانې وشوی چې د چا په خیال کې نه ګرځیدې . هر څه چپه شول او د انقلاب واقعي مفهوم چې ( هر څه په بل مخ اړول دي ) دلته د عمل جامه واغوستله . کیڼ لاسي دوه جناحه وو یو خلق او بل پرچم ، قدرت خلقیانو په لاس کی ونیو او پرچمیانو ته یې داسې لړه برخه ورکړه چې هغوی وربانديې خوشحاله نه وو .

د قدرت د انتقال په وخت کې مرګ ژوبله وشوه ، ډیره بیخوندي منځته راغله او د بشر حقوق بیخي تلف او له منځه لاړل . په دغه وخت کې د دولت چې مشر یې نورمحمد تره کی و او د روحانیت په منځ کې بې اعتباري او دښمني په ښکاره ولیدل شوه او ډیر خلك له منځه لاړل ، عام ولس هم ناراض و او پرچمیانو هم خپله همکاري ورسره سسته کړه ، هماغه و چې په ډیر لږ وخت کی د تره کي او امین قدرت ختم شو او د شورویانو په مستقیمې مداخلې پرچمیان قدرت ته ورسیدل .



Download from:aghalibrary.com

د پرچمیانو نه وروسته قدرت د تنظیمونو لاس ته ورغی ، دوی په ډیر غرور سره د کابل په ښار راننوتل او مغرور ځکه وو چې دوی حکومت مات کړی و او د کابل په ارمان چې وو هغه ارمان یې پوره شوی و . په دغو شپو کې هم زه په کابل کې وم او د یوې دولتي مؤسسې مامور وم . دوی د تنظیمونو په شکل په کابل راننوتل او د یوې واحدې قوماندې لاندې نه وو، ځکه نو په ښار کې ګډوډي جوړه شوه او هرچا چې څه غوښتل هغه یې کول . دلته څوک یو تنظیم یا بل ملامته کولی نه شي ، بلکې هر یوه غوښتل چې زیاتې وسلې غنیمت کا او هغه ماڼۍ او مؤسسې ونیسي چې اعتبار او سوق الجیشي حیثیت ولري ، هر یوه هڅه کوله چې ستراتیژیك ځایونه تصرف کا او په بل برلاسي پیدا کړي ، مسابقه پیل شوه او ډیره توده او بیرحمه مسابقه روانه وه . د دولتي مالونو او د مؤسساتو په چور کولو کې هم سیالي او رقابت منځته راغی چې په نتیجه کې هیڅ پاتې نه شول او مؤسسات لغړ شول او حتمي د جناب حضرت صاحب چې د دوی لومړنی جمهور رئیس و، په داسې ځای کې شپې راغلې چې هغه خالي او د دوی د شان سره مناسب نه و، یعنې ارګ هم چور شوی و . د تنظیمونو خلك ټول مسلح وو او حتی واړه سړي به دوه درې د ټانك ضد راکټونه په اوږه ایښي وو . نوي موډ موټرې او ډاتسنې چې د کابل خلکو ته نااشنا وې په ښار کې لرې برې بې هدفه تیزې منډې رامنډې وهلې او ټوپکوالا به پکې ناست وو او چې د کوم ځای په نیولو کی به مسابقه شروع شوه تا به فکر کاوه چې د ښار نه دوزخ یا تنور جوړ شو . نو په داسې حال کی آیا څوك د بشر د حقوقو پوښتنه کولای شي او آیا د بشر حقوقو ب نه تلف کیږي ؟ بلکې دا کار به ضرور کیږي . په دغو جنګونو او مسابقو باندې د ځینو تنظیمونو مشران خوشحاله وو خو د لاسه یې څه



Download from:aghalibrary.com

نه کیدل او اوبه له ورخه تیرې وې .

کله چې مونږ مامورین او د دولتي ادارو منسوبین خپلو دفترونو ته لاړو نو هغه دفترونه نه وو چې مونږ پریښي وو ، هر څه بل شان معلومیدل ، قالینې ټولې شوې وې ، ښکلي او ظریف فرنیچرونه ورک شوي وو . د مامورینو شخصي شیان غارت شوي وو ، موټرې تښتول شوې وې او د میزونو قلفونه او زلفې ماتې شوې وې او هر څه تالا شوي وو . داسې ښکاریدل ، لکه چې په ښار باندې طوفان تیری شوی وي ، یوازې غټې میزونه او چوکۍ ګانې پاتې وې ، مامورینو په دې باندې هم شکر وایست چې د کیناستو ځای یې ورك نه شو مګر دغه میزونه او چوکۍ ګانې هم ورځ په ورځ کمیدلې او د پوستو والاوو به چې په عین حال کې څوکیداران هم وو هغه یې سیځلې او یا یې په بازار کې پلورلې ، خبره زما یو غټ میز ته راورسیده ، زه چې سهار راغلم هغه نه شته او ځای سپیره پروت دی ، پیاده راته وویل چې : ستا میز خو درې ځایه شو ، یوه خوا یې یوه کس یووړه ، بله خوا یې بل کس واخیسته او د سر تخته یې دریم واخیسته چې کار یې ختم شو .

آیا د بشر حقوق داسې وي چې سړی د کار کولو میز ونه لري ، آیا د بشر حقوق دا وي چې د چا د کار آباده کوټه په ویرانه بدله شي او د کار لپاره ځای او حوصله ورکه شي ؟

ګرانو لوستونکو ! زه دا خبرې یوازې د خپل دفتر او د خپلې مؤسسې او د خپل دولتي ارګان د یوې څانګې په باره کې کوم ، تاسې کولای شئ چې د ټولو مؤسساتو ، وزارتونو او ریاستونو حال وربانديې قیاس کړئ . زه خپل د سترګو لیدلی حال تاسې ته بیانوم ، نه کومه مبالغه کوم او نه دروغ وایم او نه په دروغو کې ګټه شته . زه په دې خواشینی یم چې زمونږ په هیواد کې بشري حقوق نقض کیږي . حال دا

چې زموږ هیواد د بشر د حقوقو هغه اعلامیه منلې ، تایید کړې او لاسلیك کړې چې په ۱۹٤۸ کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې له خوا تصویب شوه . دا اعلامیه د بشر او انسان د ښه ژوند لپاره منځته راغلې چې کړاو ، سپکاوی ، ځوریدل او حقارت ونه ویني .

زموږ مؤسسې دولتي دیارلس موټره درلودل چې په هماغه لومړیو ورځ چور شول . یوازې یو لوی روسی زیل موټر پاتې شو چې هغه نه چالانیده ، څه موده وروسته هغه هم پسې ورك شو چې په دې ترتیب زموږ د مؤسسې د موټرو قصه ختمه شوه .

زموږ ریاست یا دولتي ارګان یوه پراخه حویلۍ او شین انګړ لاره چې یوازې لس دانې د توتانو ونې پکې ولاړې وې ، شین سیوری او خلکو ورنه استفاده کوله ، چې توتان به پاخه شول نو پیاده ګانو به خواړه او وړو مامورینو هم دا کار کاوه . په دغه حویلۍ کې قسم قسم د ګلانو بوټي وو چې خپل ماحول یې ښایسته کړی و ، شین چمن یې لاره ، د اوبو د نلونو سیستم پکې موجود و او هر څه تر او تازه وو او د هیڅ شي کمبود نه و .

تاسې یقین وکړئ چې په ډیر لږ وخت کې دغه توتان ووهل شول او په بازار کې خرڅ شول ، د اوبو نلونه له بیخه وایستل شول او په شخصي مصرف ورسیدل او دغه شنه حویلۍ او شین باغ په وچه کرغه بدل شو او چې پخوا به یې خلکو ته خوند ورکاوه اوس په سترګو بده لګیده . ګلان وچ شول ، شنه بوټي له مینځه لاړل ځکه چې نلونه له مینځه لاړل . مامورینو او مستخدمینو حق لاره چې له دې باغ وبوستان نه ګټه واخلي مګر بشري حق ورنه سلب شو او په وچه کانګړه کې راایسار شول .

زموږ مؤسسې یوه ډیره ښایسته او غني کتابخانه لرله چې د

مسلکيٍ کتابونو نه ډکه وه ، قلمي نسخې يې هم لرلې او شپيته کلن تاريخ يې لاره او نور تاريخي ، مذهبي او ادبي کتابونه هم پکې موجود وو . د دغو کتابونو په يوه برخه باندې چاپونه دم شول او ديګونه وريانډې پاخه شول ، څه يې بازار ته عرضه شول او متباقي ته يې اور واچاوه . زموږ يوه ملګري ورته وويل چې : دا کتابونه تاسې په کوم منظور وسيځل او داسې پوښتنه يې ورنه ونه کړه چې ( دا کتابونه تاسې ولې وسيځل ) ځکه چې د ټوپکوالاوو په مخ کې چا ( ولې ) نه شوه ويلی . په هر چا باندې رعب او ډار ناست و او د بيان آزادي هيڅ نه وه . ټوپکوالا ورته وويل : دا کتابونه موږ ځکه وسيځل چې د لينن عکسونه پکې وو ، لاس يې ټيټ کړ يو کتاب يې راواخيست چې په پشتی باندې يې عکس و او زموږ ملګري ته يې ورکړ چې وګوره د لينن عکس . زموږ ملګري ورته وويل چې : وبخښئ ! دا د لينن عکس نه دی ، دا د يو افغان عکس دی . کتابخانه خالي شوه ، دروازې يې ماتې شوې .

د کتابخانې نه غير زموږ شخصي کتابونه هم وو چې موږ سره په کوټو کې د ميزونو د پاسه او د ميزونو په خانو کې ساتل کيدل . هغه هم له مينځه لاړل چې په دې ترتيب سره د کتابونو نه خلاص شو ، ليکل او مطالعه پاتې شول يوازې موږ په حاضرۍ مکلف شوو . موږ ته وويل شول چې سهار راځئ ، امضاء کوئ او بيا ځئ .

آيا يو څوک چې د مطالعې او ليکلو نه محروم شي دا د بشر د حقوقو نه محروميت نه دی . زموږ يوازې په دولتي معاشونو پوره ګوزاره نه کيده . موږ به مقالې ليکلې ، ترجمې به مو کولې او کتابونه او رسالې به مو ليکلې او چاپول او له دې لارې نه به مو حق الزحمې اخيستلې او ژوند مو وريانډې سنبه و ، دا لار هم وتړل شوه او ژوند

راتنګ شو او ورځ د ورځې راتنګیده .

دا لا څه کوې چې بله ورځ زموږ د مؤسسې دغې برخې ته چې موږ پکې کار کاوه یوه نظامي قطعه راغله او تعمیر یې رانه ونیو او موږ پادرهوا پاتې شوو . آیا دا د بشر له حقوقو نه تیری نه دی ؟ زموږ د مؤسسې لوی رئیس یو ښه سړی و او د تنګسې په وخت کې یې د مامورینو سره ګذاره کوله او چاره ساز و . دی پخپله برطرف شوی نه و ځکه نو مسلکي سړی و او بل چا د دې مؤسسې چارې اجرا کولای نه شوې . ده راته وویل چې : خپل د حاضری کتاب مرکزي برخې ته راوړئ ، سهار امضاء کوئ نور ځئ .

په دغه وخت کې په ټول کابل کې یو وخت حاضري عادت شوه ، مامورینو به یوازې سهار امضاء او لاسلیك کاوه د ماسپښین له خوا لاسلیك د عادت او موډ نه ولوید ، خلکو به چې سهار لاسلیك وکړ نو حیران به شول چې څه وکړي او چیرته لاړ شي ، د کیناستلو ځای نه شته ، په ښار کې د ګرځیدلو شان نه شته ، وخت ناوخت راکټونه راځي ، خطر حس کوي .

ښه ! چې ژوند داسې تنګ شي او انسان داسې محصور شي . آیا دا به د بشر د حقوقو څخه تیری نه وي او هغه چې په ښار او کوروڼو کې په راکټونو وژل کیږي او مري د هغوی خبره څو د بشر د حقوقو نه تیرَه ده . په دغه صورت کې یوازې د بشر حقوقو نه تلف کیږي ، بلکې پخپله بشر تلف کیږي او څوك یې غم نه خوري . پروفیسور ارمکورا چې افغانستان کې یې د بشر حقوق ولیدل نو لړمون خوړلی له دې ځایه لاړ او چې له دې ځایه لاړ نو د دې جهان نه هم پسې لاړ .

محترمو لوستونکو ! دا یوه پیښه هم د یادولو ده چې زموږ یو ملګری چې لوی عالم او پخپل مسلك کې رسیدلی شخص و،یوه اندازه د

زړه تکلیف یې لاره . دی به چې هره ورځ مؤسسې او د خپل کار ځای ته راته نو یوه نوې پیښه به یې لیدله چې د ده زړه او قلب ته به یې ضربه او ټکان ورکاوه او ځوریده به . کله به یې ولیدل چې د مؤسسې ظرف او فرش چور شو ، کله به یې ولیدل چې موټرې له مینځه لاړې او چور شوې ، د ونو وهل به یې ولیدل ، د نلونو ایستل به یې پخپلو سترګو ولیدل ، د کتابخانې تالا کیدل او سیځل به یې په سترګو شول او داسې نور نو ډیر به ځوریده او ورته کړیده به او په زړه به یې فشار راته ، تکلیف به یې ورځ په ورځ زیاتیدلو چې ډیر زر مړ شو ، د ده په قبر باندې د مؤسسې مشر په ښکاره سره وویل چې : دا عالم د دغو موجوده حوادثو شهید دی .

زموږ د مؤسسې چې یوه آباده او د جم وجوش نه ډکه مؤسسه وه څه غړي یې په راکټونو کې مړه شول ، څه یې له خپګان نه مړه شول ، څه خارج ته فراریان شول او څه یې په هیواد کې دننه نیست شول چې په دې ترتیب زموږ د مؤسسې دولتي ارګان د بشري قوې او پرسونل له حیثه هم کمزوري شو . دا خو ما د یوې مؤسسې حال او کیفیت بیان کړ نو په همدې ترتیب د نورو مؤسساتو حال درواخلئ چې لا اوس هم ورځ په ورځ پسې کمزوری کیږي او حال یې خرابیږي .

تاسې فکر وکړئ چې په دغه اخ وډب او چور وچپاول کې به څومره بشري حقوق پایمال شوي وي او څه بیخوندۍ به منځته راغلې وي . د بشر د حقوقو مراعات او درناوی په موږ باندې له ډیرو وجوهاتو نه لازم ګڼل شوی دی . لومړی پخپله سالم بشري طبیعت پخپله دا حکم کوي چې د انساني او بشري حقوقو درناوی ، احترام او ساتنه دې وشي ، طبیعت پخپل ذات کې قطع لحاظ د بل شي د لارښوونه د منافعو جلب او د مضراتو طرد او دفع غواړي چې په حقیقت کې همدا جلب او طرد د

بشر طبیعي حقوق دي او د بشریت تقاضا او غوښتنه ده .

هر انسان غواړي چې هوسا او آرام ژوند وکړي ، په ښیګڼو او منافعو کې محاط وي او د حیاتي ضروریاتو نه محروم نه وي او هم غواړي چې ونه ځوریږي ، ونه کړیږي ، ونه شرمیږي او اولادونه یې اختطاف نه شي ، په حقیقت کې همدا پورته محتوی د بشر د حقوقو تعریف ، حد او پیژندنه ده .

ټول خلك او د نړۍ ټول هیوادونه چې د بشر د حقوقو نوم اوري نو ښه وریاندې لګیږي او د طبیعت له مخې یې درناوی او احترام کوي ، منتها له ځینو خلکو او ځینو هیوادونو سره د بشر د حقوقو په تعریف او تحدید کې یو څه ملاحظات شته او په تعریف کې یې یو څه تصرف کوي ، خو چې یو ځل د هر چا له تعریف سره سم د بشر حقوقو ورته وویل شي بیا یې بلا استثنا هر څوك درناوی کوي او دا نوم وریاندې ښه لګیږي ، هو ! د هر چا په طبیعت دا نوم ښه لګیږي او هر څوك دا شی قولاً ستایي خو په عمل کې ځینی بدبخت او کمزوري وګړي شته چې خاورې وریاندې اړوي او پښو لاندې یې کوي .

په ژوند کې تل کله ناکله د بشر حقوق نقض کیږي او مراعات او درناوی یې نه کیږي ، خو د جنګونو او مرګ ژوبلو په وخت کې بیا زیات مختلف ورنه کیږي او یو طرف ته کیږي ، د توپونو او ټانکونو په لوګیو او دود کې له سترګو نه پنا کیږي او بیا هیڅ نه لیدل کیږي ، د قهر او د غضب په ډګر کې هیڅ ځای نه لری او چا ته په یاد هم نه ورځي ، دا خو د عامو جنګونو حال دی چې حقوق پکې نه ساتل کیږي . که راشو د افغانستان دغو وروستنیو جنګونو ته ، دلته بیا وضعیت بیخي بل ډول دی . د بشر حقوق په دوربین کې هم نه ښکاري او په دغه اخ وډب کې داسې خمیره شوې او خوسا شوې دي چې د

دوړې ورنه خيژي او بوی او انعکاس يې آن تر ملګرو ملتونو پورې رسيدلی دی . دغو وروستنيو جنګونو افغانان وشرمول او سپك يې کړل دغه جنګونه په هيڅ معيار باندې برابر نه دي ، ډير بيرحمه او بې تناسبه دي د يوې سپړې لپاره ټول پوستين په اور اچول شوی دی ، که د مقابل جانب يو سړی په کوم کلي يا تعمير کې ليدل شوی دی هغه کلی او تعمير تر هغه په توپونو او راکټونو ويشتل شوی دی چې يو کس پکې هم ژوندی نه وي پاتې شوی او کلي ټول نه وي ړنګ شوي .

نه پوهيږم دا ابتکاري جنګ چا رااېستلی دی او څوك يې ايجادګر دی بايد جايزه ورکړی شي او و « ګمانځل » شي ؟

تاسې پوهيږئ چې خوشحال خان په دې ارمان و چې په افغاني محدوده کې يو مستقل افغاني دولت جوړ شي چې افغان پکې خپلواك ژوند وکړي . د ده دا ارمان د ده د مرګ نه شپيته کاله وروسته لوی احمد شاه بابا پوره کړ او يو مؤقر او باعظمته افغاني دولت يې تشکيل کړ . دا موجوده افغانستان موږ ته د نوموړي بابا نه راپاتې شوی او دا نوم هم د ده له خوا ورباندې ايښودل شوی دی . دغه هيواد ښه نوم او ښه تاريخ لاره او په توره او شجاعت کې يې نوم تر ليرې ځايونو پورې تللی و ، ډير لوی عالمان او پوهان پکې تير شوي دي او ډير مجاهدين او غازيان پکې راپورته شوي دي ، دا د علم او پيرۍ او مريدۍ ټاټوبی و او له دغه ځايه ډير فيوضات خپريدل ، د پيرۍ په برخه کې لومړی د نجم الدين اخونزاده ( هډې صاحب «رح» ) نوم اخيستلی شو ، دی د دې خاورې بچی و او په دې خاورې مين و او دې خاورې ته يې ډير ډير خدمتونه کړي دي ، دی له يوې خوا لوی عالم و ، له بلې خوا پير و چې ډير زبردست مريدان يې لرل ، دی رښتيانی مجاهد او غازي و، چې استعمار سره يې ډير جنګونه کړي دي ، ده په جنګونو کې شخصاً برخه

اخیسته او قومانده به د ده په لاس کې وه ، کله چې جهاد ختم شو نو دی په جومات او خپل خانقاه کې کښیناست او دومره عزت یې پیدا کړ چې بادشاهان به حضور ته ورتلل او دعا به یې ورنه اخیستله او اوس یې هم دربار د خواصو او عوامو نه ډک وي . هو ! ده ملت او ولس ته خدمت وکړ خو ملت هم دی همداسې پرې نښود . د ده درناوی او احترام یې په زړه کې وساته ، د خلکو محبوب شو ، ښځو او نرانو په سندرو کې وستایه او ولسي شاعرانو په چاربیتو کې د ده مقام ، د ده کارنامې او د ده غزاګانې یادې کړې . په ادبیاتو کې د ده نوم خپور شو ، په کلیو او ښارونو کې په عزت یاد شو او د مرید انو او شیخانو سلسلې وریاندې راماتې شوې . د هډې صاحب په مریدانو کې ډیر لوی لوی ذوات شامل وو ، لکه : د شینوارو صوفي صاحب چې ده به ورته پهلوان وایه ، د سلامپور پاچا ، د بتخاك حضرت صاحب ، د تګاو اخونزاده صاحب ، د ترنګزو حاجي صاحب ، د چکنور ملا صاحب د سره رود حضرت صاحب او داسې نور ، دوی ټولو لنګر چلاوه ، دوی ټولو خپل دین ، خپلې خاورې ، خپلو خلکو او د بشر حقوقو ته خدمت کړی دی او خلك یې په سمه لاره روان کړي دي او صراط المستقیم یې ورته ښودلی دی ، د هډې صاحب او د ده د مریدانو په څنګ کې دې خاورې ته د موسهي اخونزاده صاحب او د ده مریدانو ډیرې ګټورې لارښوونې کړې دي ، د خلکو په اصلاح ذات البین کې یې هر اړخیزې هلې ځلې کړې دي او سمه روزنه یې په ولس کې خپره کړې وه . د موسهي اخونزاده صاحب دیني مکتب د هډې صاحب د مکتب نه یو مستقل مکتب و او دواړه مکتبونه د امربالمعروف او نهی عن المنکر په لار کې په سیالۍ او رقابت کې سره روان وو او د بشریت خدمت ته یې ملاوې تړلې وې ، د دغو دیني او لارښوونکو مکتبونو ترڅنګ یو بل

زوروور مکتب هم په دغه لار کې خدمت کړی دی . د شور بازار حضرت صاحب نورالمشایخ فضل عمر مجددي لارښود مذهبي مکتب و چې ډیر وسعت یی لاره او ډیر خلك او مریدان پکې وروزل شول ، د دغه مکتب پیروان او مریدان زیاتره د غزني ، شولگر ، کتهواز ، کلات ، کندهار او نورو او حتی مدرسې یی لرلې چې طالبانو او دیني پرسونل پکې تعلیم زده کاوه .

د پیرۍ او مریدۍ یو بل مکتب د حضرت نقیب صاحب مکتب و چې له نورو سره موازي روان و او ډیرو خلکو پکې برخه ومونده ، د دې مکتب پیروان او اخلاصمندان هم زیاتره د پښتني سیمو نه وو او ښه جم وجوش یې لاره .

د پیرۍ او مریدۍ د سلسلې سره موازي په افغاني خاوره کې د علم او تدریس سلسله هم جاري وه او په ټول هیواد کې مدرسین ملایان وو چې تدریس به یې کاوه . یوازې د لوگر په وادي کې په لسهاوو درسخانې موجودې وې چې ځوان نسل او دیني طالبان پکې تعلیم یافته کیدل او د وطن دوستی او دیني روحیه باندې روزل کیدل . په دغو مدرسو کې صرف ، نحو ، فقه ، تفسیر ، حدیث ، ریاضی ( علم الافلاك ) معاني ، عقاید ، اصول ، منطق او حکمت تدریس کیدل او ښه په مینه او شوق دا کار روان و . هرکال به بلا استثنا یوځل د پگړۍ تړلو مراسم په ځای کیدل . دغه مراسم به په ډیر جوش او گرمی اجرا کیدل او یو اسلامي جشن به و او د لیرو ځایونو نه به ورته خلك راتلل او حتی دغه مجلس سره به یی مالي مرستې کولې .

د دغې پورته اوږدې مقدمې او تمهید نه زما مطلب دا دی چې افغانستان د علم او عرفان ، د پیرۍ او مریدۍ ، د ارشاد او تنویر ټاټوبی و . د رڼا او چراغ مقر و ، نو ولې په داسې تیاره او ظلمت کې

ولوید او ولې داسې بیخونده شو . د بشر ښیګڼو او انساني ګټو لپاره ډیر کار ورته شوی و ، نو ولې بشر پکې خوار او ذلیل شو . ولې انساني حقوق پکې تلف شول او ولې بشریت ته په سپکه سترګه وکتل شول او ولې خلك وځوریدل ، وکړیدل او وسوځیدل . افغانانو روښانه او ښایسته دوره تیره کړې ده ، ټولو قومونو ، لکه د یوې کورنۍ او کوړمې غونډې ساعت او شپې او ورځې سره تیرې کړې دي او خارجي دښمنی ته ، لکه یو موټی په اتفاق سره ولاړ وو ، پښتون او هزاره ، تاجك او ازبك پکې نه و او ټول لکه وروڼه وو ، خو د ټوپك والاوو او مسلحو طاقتونو د غرور او شخصي ګټو له کبله اوس یو د بل دښمن ګرځیدلي دي او یو بل ته په کمین کې ناست دي او د بشر حقوق یې په ټوله مانا تلف کړل .

د علم او عرفان مقام ته ټوپك والاوو ونه کتل ، د پیرۍ او مریدۍ سابقې ته یې ونه کتل خو په راکټونو یې یو بل وویشتل او یو تربله یې داسې بیرحمه ګوزارونه وکړل ، لکه چې د یو هیواد خلك نه وي ، لکه چې په دین او مذهب کې سره جدا وي او لکه چې دوی په ټول عمر کې سره نه وي لیدلي او نه لکه د بیا لیدلو په تمه وي . دوی یو په بل ګوزارونه سره وکړل ، خو دوی پخپله پکې دومره ژوبل نه شول ، لکه چې ولس پکې ژوبل شو . هو ! دوه پیلان چې سره په جنګ شي حیف د کانو بوټو دی .

د افغانستان دا وروستني جنګونه چې د بشر حقوق پکې بیخي تلف شول پخپله نوعه کې له نورو جنګونو نه زیات متمایز دي او جنګونو ته ورته نه دي وحشت پکې له ورایه لیدل کیده . بې هدفه ګولۍ پکې چلیدلې ، خپل او پردي پکې مړه کیدل او جنګ څو ځلې خپل لوری پکې بدل کړ او د جنګ متحدین پکې څو ځلې بدل رابدل

شول . د کابل د نیولو په لومړی ورځ جنګونه پیل شول ، زه پخپله په کابل کې وم او په هغه محاذ کې زما کور و چیرې چې د جنګونو ثقل او زور و . دلته به هره ورځ او تقریباً هر ساعت جنګونه او تودې جګړې کیدلې چی خلک به پکې مړه کیدل ، کورونه به پکې ورانیدل او چور کیدل او د بشر د حقوقو خو پکې هیڅ پته نه وه . جګړې او نښتې یوازې په همدې ځای پورې محصورې نه وې ، په چاردهي ، د بابر په باغ ، خوشحال مینه ، سیلو ، پوهنتون او دوی ته ورڅیرمه ځایونو کې تودې وې او ډیر بیرحمه جنګونه وو ، حتی د نیولو شوو کسانو په سرونو میخونه ټك وهل شول ، مثله شول او ډیرې بیخوندۍ خلکو ولیدلې او حتی د ناموس مسألې ته پکې سپك وکتل شول او د افغانیت نه خلاف کارونه پکې مینځ ته راغلل چې دا دښمني به په عمرونو وخت ناوخت رابرسیره کیږي . د بشر حقوق پکې په ښکاره پایمال شول او هرې خوا خپله ملامتي په بلې اچوله او هیچا ځان ملامت نه باله .

دې جنګونو او شخړو او دې بیخوندۍ او اخ وډب ډیر دوام وکړ او ډیر خلك پکې ومړل او خلك پکی تنګ شول ، بې حوصلې شول ځکه له یوې خوا یو ځوك د ښار د یوې څنډې نه بلې ته نه شو تللای . قیمتۍ زیاتې شولې ، تجارت او تجارتي مالونه بند وو او له بلې خوا توپې غړمبیدلې ، ټانکونو غرهار کاوه او د جنګ میدان تود و او ځوك نه پوهیدل چې څه وکړي او د ښار نه تدریجي مهاجرت او لیږد پیل شوی و او خلك ډیر سرګردانه او حیران وو او انسان ته هیڅ ارزښت نه ورکول کیده او هیڅ بشري حقوق په نظر کې نه نیول کیدل .

جنګونه ډیر او هره ورځ وو ، نه جنګونه خلاصیدل او نه وسلې خلاصیدلې او نه ټوپکوالا او نه وسله وال ستړي کیدل ، بلکې انرژي یې ورځ په ورځ زیاتیده او د خپلې فتحې چیغې به یې وهلې . دغو

جنگونو او بې معیاره جگړو خو خلك وځورول ، مړه یې کړل او په کړاو یې اخته کړل ، خو له بلې خوا تنظیمونو هم خپل هر څه له لاسه ورکړل او هغه محبوبیت یې چې له ځینو خلکو سره لاره هغه یې په بغض او کینه بدل کړ . خلکو به ویل : خدایه ! مجاهدین راولې او په جوماتونو کې به یې دعاگانې کولې ، خو چې کله دوی راغلل او بیخوندي یې شروع کړه او چور او چپاول یې وکړ ، نو هر چا به ویل چې : خدایه ! زما خوله ماته کړې چې ما به وریاندې د تنظیمونو د راتگ دعا کوله . زه په کابل کې وم او لومړی د خلکو دعاگانې تنظیمونو ته او بیا دوی ته ښیرې ما څو څو ځلې واوریدلې او حتی دا خبره عامه او مود شوه چې زما خوله د ماتولو ده . په دغه وخت کې د سولې هیئتونه لرېر شول ، خو فایده یې ونه کړه او مأیوس لاړل .

په دغو جنگونو کې د حضرت صاحب د جمهوري ریاست دوره تیره شوه . د پروفیسر رباني د جمهوري ریاست هغه څلور میاشتې هم تیرې شوې چې د پیښور جرگې او معاهدې ورته ټاکلی وې . په دغه وخت کې یو څه امید او هیله پیدا شوه چې نوموړی استاد به پخپل وخت استعفا وکړي او د جمهوري ریاست د مقام نه به گوښه شي او تنظیمونه به په اتفاق نوی مشر وټاکي او ټول به وریاندې راټول شي ، خو د خلکو د هیلو برخلاف استاد استعفا ته حاضر نه شو ، په داسې حال کې چې فضا خړه پړه وه ، د هیواد په گوټ گوټ کې جنگونه روان وو ، د کابل ښار په څلور پنځو برخو ویشل شوی و استاد رباني اعلان وکړ چې خوند یې ښه دی راتله یې ، بیا د جمهوري ریاست لپاره کاندید شو او د ( اهل حل وعقد ) د غونډې په ذریعه د دوه نورو کلونو لپاره جمهور رئیس شو .

په دغه وخت کې جنگونو او شخړو ښه زور واخیست چې د خلکو

او د کابل د اوسیدونکو جدز پکې وووت . خلك په دې شول چې دوی بوازې په جنگونو کې ساعت تیرولې شو او بې جنگه ژوند خوند نه ورکوي او دوی یوازې همدا شی زده کړی دی او همدا یې حرفه او کسب دی .

نه پوهیږم داسې امارت چې د حقارت او دایمي جنگونو سره مل وي څه خوند به کوي او څومره گټه به ولري . په دغه وخت کې د جنگ او شخړو زوره یوې سیمه ییزې ډلې په غاړه واخیسته او په اخلاص جنگونه یې کول او تقریباً د کابل اداري زیاتره اختیارات له همدوی سره وو . دوی جنگ مخ په وړاندې بیوه او د بشر د حقوقو او د انسانانو د تلفاتو چندان پروا یې نه ساتله ، ځوانانو یې جنگونه او جگړې کولې او دا بعد یې مخ په وړاندې بیوه او پاخه او زاړه نسل یې د خلکو شخصي او دولتي مالونه ټولول او جمع کول . دا کار دوی په زور نه کاوه د پوره مهارت نه یې کار اخیسته . د هغو کورونو مالونه یې چور کول چې څوك به پکې نه وو ، او د حکومت د هغو دفترونو او دوایرو مالونه یې وړل چې هلته به دغه سیمه ییزه ډله مسلطه وه ، ځانونه یې داسې سکاره نه رسوا کول . دوی ډیر مالونه جمع کول ، ډیرې پیسې یې غونډې کړې ، موټرې ، یخچالونه ، تلویزیونونه ، ویدوگانې او ټایپونه یې یووړل ، قالینې او قیمتي سامانونه او شیان یې ټول کړل ، مگر بالمقابل ډیر ځوانان یې د لاسه ورکړل او بشري قوه یې ضایع شوه . سه ! که دغه مالونه او انساني ضایعات سره مقایسه کړو تاسې قضاوت وکړئ چې دوی په گټه کې دي که په تاوان ؟

د دې سیمه ییزې ډلې د جنگي ماشین لارښود له هغه وخت نه چې په کابل راننووت ، نو تراخره پورې ټول اختیارات د ده سره وو ، ده خپلو خلکو ته مادي خدمت وکړ ، خو د دوی آینده یې په خطر کې اچوله . دوی غوښتل چې په ټول افغانستان باندې د دوی حکومت وي

خو عقلاً داسې نه شي کیدای ، دا کله کیدای شي چې د یوې محدودې سیمې خلك دې د ټول هیواد اختیارات په لاس کې واخلي . تر یو وخت پورې دوی دا کار وکړ ، خو دوام یې ورنه کړای شو او د ګټې په ځای یې تاوان وکړ . خلك باید تودې ګټې ته چې ورروسته ورپسې ډیر زیان راځي زړه ښه نه کا ، لیرې او اوږد فکر په کار دی . په حساسو او کلیدي ځایونو باندې د دوی قبضه وه ، بانکونه او رادیو تلویزیون او ټول فوځي او نظامي چارې دوی سنبالولې او حتیٰ د جمهور رئیسانو ویناګانې دوی سانسورولې . نورو عالیرتبه ذواتو هسې سمبولیك بڼه درلوده . زه پخپله په کابل کی وم او دا کارونه مې لیدل . دلته د بشر حقوقو د پښو لاندې کیدل او هیچا خپل حق ترلاسه کولای نه شو .

د اهل حل وعقد له پریکړې سره چې برهان الدین رباني ته یې دوه کاله نور وخت ورکړ زیاترو تنظیمونو مخالفت وکړ او جنګونو داسې زور وکړ چې کابل په اور کی وسو او د بشر حقوق پکې په ټوله مانا د پښو لاندې شول . یوه ورځ زه په لوړه غونډۍ ناست وم او د ښار منظرې ته مې کتل چې لوګي ترې نه ختل او ځای په ځای اورونه او سرې لمبې پکې ښکاریدلې ، زما په څنګ کې لر وربیرته یو ملیشه هم ناست و او هغه هم ښار ته کتل چې دا خبره یې د خولې نه وختله : « کابل جان سوخت » . رښتیا هم کابل جان په اور کې سوځیده او جګړه مارو ډلو هیڅ د مسؤولیت احساس نه کاوه او نه د چا د ځان او نه د چا د مالونو او کورونو په فکر کې وو . دوی یوازې په دې فکر کې وو چې څرنګه مقابل جانب مات کړي او ځان فاتح راوباسي . تنظیمونو په دغو جنګونو او جګړو کې ډیر څه د لاسه ورکړل ، ښه سرتیري یې چې په لومړي صف کې به جنګیدل هغه په جنګونو کی مړه شول ، وسلې یې ضایع شوې او دوی شك نه شته چې کمزوري شول .

هو ! تنظیمي اداري ته د پخواني دولت نه بی شمیره او بیخرته وسلې راپاتې وې چې هیڅ کمې یې نه لاره او دې نورو تنظیمونو د اطرافو نه وسلې د جنګ میدان ته راوړلې او د کمزورۍ احساس یې نه کاوه ، خو په مجموع کې تنظیمونه کمزوري کېدل او په غیر مربي ډول یې پانه زیږېدله . د ځینو خلکو په وساطت او منځګړیتوب د تنظیمونو مشران اسلام آباد ته ورغونډ شول او هلته جرګه شول او پریکړه او فیصله یې وکړه چې رباني به د اتلسو میاشتو لپاره جمهور رئیس وي او په دغه موده کې به حکمتیار صدراعظم وي ، ټولو دغه فیصله ومنله ، حضرت صاحب په دغه فیصله راضي او قانع نه و ، خو له ناکامه یې ومنله او مولوي صاحب خالص وویل : د دغې پریکړې نه د وینو بوی راځي او هغه یې نیمګړې وبلله .

له دغې فیصلې نه وروسته چې دنیا ته وښیي چې موږ ورباندې خوشحاله یو نو په ګډه مکې معظمې ته لاړل او له هغه ځایه بیا د ایران د دولت په بلنه تهران ته لاړل او تظاهر یې کاوه چې موږ سره جوړ یو مګر داسې نه وه د دوی په زړو کې سختې عقدې وې او په دومره لنډه موده کې هغه لیرې کیدای نه شوې .

د دې فیصلې عیب دا و ، چې د اختلاف وړ ټکی پکې توضیح شوی او روښانه شوی نه و چې هغه د دفاع وزارت چوکۍ وه . استاد رباني داسې فکر کاوه چې د دفاع وزارت چوکۍ خو د ده د تنظیم ده . هیڅ وخت د دې چوکۍ سړی نه شي بدلیدای ، خو صدراعظم بیا په دې فکر کې و چې صدراعظم زه یم ، وزیران به زه انتخابوم ، د دفاع د وزیر انتخاب زما کار او زما اختیار دی ، دوی دواړه په چل کې وو او صادق نه وو .

کله چې دوی د ایران نه بیرته هیواد ته راغلل او د کابینې خبرې

مینځ ته راولویدي نو د اختلاف ټکي بروز وکړ ، رباني په ښکاره وویل چې : د دفاع په چوکۍ خبرې کیدای نه شي . صدراعظم ورسره اختلاف وکړ او دا کار یې د قبول وړ ونه باله .

د دفاع په چوکۍ باندې بیا جنګونه او جګړې پیل شوې او د یوې چوکۍ په سر باندې دومره وینې توی شوې چې تصور یې نه کیده او هغه د مولوي خالص پیشګویي یا پیشبیني رښتیا شوه چې ویلی یې وو : د دې پریکړې نه د وینو بوی راځي . د دغو شخړو په جریان کې د ننګرهار جهادي شورئ وساطت وکړ او ټول مشران یې جلال آباد ته راوستل . دلته دوی سره واخیستل او کینوودل او تاوده بحثونه یې سره وکړل ، خو په دغه یوه چوکۍ سره نه جوړیدل . مشرانو غوښتل چې دغه غونډه بې نتیجې اعلان کړي او بیرته د جنګ صحنې ته وروګرځي ، خو دا د خلکو خبره ده چې حاجي قدیر او حاجي شمالي مشرانو ته اخطار ورکړ چې بې له کومې فیصلې نه د غونډې د کوټې نه نه شي وتلای او یرغمل یې ونیول ، تقریباً شل شپې او ورځې په دغه یوه چوکۍ باندې تیرې شوې . دوی د خلکو مشکلاتو ته نه کتل ، دوی په چوکۍ پسې مړه وو . په دغه ترڅ کې څو ځلی هیئتونه کابل ته ورغلل . په آخر کې یوه نیمګړې فیصله وشوه . ګرانو لوستونکو ! زه تاریخ نه لیکم ، زه د جنګونو تابلو ترسیموم ، د هغو جنګونو چې زه پخپله هلته وم او هر څه مې پخپلو سترګو لیدل .

د جنګونو په وخت کې د خلکو سره د سر او مال ویره وه او چې جنګونه به سست شول ، نو خلکو سره به د ګیډې سودا وه ځکه چې نرخونه ډیر اوچت وو . خلکو او د کابل اوسیدونکو هسې قوت لایموت کاوه او په لږ.څه یې ساعت تیراوه ، خلك ډیر خوار شول ، زیړ زبیښلي شول او په لارې به چې تلل پښې به یې سستې سستې کیدلې ، تا به

فکر کاوه چې کارتوني په لارې روان دی . آیا چې خلك د تنظیمونو له لاسه داسې ژوند کوي دا به د بشر د حقوقو نه تیری نه وي او په خلکو به زور زیاتي بیځایه نه وي ؟

د جلال آباد د نیمگړې پریکړې نه وروسته یو څه آرامي راغله او د صدارت مقام چهارآسیاب ته نقل شو . د صدارت اختیارات ډیر محدود وو او صدراعظم ماښیجن معلومیده ، د جنگونو او جگړو په دغه اوږده موده کې د کابل متمول ښاریان د هیواد نه ووتل او د چا سره چې د لاری خرڅ نه و هغوی له ناکامه پاتې شول ، ژوند ډیر تنگ و او د بشر د حقوقو نه همداسې مسلسل تیری کیده ، یوازې ټوپکوالاوو ښه ژوند کولی شو ، د نورو ژوند ، ژوند نه و هسې گند و .

تنظیمونو د خپلمنځي جنگونو او جگړو پړه د پخواني رژیم په عمالو اچوله او ویل به یې چې دوی زمونږ په لیکو او صفونو کې راننوتي دي او مونږ یې په دغه بدبختی اخته کړي یو او هر تنظیم به ویل چې : د هغه بل سره خلقیان یا پرچمیان دي او خپل ځان هیچا نه ملامت کاوه . یوه ورځ زه د مکروریان له پله سره ولاړ وم چې یو ټوپکوالا د بلاك نه راښکته شو او لاندې سیند ته ورکوز شو اودس یې وکړ او بیرته چې سړك ته راوخوت نو ما ورته وویل : دا اوبه خو ناولې دي ، په دې کله اودس کیداي شي ؟ ده راته وویل : « دا کمونستان دې خدای خوار کړي چې مونږ یې سره په جنگ اچولي یو ، د جنگونو او زمونږ د بی اتفاقیو او بیگاړیو له کبله هر څه ویجاړ شوي دي ، په بلاکونو کی اوبه او بریښنا نه شته ، هر څه گډوډ دي له مجبوریته دلته راغلم او اودس مې وکړ ، خدای دې قبول کا » .

ما ورته وویل : زه به یوه خبره درته وکړم که اجازه وي . ده په ښه لهجه راته وویل : شل ځلې خو یې وکړه . ما ورته وویل چې : خلك

خو مړه زان او چرګان په جنګ اچوي ، دا کمونستان څنګه خلك دي چې انسانان په جنګ اچوي او انسانان ولې دومره ساده شي چې نور یې په جنګ واچوي . ده ماته وکتل او د بلاك په لور په داسې حال کې چې ملامت معلومیده په بیړه روان شو . کور یې ودان چې په ما یې ټوپك را وانه ړاوه او که نه زما بدل بیا چا ورنه اخیست او چا زما د مرګ پوښتنه کوله . هو ! « د سیند نه چا مړي ګټلي دي » . زه خپل ځان ته کله کله ساده وایم ، خو په دغه ورځ مې یقین راغی چې رښتیا ساده یم ، د یو ټوپکوالا سره په داسې وخت او داسې شرایطو کې داسې خبرې څوك نه کوي .

زه هغه څه تاسې ته وایم چې ما پخپله لیدلي دي او په ما تیر شوي دي هسې په هغه او دغه ستاسې وخت نه ضایع کوم . اوس اجازه راکړئ چې یوه بله قصه هم تاسې ته وکړم چې په همدې موضوع پورې ربط لري .

څه وخت چې صدارت چهارآسیاب ته نقل شو نو یوه اندازه کراري راغله او وزارتونو او مؤسساتو په کار پیل وکړ . یوه وزیر صاحب څو تنه لیکوالان او د صحافت په چارو کې تجربه کاران او ماهران خپل حضور ته وغوښتل چې د هغو په جمله کې یو زه هم وم ، وزیر د مجاهدینو له جملې نه و ، په ورین تندي یې زموږ هرکلی وکړ او په شونډو کې یې خندا وه او داسې معلومیده چې ښه ظریف شخصیت دی .

د دغه وزارت نه یوه مجله خپریدله ، موږ یې راغوښتي وو چې مجلې سره مرسته وکړو ، مضامین ورته ولیکو او اجندا ورته برابره کړو . کله چې د مجلې په باره کې خبرې خلاصې شوې نو وزیر صاحب وویل چې : راځئ یو څه آزادې خبرې وکړو ، یو څه ټوکې وکړو چې طبیعت مو ښه شي او د ډوډۍ تر تیاریدو پورې وخت لرو .

ده د تنظیمونو په موجوده وضع باندې صراحتاً انتقادونه وکړل او ځینو مشرانو ته یی اشاره وکړه چې روغ کارونه نه کوي . ده وویل : په پخوا زمانه کې یو سړی مړ کیده نو زوی ته یې وصیت وکړ چې : دا دوه سوه روپۍ واخله او په دنیا کې دې چې ساده سړی ولید هغه ته یې ورکړه . د پلار د مرگ نه وروسته هغه دوه سوه روپۍ واخیستې او ساده سړي پسې گرځیده چې بالاخره په یو ښار باندې راپیښ شو چې ډز او ډوز پکې روان دی او ښار په څو برخو ویشل شوی دی او د ښار په یوه برخه کې یو سړي بیرغ پورته کړی دی او د بادشاهی اعلان یی کړی دی . سړي روپۍ راواخیستې او د دغه بادشاه په مخکې یې کیښودې ، بادشاه ورته وویل چی : دا څه کوی ؟ سړي ورته وویل چې : د خپل پلار وصیت په ځای کوم . هغه راته ویلي وو چې دا دوه سوه روپۍ واخله او په دنیا کې چې هر څوك درته ساده ښکاره شو هغه ته یې ورکړه . زه چې وگرځیدم له تا نه مې ساده ونه لید چې له یوې خوا ښار په څو برخو ویشل شوی دی او له بلې خوا جنگونه پکې روان دي او په داسې اوضاعو او شرایطو کې تا د بادشاهی اعلان کړی دی او ځان بادشاه بولې .

په دې قصه باندې ملگرو ټولو وخندل ، چا ډیر او چا لږ ، چا په زوره او چا په کراره .

وزیر صاحب وویل چې : دا خو یوه افسانوي قصه وه ، زه به د خپل وزارت یوه واقعي قصه هم درته وکړم . ده وویل : یوه ورځ د مامورینو مدیر ماته راغی او زه ځانله په کوټه کې ناست وم ، ده راته وویل چې : د مامورینو ټایپسته یوه خرابه ښځه ده په مجاهدینو پسې خرابې خرابې خبرې کوي او دا دی ما پیشنهاد کړې دی چې هغه برطرفه شي او ته یی لاسلیك کړه .

ما ورته وویل چې : مدیر صاحب ! هغه ټاپسته څه وایي او څرنګه خرابې خبرې کوي ؟

ده راته وویل : هغه وایی چې ځینې تنظیمي مشران قاتلین دي ، تنظیمیان ټول چور وچپاول کاندي ، د خلکو کورونه یی وران کړل ، ښځې یې بورې او کونډې کړې او پاټکونه یې جوړ کړي دي خلك یې د پیسو نه خلاص کړل او خپل جیبونه یی ډك کړل او همداسې بدې بدې خبرې کوي .

ما ورته وویل : خدای پاك خو حاضر دی ، رښتیا ووایه چې دا ښځه دروغ وایی که حقیقت ؟

ده ماته وکتل ، وارخطا شو او وې ویل : رښتیا خو وایی .

ما ورته وویل : ته فکر وکړه چې یوه ښځه رښتیا او حقیقت وایي او زه او ته یی برطرفه او لیرې کړو ، دا به د خدای پاك په نزد خیانت او ګناه نه وي او موږ به د خدای(ج) په حضور کې څه ځواب ووایو ؟

ده ویل : ښه ده پاتې به وشلوم او پاتې او پیشنهاد یې زما له میز نه بیرته واخیست .

دغو خبرو په مجلس ډیر تأثیر وکړ او تاسې یقین وکړئ چې موږ ټول سره ورپیدو او ټول چپ شوو او په مجلس یو نوعه سکوت او خاموشي راغله .

په دغه وخت کې یو سړی چې لباس یی خوارزکی و رانووت او وې ویل : ډوډۍ تیاره ده .

وزیر صاحب د مجلس نه ښښنه وغوښته چې ستاسې وخت مو ضایع کړ . د مجلس غړو په اتفاق سره ورته وویل : خدای دې خیر درکړي ، کاشکې ټول مشران او وزیران همداسې وای .

په دغه وخت کې چې صدارت په چهارآسیاب کې و او د وزیرانو

پټې غونډې هلته کيدلې ، کله کله به بيا هم يو ځای او بل ځای محلي جګړې کيدلې او پوره کراري نه وه ، خو داسې معلوميده چې دا جګړې د لوړو مقاماتو له خوا نه رهبري کيدلی ، دا د ټوپکوالاوو يو سازش او چل و . په کوم ځای کې به يې چې وليدل چې مالونه او پيسې دي ، هلته به يې ډز او ډوز پيل کړ ، خلك به وتښتيدل ، دوی به ورغلل او هغه ځای به يې چور کړ .

يوه ورځ همداسې د شهزاده په سرای باندې څو راکټونه ولګيدل ، ځوك مړه شول او ځوك وتښتيدل او سرای چور شو چې زياتره مالونه پکې د هندوانو وو . خلکو په ويره کې ژوند کاوه ، دوی حق لاره چې په امن او آرام کې ژوند وکړي ، خو داسې نه کيده او د بشر دا حق په کلي توګه سلب شوی و او هيچا يې پروا نه لرله .

په دغه وخت کې نسبي آرامي وه خلکو چې څه دارايی او پيسې پيدا کړې وې هغه يې يې خارج ته نقل کړې او د نړۍ په بانکونو کې يې واچولې او هم يې د نړۍ مشهورو کمپنيو ته د لکسو موټرونو فرمايشونه ورکړل . په خارج او داخل کې يې ماڼۍ جوړې کړې او دغه په شمار يو څو کسان د سنه ژوند څښتنان شول او سنه سرمايه داران او ماړه شول ، خو بيا هم قناعت يې نه کاوه او هر څه ته يې لاس اچاوه او د خلکو په حقوقو يې تيری کاوه .

د ټوپکوالا او وسله والو کسانو ډير بدکار په لويو او فرعي سړکونو باندې ځای په ځای د پاټکونو جوړول وو ، دغه کار د دوی نوم ډير بد کړ او خلکو ورسره کينه واخيسته او خپل شهرت او محبوبيت يې بايلود .

زموږ د هيواد خلك د پاټك او کباړ له نومونو سره نااشنا وو او دا دوه نومونه زموږ خاورې ته نوي راغلل ، کباړ هر څه له مينځه يوړل او په هيواد کې يې د اوسپنې په نامه هيڅ شی پرې نه سنود ټول يې

خارج ته وتښتول ، ډېر دولتي روغ او جوړ شيان ويجاړ شول او په کباړ کې ليلام شول ، خلك وايي چې حتى هليکوپټرې چې فعالې وې هم د کباړ په ميدان کې کيناستې او د کباړ جز وګرځيدې . ځانکونه په مينونو والوځول شول او د کباړ بازار ورباندې تود شوی دي .

يوه ورځ زما يو ميخ په کار و چې په ديوال کې مې ټك واهه ، د کور خلکو راته وويل چې ميخونه نه شته ، ما ورته وويل چې دلته به ډېر ميخونه وو ، هغوی راته وويل چې : ماشومانو ټول کباړ ته وړی دي يو ميخ هم نه شته . سبه ! چې يو ميخ پاتې نه وي نو تاسې څه فکر کوئ چې څه شی به پاتې وي ، هو ! د کباړ او پاټك لفظونه نوي دي او په غوږونو ډېر بد لګيږي او څوك چې د پاټك حد ته رسيږي ضرور يې زړه ربيږي .

زما د ملګري موټر پنچر شوی و او پنچر په ګراج کې ولاړ و . ټاير يې ترې نه راوايسته ، په لاسی کراچی کې يې واچاوه او د پنچرۍ دوکان ته يې يوړ او چې بيرته يې راوړ ، نو د فرعي سړك پاټك والا ورته وويل چې : واچوه پنځه زره . زما ملګري ورته وويل : دا زما د خپل موټر ټاير دی پنچري نيولو ته مې وړی و ، اخيستی مې نه دی زوړ ټاير دی . هغه ورته وويل : خبرې ډېرې مه کوه پيسې واچوه . ده ورته وويل : پيسې نه درکوم . دواړو سره لاس واچاوه او چنګاو شول ، زما ملګری بوکسمين و او يو څو بوکسه يې ووهه ، هغه د ټوپك په کونداغ زما ملګری يو څو کونداغه ووهه ، ډيره توده جګړه پيل شوه ، ډېر خلك ورباندې راټول شول او هر چا پوښتنه کوله چې څه خبره ده او جنګ په څه دی ؟ په دغه وخت کی د ټوپکوالاوو قوماندان وارخطا او په قهر راورسيد او د ماجرا او د دې تاوده جنګ پوښتنه يې وکړه . زما ملګري ورته وويل : ما خپل ټاير د پنچري لپاره دوکان ته وړی و او

دی را نه پیسې غواړي . قوماندان زما ملګري ته وویل : که ته د فلاني زوی نه وای ما به بندي کړی وای ، د هغه په سترګو مې وبخښلې څه ورك شه . په دې ماجرا ختمه شوه .

سبه ! چې یو سړی پخپل مال دومره وځوریږي او وکړیږي ، دا به د بشر د حقوقو نه تیری نه وي ؟ د هرې منډیي په خوله کې ټوپکوالا ولاړ وي ، که چا سودا پخپله د ځان سره اخیستې وي هغه ته څه نه وایي او که چا په جوالي یا لاسي کراچی اچولی وی ، نو بیا پیسې ورنه اخلي . سودا والا په ډیر عجز ورته وایي چې له یوې خوا ډیره قیمتي ده او له بلې خوا تاسې نیغ ولاړ یاست . هغوی ورته وایی : مونږ څه وخورو .

دا شکایتونه خلکو د تنظیمونو مشرانو ته بیا بیا کړي دي ، هغوی چندان غوږ ورباندې نه دی ګرولی او په ځواب کی وایی چې تنظیمونه ټوپکوالاوو ته معاش نه شي ورکولای نو که دا کار هم ونه کړي نو څه وکړي او را نه تښتي .

ګرانو لوستونکو ! تاسې ووایئ چې دا ځواب په ځـای دی که څنګه ؟ ټوپکوالا چې د خلکو په غوښنو ساتل کیږي آیا دا د بشر د حقوقو نه تیری نه دي ؟

ګرانو لوستونکو ! حوصله تنګه نه کړئ یوه پیښه یا یوه قصه بله هم درته لیکم چې پخپله زه پکې شاهد یم .

زما دوستان وو چې منور ، پوه او د علم څښتنان وو . دوی دواړه پخپل مینځ کی یو تره او بل وراره وو او دواړه په کابل کی په راکټونو شهیدان شول . دوی د کامي د بازیخیلو وو او هلته نقل او دفن شول . زه د دغو دوستانو فاتحې ته کامي ته ورغلم او چې بیرته ورنه راتلم نو په سرای کی د سورلۍ موټران نه وو ، تللي وو . زه له ناکامه د

يوې چکلي په سيټ کې کيناستم چې تيل يې بار کړي وو او د جلال آباد ښار ته يې راوړل ، موټروان د خپله جيبه پيسې راوايستې او ماته يې راکړې چې دا وګڼه زما لاس بند دی ، ما چې حساب کړی درې نيم لکه وې ، ده وويل : دا پيسې مې ترښاره پورې رسولای شي .

موټر چې د سنګر سرای نه څو قدمه راتير شو نو ټوپکوالا ورته مخې ته ودريد چې څه شی دې بار کړي دي ؟ موټروان په خواره خوله ورته وويل چې : تيل مې رابار کړي دي . هغه ورته وويل : قاچاقي مالونه ورې واچوه يو لك افغانۍ . موټروان پسته خوله لرله او چاپلوس معلوميده ، نو په نرمه غاړه يې ورته وويل : غريب يم ، د غريبۍ نه دا کار کوم ، يو لك زه ورباندې ګټلی هم نه شم . يو څه پيسې يې په لاس کی ورکيښودې ، هغه چې ورته وکتل وی ويل چې دا بيرته واخله لږې دي . موټروان يو څه نورې هم په جيب کې ورکيښودلې او هغه يې يو څه قانع کړ . دغو خبرو چې واخله او نه يې اخلم او دغې لانجې تقريباً شل دقيقې وخت ونيو او همدومره وخت په هره پوسته کې تيريده .

لږ وړاندې چې راتير شو بل ټوپکوالا سړك ته راووت او لانجه يې بوخته کړه ، دا لانجه چې ختمه شوه او څه وړاندې راغلو بل راپورته شو ، او همداسې پسې بل راپورته شو چې بالاخره د کامې پله ته راورسيدو ، دا پوسته ډيره په قهر وه او هيڅ نه قانع کيده ، خو موټروان هم د لويې حوصلې څښتن و ، په کنځلو او منتونو او رټل کيدلو هيڅ نه متاثره کيده او داسې معلوميده چې د دغو شيانو په مقابل کې يې معافيت لاره ، دلته يې يو څه پيسې زياتې ورکړې او چې د پله دې بل سر ته راغی نو هلته بله پوسته وه يعنی د پله دواړو غاړو پوستې وې ، دا پوسته لږه ښه وه او له موټروان سره يې داسې لږه اشنايي لرله موټروان ته يې وويل : هغه زموږ تيل دې راوړي دي ؟ ده ورته وويل :

هو ! راوړي مې دي او يوه ګيلنه يې ورکړه ، نه پوهيږم چې څومره تيل به پکې وو .

د کامې له پله نه چې راتير شوو هلته ( درې سړکه ) ده چې يو سړك د کونړونو نه راغلی دی او د کامې له سړك سره يوځای کيږي . په دغه درې سړکه کې ما او موټروان د مازيګر لمونځ وکړ ، موټروان د لمانځه نه وروسته لاسونه پورته کړل او په زوره يې وويل چې : خدايه موږ په خير سره د دغو پوستو نه خلاص کړې ، که څه هم زما قصابان او موټروانان سره نه راځي ، خو په دغه موټروان مې زړه وسو چې ډير ستړی او لالهنده شو او پيسې يې هم د جيب نه ووتې .

په دغه وخت کې چې موږ لمونځونه کول ، په دې فکر وم چې کوم د سورلۍ موټر به د کونړونو له خوا نه راشي او زه به پکې جلال آباد ته لاړ شم او د چکلې د لانجې نه به خلاص شم .

له بده مرغه يو موټر هم رانغی ، يوازې يو دوه ډاتسنې راغلې او ډيرې تيزې تيرې شوې او زما اشارې ته يې هيڅ پروا ونه کړه . داسې معلوميده چې دا د قومندانانو موټر و ، نور څوك يې له ځان سره نه وړل .

د لمانځه نه وروسته موټر راروان شو او موټروان ډيرې کلمې له ځان سره ويلې ، په بهسودو کې چې لږ پورته راتير شو ټوپکوالا د غار نه راووت او موټر يې ودراوه ، موټروان هماغه مداريتوب د دوی سره هم شروع کړ او ځان به يې ورنه په يو څه خلاصاوه . په بهسودو کې نسبت کامې ته پوستې لږې وې او بالاخره د بهسودو پله ته راورسيدو . دلته هم د بهسودو په پله دوه پوستې وې ، يوه يې په يوه سر کې او بله يې په بل سر کې واقع وه ، د موټروان هغه درې نيم لکه افغانۍ د پله د اولې پوستې پورې وشوې او نورې خلاصې شوې . موټروان د موټر د سيټ چت ته لاس ورپورته کړ او هلته يې د يوه سوري نه

څه پیسې راویستې او وې ویل : دوه پوستې لا نوری هم پاتې دي ، یوه د پله په هغه بل سر کې او بله د بانک سره نژدې واقع ده . د پله بل سر ته چې راغلو ، پیسې یې ورکړې او همداسې په ښار راننوتو ، د بانک برخې ته چې راغلو ناوخته و ، د پوستې والا پاڅېدلي وو د موټر مخې ته راپورته نه شول . موټروان خوشحاله شو او وې ویل چې: د دې پوستې په پیسو به کړایي وخورم . موټروان ځانله و کلینر یې نه لاره . د ماخوستن اته بجې وې چې د سپین غر سینما ته راورسیدو ، هلته یې موټر ودراوه او ما ورنه مخه ښه واخیسته .

ښه دوستانو ! چې یو موټروان دومره څورېږي ، دومره په تکلیف کېږي او دومره تاواني کېږي دا به په انساني حقوقو تیری نه وي او د انسان او بشر کړېدل او رنځېدل به نه وي . دا ټول د پاټکونو د لاسه ، د پاټک نوم چې څوک اوري کانګې ورځي او نفرت ورنه کوي .

ګرانو لوستونکو ! زه چې د کامې نه بیرته راوګرځېدم په راسبا شپه یې د جلال آباد یا په بله ژبه د ننګرهار د جهادي شوری نطاق د امریکې غږ ته وویل چې : پاټکونه مو د خپلې سیمې نه ټول کړل او په خلکو مو اساني راوسته . په هماغه وخت کی د امریکی غږ نماینده ښاغلی سعدالدین شپون د پیښور نه جلال آباد ته راغلی و او دا خبره یی تایید کړه چې په لار کی پاټکونه نه وو ، ماته د دوی په ویناوو خندا راغله . هو ! په پاخه سړک چې د تورخم نه جلال آباد ته راغلي دی تظاهراً یو څه سهولت به و ، ښاغلی شپون باید د کامې او د بهسودو لار هم کتلی وای چې هلته څو پاټکونه او پوستې پرتې وې او خلك څومره څورول ؟

ګرانو دوستانو ! کله چې د کندهار په سیمه کې طالبانو خپل حرکت پیل کړ نو لومړی یې د پاټکونو په لیرې ګولو پیل وکړ ، دوی

چې د پاټکونو د بندولو غږ پورته کړ په خلکو او ولس دا غږ ښه ولګید او د دوی ترځنګ ودریدل ، طالبان نور زړه ور او تشویق شول او همداسې مخ په وړاندې روان شول ، البته د دوی د بریاوو او موفقیت علتونه ډیر وو ، خو لومړی علت او سبب یی دا و چې دوی داسې غږ پورته کړ چې د خلکو د زړه زنګ یې لیرې کړ او خلك ورسره همنوا شول . دا وې د پاټکونو په باره کې یو څو خبرې چې ټوپکوالاوو زمونږ خاورې ته راوړل او دلته یې خلك وړاندې وځورول .

د ټوپکوالاوو او وسله والو ډلو کیسې زښتې ډیرې او بیخرته دي او ټولې د دې نه حکایت کوي چې دا خلك د بشر د حقوقو هیڅ پروا نه کوي ، د انسان او انسانیت په غم کې نه دي یوازې خپلې ګیډې ډکوي ، د مالونو په لوټ کولو کې کله کله د دوی په مینځ کې تصادم پیدا کیږي . په جګړو سره اخته کیږي او د دوی په خپلمنځي اخ ودب کې ډیر انسانان متضرر کیږي ، ډیر خلك مري ، میندې بوربوري ، ښځې کونډیږي او د یتیمانو شماره زیاتیږي .

وسله والې ډلې او ټوپکوالا ټوله ورځ ګرځي او ځان ته ښکار پیدا کوي ، د ورځې له خوا ځای په نخښه کوي او د شپې له خوا حمله وړاندې کوي ، خو کله کله خپل هدف خطا کوي او د یوه کوربه ځای بل وهي .

په دې باره کې د نمونې او بیلګې په ډول دا لاندې پیښه او کیسه واورئ :

یوه ورځ زما وراره خپل لکس او قیمتي مالونه په موټر کې بار کړل او زما کور ته یی راوړل او علت یی دا و چې د ده کور بیخي بی امنه او بی اعتباره ځای کې و او زما کور نسبتاً په ښه او مطمئن ځای کې واقع و . موټر یې زما د کور په وره کی ودراوه او د کالیو په راکوزولو یی

پیل وکړ ، له بده مرغه په دغه وخت کې یو وسله وال سړی په دغه کوڅه او په دغه ځای راپیښ شو ، موټر یې ولید چې له لکسو مالونو او سامانونو نه ډک دی .

خوشحاله شو او د موټر نه گردچاپیره وگرځید ، په موټر کې یخچال و ، تلویزیون و ، قالینې وې ، دیپلومات صندقونه وو او نور د کور سامان نه ډک و . ټوپکوالا همداسې ولاړ دي او شیانو ته په ځیر ځیر گوري او له دغه ځایه نه ځي .

ما ورته په عادي او نرمه لهجه وویل : وراره جانه څنگه ولاړ یی چای درته راوباسم . ده راته په غوسه او سخته لهجه وویل : زه د دغه ځای مسؤول شخص یم او د دغه ځای او کوڅې امنیت زما په غاړه دی ، زه د وظیفې له مخې دلته ولاړ یم ، د خلکو مال او ناموس ساتم . ما ورته وویل : خدای دې خیر درکړي ، موږ له تاسې هم همدا هیله لرو .

دې لاړ او موږ موټر راتش کړ او سامانونه مو خوندي کړل . زه یو سودایي سړی یم ، راپورې خاندئ به نه . سودا مې زړه ته ولویده او دا اندیښنه راسره پیدا شوه چې بیگاه ته کومه ټکه ونه لویږي او کور مو څوك ونه وهي ؟

ما سره په زړه کې دا سودا وه او ټوپکوالا هم بې سودا نه و ، په زړه کې یې پلانونه جوړول چې څرنگه به خپل مطلب ترسره کوم او څرنگه او په کومه طریقه به دغه سنکار تر گوتو کوم ، که زما زړه کې سودا وه دې هم بیسواده نه و ، که ما چرت واهه او ناارامه وم ، ده به هم چرت واهه او چندان ارامه به نه و . بالاخر شپه راغله .

وایې چې ویشتلی په زړه بیدار وي او سودا یې ته خوب نه ورځي ، ما ته خوب نه راته او په دې شپه ویښ ناست وم . پوره دوه بجې وې چې زموږ د همسایه او گاونډي په کور کې غالمغال او شور شو

او درز او دروز شروع شو . وسله والو زما کور غلط کړی و او زما د همسایه په کور ورننوتي وو ، هغه ځای سوځي چې اور وریاندی بل وي . هر څه چې وو د همسایه په کور تیریدل ، غم و که درد د همسایه په کور کې و ، ځکه وه که انګولا هماغلته وه ، همسایه یو څه مقاومت وښود هغه یې ضربه کړ ، د خدای پاك فضل و چې ونه لګید او خطا شو او یا یې قصداً نه ویشت . همسایه غلی شو او هر څه یې ورنه یووړل . نورو همسایه ګانو زما په شمول مرسته ورسره نه شوه کولای ځکه هغو لنډې ټولو کورونو ته یو یو ټوپکوالا ولاړ و او چا سر نه شو د باندې کولای .

وسله والې ډلې که څه هم نخښنه او موخه غلطه کړې وه خو تاوان یې نه و کړی ځکه هغه کور ډیر مساعد و او هر څه پکې وو ، د دغه کور یو تن په سعودي کې انجنیر و او ښې پیسې یې ګټلې او کور یې د هر څه نه ډك او پُرمامور و .

سبا چې شو همسایه د ټولو خپلو ګاونډیانو او همسایه ګانو نه ګیله وکړه ، خو ټولو ورته وویل چې : زموږ دروازې ته یو یو ټوپکوالا ولاړ و ، موږ کله درسره مرسته کولای شوه ، د قیامت ورځ وه ، هر څوك پخپلو خولو کې ډوب دی ، یو دې بل نه ګیله نه کوي .

ګرانو لوستونکو ! هدف زما کور و ځکه چې د ورځې یې زما کور لیدلی و ، خو قسمت هغه چاری وکړې چې تاسې ولوستل . زه په همسایه ډیر خپه شوم ځکه چې زما په ډب کی لاړ ، خو چاره څه وه ، خپل وجدان ته اوس هم خجله یم او د مرګ تروخته پوری به دا خجالت وباسم . زما د همسایه کور ودان چې لا تراوسه یې دا موضوع ماته نه ده یاده کړی او نه یې کوم شکایت کړی دی ځکه دی پوهیږي چې دا داسې کار و چې زموږ په اختیار کې نه و آسماني تندر و چې په هر چا پریووت هماغه یې هلاك کړ . د هماغې ورځې په سبا زما همسایه د

خپلې کوټې هغې نږدې پوستې ته ورغی او عرض یې ورته وکړ چې بیګاه زما کور غلو وواهه ، زما مال راته پیدا کړئ .

هغوی ورته وویل : ته به په هماغه وخت کې راغلی وای .

ده ورته وویل : تاسې دزې وانه وریدلې ؟ تاسې ولې نه راتللئ ؟ هغوی د ډزو د اوریدلو نه منکر شول . په دې ترتیب دا ماجرا او دا کیسه ختمه شوه .

داسې کیسې زموږ په هیواد کې ډیرې تیرې شوې دي ، هو ! ځینې به یې افسانوي شکل هم لري ، خو دا کیسه چې ما درته وکړه دا حقیقت دی او پخپله په ما او زما په همسایه تیره شوې ده .

داسې واقعات او پیښې چې زموږ په هیوادوالو راځي او دوی ناآرامه کوي آیا دا به د بشر په حقوقو تیری نه وي او آیا دا به انساني وجدان نه جریحه دار کوي ؟ که په نوره نړۍ کې داسې پیښې وشي هلته خلك کوڅو او میدانونو ته وزي ، میتهنګونه جوړوي ، مظاهرې کوي او بیانیې ورکوي ، خپل زړه تشوي . سنه ! موږ چیری لاړ شو ، چا ته وژاړو ؟ چیرته میتهنګ جوړ کړو ؟ چیرې مظاهرې وکړو ؟ او چیرې خپل زړه تش کړو ؟ دلته مظاهرې بندې او ناروا دي ، د بیان آزادي نه شته ، د خلکو په خولو مهر لګیدلی دی او سا په پوزو وباسي .

سنه ! چې د بیان آزادي نه وي دا به د بشر په حقوقو تجاوز نه وي ؟ چې مظاهرې بندې وي ، د خلکو په خولو مهر لګیدلی وي او سا په پوزو وباسي ، دا به د بشر د حقوقو تلفول نه وي ؟

تر دې ځایه پورې ما د افغانستان د جنګونو په باره کې خپل معلومات وړاندې کړل ، دا معلومات مؤثق ، اعتباري او د اعتماد وړ دي ، ځکه دا هغه معلومات او پیښې دي چې ما پخپله لیدلي او په ما تیرې شوې دي ، د دغو معلوماتو په ترڅ کې ما ځای په ځای د بشر د

حقوقو نه تخلف ته هم اشاري کړې دي او په ګوته کړې مې دي ، اوس د بشر حقوقو ته راځم او په دې باره کې خپل معلومات تاسې ته وړاندې کوم او په دې هيواد کې د بشر په حقوقو يوه اندازه رڼا اچوم چې پخوا څنګه وو ؟ څرنګه جريان او سابقه يې تيره کړې ده ؟ او اوس څرنګه دى او دا کار څه کوم چې د دې برخې عنوان دوه جزه لري ، يو جنګونه او بل د بشر حقوق ، په جنګونو يو لنډ غوندې نظر واچول شو او د بشر حقوق مې نه دي څېړلي ، اوس ورته وار راورسيد :

د بشر حقوقو او انساني کرامت ته هر ملت ، هر دين او هر هيواد احترام او درناوى لري منتها د بشر د حقوقو په تعريف او تثبيت کې اختلاف پيدا کيږي ، څوک يې يو قسم تعبيروي او څوک يې بل ، ځينې يو عمل ته د بشر د حقوقو په سترګه ګوري او ځينې نور بيا هغه عمل ته د بشر حقوق نه وايى ، خو د هرچا په نزد چې يو ځل د انسان او بشر حقوق د هغوى د تعبير او تعريف سره سم ثابت شي بيا يى نو هرومرو مراعات کوي او په لويه سترګه ورته ګوري .

مثلاً قطع اليد ، قصاص او رجم د اسلامي مقرراتو له مخې داسې چارې دي چې د انسانانو د ګټې او آرامى په خاطر مينځ ته راغلى دي . د يو څو کسانو په سزا رسولو سره ټوله جامعه عبرت اخلي ، ګرده ټولنه د فجايعو او مصيبتونو نه خلاصيږي او انجام يې دا وي چې خلك سبه ژوند کولاى شي . داسې چارې د بشر په فايده بولي او عملي کوي يى او د ډيره کيو او اکثريت غم خوري او د اکثريت د سبه ژوند او بقا لپاره يو څو تنه قرباني کوي . هغه هم مفسد او مضر خلك . په حقيقت کى همدا د بشر حق دى او بايد همداسې وشي .

مګر ځيني نور خلك او خصوصاً غربيان او عصري ټولنه دغو چارو ته د بشر د حقوقو نقض وايى او د انتقاد په سترګه ورته ګوري . دوى

د بشر حقوق د خپلو خیالاتو سره سم تعبیروي ، دوی د بشر حقوق داسې تعریفوي او داسې یې پیژني څرنګه چې یې د دوی زړه غواړي . دوی په دغه کار کې د خپل احساس او طبیعت نه کار اخلي او ماحول ، زمان او مکان او موجوده شرایط دخیل بولي او هره ډله د خپل ځان لپاره دلایل ، معقول وي او که نه ، وړاندې کوي .

د بشر د حقوقو داسې تحدید او تعریف چې جامع او مانع وي متعذر او مشکل دی ځکه چې کوم مثبت حقیقت نه لري هر څوک یې پخپل زړه تعبیروي . هو ! مجمل تعریف یې کیدای شي چې هر څوک بیا د دغه اجمال او ابهام نه پخپله ګټه کار اخلي او پخپله خوښه یې راړوي .

ځینې قانون پوهانو د بشر د حقوقو تعریف داسې کړی دی : « د بشر حقوق د انسان د مأمون او د هوسا ژوند د غوښتنې احساس دی » . دا حد او تعریف له یوې خوا مجمل دی او له بلې خوا یوازې د هوسا ژوند ( احساس ) پکې بیان شوی دی ، په داسې چارو کې یوازې احساس کفایت نه کا ، دا اضعف الایمان دی ، دغه احساس باید په کردار یا ګفتار او په عمل یا وینا سره اظهار شي .

زما په فکر د بشر د حقوقو سه تعریف دا دی : « انسان ته عملاً د منافعو جلب او د انسان نه عملاً د مضراتو طرد ضروري دی » . دلته هم د انسان مثبتو خواوو ته اشاره ده او هم منفي ته ، او هم د اضعف الایمان نه اجتناب دی . دغه تعریف په حقیقت کې د قرآن مجید د آیت : ( وتعاونو علی البرّ والتقوی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان ) ترجمه او مفهوم دی .

ما د بشر په حقوقو کې ډیرې مقالې او مضامین لوستلی دي ، هلته ډیرې خبرې کیږي ، په دغه موضوع پوره رڼا اچوي ، د بشر حقوق یو

یو شمیري ، سوابق یی بیانوي او متخلف هیوادونه یې سنبې مګر تعریف یې نه کوي او سرسري ورنه تیریږي ، یا وربانديې نه پوهیږي او یا یې ورته فکر نه شته . د بشر د حقوقو موضوع نه څرګندوي چې څه شی دی او نه د بشر د حقوقو غرض بیانوي .

په منطقي لحاظ څوك چې په کوم عمل لاس پورې کوي هغه باید وپیژني ، د هغه موضوع ورته معلومه وي او د هغه په عرض باید پوه وي چې دا کار او عمل څه ګټه لري او که نه هسې په تیاره کې به روان وي .

د بشر د حقوقو موضوع پخپله انسان دی ، دلته باید دا توضیح ورکړم چې پخپله د موضوع نه بحث کیږي ، بلکې د موضوع د اطرافو او احوالو نه بحث کیږي او هغه څیړل کیږي ، مثلاً کله چې موږ د بشر حقوق څیړو ، نو د موضوع نه به یی بحث نه کوو چې انسان دی ، بلکې د انسان د احوالو نه به بحث کوو ، پخپله د انسان نه به بحث نه کوو او نه انسان د څیړنې لاندې نیسو چې د څه شي نه جوړ دی ، څومره هډوکي او رګونه لري او ذاتیات یی کوم دي ، بلکې عوارض او احوال به یی څیړو ، چې وږی دی که تږی ، خپه دی که خوشحاله ، ځوریږي که آرام دی ، په ډار کې ژوند کوي که په امن او غني دی که فقیر ؟

کله چې د بشر د حقوقو موضوع تعیین شوه چې انسان دی ، نو د بشر په حقوقو کې به د ده د احوالو نه ځان خبروو او د طاقت په اندازه به مرسته ورسره کوو .

د بشر د حقوقو حد او موضوع تاسې وپیژندله اوس راځم غرض ته غرض یی د کړکیچ او ناآرامی نه د یوې ټولنې تباعد او ژغورنه ده . کله چې په ټولنه کې د بشر حقوق نقض کیږي او د هر چا حقوق پوره ورکول کیږي هلته ناآرامي او کړکیچ نه وي ، داسې ټولنه هوسا وي او د بدبختیو نه لیرې او د بحران نه غلی وي ، اکثره غالمغال ، هاوهوی ،

چیغې او سورې او مظاهرې او میتېنګونه د دې لپاره وي چې د خلکو حقوق پوره نه ادا کیږي او که ادا شي بیا به دا کارونه نه وي .

اوس چې تاسې د بشر د حقوقو تعریف ، موضوع او غرض وپېژندل راځم دې ته چې په کومو هیوادونو او ټولنو کې دا د بشر د حقوقو نه تیری زیات کیږي او په کومو ځایونو کې یې وضعیت ښه دی .

زیاتره په هغو هیوادونو کی د بشر حقوق نقض کیږي او د انسان حرمت او کرامت کمیږي چیری چې جنګونه او جګړې وي . په دغو جګړو کې هرومرو انساني حقوق تلف کیږي ، د انسان ارزښت کمیږي ، انسان سپکیږي ، وژل کیږي ، ځوریږي او کړیږي ، اولادونه یې مري ، کورونه یې چور کیږي ، لوږې او تندې وریاندې راځي ، بې کوره کیږي مهاجرت ته مجبور کیږي ، په ډیرو بدو شرایطو کې ژوند کوي ، هره ګولۍ چې فیر کیږي د حقوقو نقض کوي .

زموږ هیواد افغانستان یو له هغو هیوادونو نه دی چې پراخه جګړې پکې روانې دي او په پراخ ډول د بشر د حقوقو نه پکې تیری کیږي ، دا جګړې ډیرې اوږدې شوې او چې څومره اوږدیږي هماغومره د بشر د حقوقو د نقض شمیر زیاتیږي او رنګارنګ تیري وریاندې کیږي ، د دغه درونډ او ابرومند هیواد نوم بدیږي او بین المللي جوامع ورته په سپکه سترګه ګوري .

وایي : پك تر پکه – خو نه چې ماغزه یې ښکاره وي . جنګونه هم یوه اندازه لري ، داسې نه چې ټول عمر جنګ وي او اخ وډب روان وي ، وسله والې ډلې چې په جنګونو کې پاخه شوي دي هیڅ نه ستړي کیږي خلك او سیل بینان ستړي شول ، خو د دوی پروا نشته ، خلك شرمیږي ، خو دوی ځکه چې د شرم په مقابل کې معافیت حاصل کړی وي ، چرت یې خراب نه دی . دوی چې یو بل ولي ، په مینځ کې یې غریب ولس

پایمالیږي ، ماشومان او ښځې لګیږي او هغه څوك لګیږي چې په ګیډه وږي دي ، بیګاه ته روزي پیدا کوي . دا ده د جنګونو نتیجه او چې بیا اوږده شي نو د یوې بلا نه پاڅي سل نورې .

تاسې د مثال په توګه یوازې د تګاو کمپ ته وګورئ او د دغه کمپ ژوند د تګاو د ژوند سره مقایسه کړئ ، هلته ښنه باغونه او ونې دي ، ویالې دي او اوبه دي ، میوې دي او ترکاري دي ، خوږه او معتدله هوا ده ، انار یې د توصیف نه پورته دي او آباد کورونه وو او په خلکو ډك وو ، خو همدغه تګاویان اوس په څنګه ځای کې ژوند کوي ، نه پکې ونه شته نه غنه ، نه پکې باغ شته او نه پکې روانې اوبه ، نه پکې آباد کورونه شته او نه پکې بیدانه انار ، خلك په خیمو کې اوسیږي ، ژمی یخې وي او اوړی ډیرې ګرمې وي چې انسان پکې ژوند نه شي کولای .

دغو خلکو حق لاره چې پخپلو آبادو کورونو کې اوسیدلی وای او د هغه خپل ماحول نه یې ګټه او خوند اخیستی وای . دا د دوی په حق کې ظلم او د دوی د حقوقو نه تیری دی چې اوس په وچو ډاګونو کې په ډیر کړاو سره ژوند کوي او هره لحظه ځوریږي . زه چې کله په لاره په دغه کمپ تیریږم نو سترګې پټې نیسم او یا لاندې پښو ته ګورم ، کمپ ته نشم کتلای زړه مې پسخیږي او ورانیږي .

په دغه لاره او دغه سړك هغه کسان چې دا خلك د هغوی د لاسه راتښتیدلي دي پخپلو لګسو موټرو کې هم راتیریږي . آیا دوی به دا فکر کوي او دومره احساس به لري چې ووایي دا ناتار موږ په خلکو جوړ کړی دی او سبا ورځ موږ ورته مسؤول یو . نه دوی دا فکر نه کوي او دا احساس ورسره نشته دی او که نه د جنګونو نه به یې لاس اخیستی وای او پښیمانه شوی به وای ، اوس هم تاوده او بیرحمه

جنګونه روان دي او وسله والې ډلې هيڅ نه ستړې کيږي او نه خپل عاقبت سنجولی شي او نه د خلکو او ولس په فکر کې دي .

وايي چې د دوی ګټه په همدې اخ وډب او جنګونو او جګړو کې ده چې ښکار په آسانۍ لاس ته ورځي ، ليوه څه غواړي ، باد وباران ؛ آيا دا د جنګونو دوام د بشر د حقوقو مغزی ماتول نه دي ؟

همدارنګه چې څوک د هلې کمپ ته ورشي او ورته وګوري حيرانيږي هلته لويه دنيا پرته ده ، هلته په لکهاوو واړه او زاړه ، نر او ښځې ، کونډې او رنډې او ښايسته او بد رنګه د غم شپې سبا کوي او هره ګړۍ ځوريږي او کړی ورځ په چرتونو او بيکارۍ تيروي . دا خلک زياتره په دې وروستيو جنګونو کې د مکروريانو او د کابل د ښار د شاوخوا نه راغلي دي ، هلته يې ځنګه ژوند و او اوس يې ځنګه ژوند دی . دا د بشر دا حقوقو ملا ماتول نه دي نو څه دي ؟ هغه خلک چې کارونه يې کول او خپل هيواد يې آبادوه هغه اوس په کمپونو کې بيکاره لاس تر زنې ناست دي او د بل خيرات ته يې لاس اوږد کړی دی .

دغه کمپ چې نوی کمپ هم ورته وايي ډير لوی دی او په داسې يوه دښته او ډاګ کې پروت دی چې هلته پخوا ليوان او ګيدړان اوسيدل ، وچه کرغېړه ده او د سيمسارو ، کږدمو ، خرمښکيو او مارانو جالې دي ، اوس هلته بنيادمان اوسيږي ، دوی د شپې له خوا چراغ نه رڼا کوي ځکه خزندې ورته راټوليږي ، دوی ډير په تکليف کې دي او د ژوند د ټولو مزاياوو نه محروم دي ، آيا دا د بشر په حقوقو يو ستر ګوزار نه دی ؟

د تنګاو او هلې د کمپونو نه چې ورتير شو ، د حصارشاهي کمپ هم بيخرته لوی دی او د بشري ټولنې يوه لويه ځاله تشکيلوي . دا ځای هم د کږدمو او سيمسارو سوړې وې خو اوس پکې ښايسته انسانان اوسيږي او د ښارو د بچيانو غوندې يې خولې خيرات ته وازې نيولې دي .

جنګونه نه ختميږي همداسې پسې جاري دي او د بشر د حقوقو نه تخلف پکې کيږي .

دا چې خلك د جنګونو د لاسه خپلو اصلي ټاټوبو او کورونو ته نه شي تللی او په غربت او بی عزتی کې په نيمه ګيډه په کړيدلي صورت شپې سبا کوي دا د بشر د حقوقو نه ښکاره تخلف دی او د حقوقو داسې نقض دی چې څوك ورنه انکار نه شي کولای او هر څوك په دې حقيقت پوهيږي .

د دغه کمپ اوسيدونکي هم د کابل د ورروستنيو جنګونو قربانيان دي . دا خلك دې کمپ ته په داسې حال کې راغلل چې په کابل کې واوره اوريده او ننګرهار کې باران او ډير ساړه وو ، چا ته به چې په هماغه لومړی ورځ خيمه ونه رسيده هغه به يا شپه په ډاك باران ته تيروله او يا به يی د بل په خيمه کې سر ورننه ايسته . په ابتدا کې ډيرې د بې عزتۍ او د بيخوندۍ شپې وې . هو ! انسان له کاڼي سخت او له ګل نازك دی ، په هر رنګه شرايطو کې چې ناکام شي شپې سبا کولای شي ، خو د بشر د حقوقو نقض ورته وايه شي .

د دغه کمپ ماشومان ، سپين ږيري او سپينې سرې ، لکه د نورو کمپونو د ماشومانو او سپين ږيرو غونډې د دښتې ليرې ليرې برخو ته ځي ، اوچوکې او خله پله راټولوي ، هغه په شا راوړي او خيمه ورباندې تودوي ، نغری ورباندې تودوي او يو څه پخلی ورباندې نيم او نيم کاره کوي . نوره خله پله چې نه وي نو کيان او سرغشي د بيخه راوباسي ، اغزي راوهي او داسې نور بوټي د بيخه راوباسي چې په دې باندې کوچيانو بده يووړه او خو ځلې يی ماشومان ورباندې ووهل . دوی وايی دا زموږ د مالونو ذخيره ده او له ډير پخوا نه په ميراث واپاتې ده ، که دا بوټي د بيخه راويستل شي زموږ مال چر ته زيان پيښيږي او زموږ مالونه وږي کيږي . دا اخ وډب ژوان دی او دې

خواشینی سره د خیمو اوسیدونکي مخامخ دي ، خو دا اخ ودب او شورماشور د هغو راکټونو نه سنه دی چې په کابل کې په دوی را اوریدل او آوازونو به یې د دوی غوږونه کڼول او د دوی کورونه به یې ورانول .

آیا دوی همدا حق په ژوند کې لري چې په خیمو کی په خواشینۍ جګرخونۍ او لالهندۍ کې شپې سبا کړي او د آرامۍ او ښې خبرې مخ ونه ویني . دوی پردي خیرات ته سترګی نیولې وي او په دې تمه وي چې اوس به بابا غوښې ډوډۍ راوړي ، بابا دومره شی نه راوړي چې د دوی ګیډه ورباندې مړه شي . هو ! ګیډه ورباندې تیر ایستلی شي .

دغو د خیمو مهاجرو سره چې کومې لږې مرستې کیږي هغه هم پردي خلك او نور هیوادونه کوي او وسله والې ډلې او حکومت پکې برخه نه اخلي ، بلکې دغه وسله والې ډلې د خارجي مرستو نه هم خپل چونګی اخلي او تموله مرسته خیمو والاوو ته نه پریږدي .

دلته ما یوازې د ننګرهار د کمپونو په باره کی یو څو خبری وکړې ځکه چې دا هغه مهاجرین دي چې په دې وروستیو څلورو څلورنیمو کلونو کې رامهاجر شوي دي او یوه برخه یی د ناصرباغ په کمپ کې هم میشته شوې ده . او د دې خبرې علت دا دی چې زما د بحث موضوع د افغانستان دا وروستني جنګونه دي څه وخت چې تنظیمونه په کابل ورننوتل او پخپل مینځ کې سره بوخت شول او د مهاجرینو نور کمپونه ، لکه د کچه ګړهۍ کمپ ، د جلوزو کمپ ، د شمشتو کپ ، د نوښار او مردان کمپونه ، د بلوچستان کمپونه او داسې نور زما د کار په پلان کی شامل نه دي ځکه چې هغه د پخوانیو جنګونو نه راتښتیدلي دي او د پخوانیو جنګونو محصول دی .

د افغاني مهاجرینو په باره کې دغه لاندې څیړنه ، تحقیق او ویش د توجه وړ ده .

مهاجرین دوه قسمه دي :

یو هغه مهاجرین دي چې د خلقیانو او پرچمیانو د حکومتونو په وخت کی مهاجرت او د خپلو کورونو پریښودلو ته مجبور شوي دي .

دوهم هغه مهاجرین دي چې د تنظیمونو او وسله والو ډلو په وخت کی د خپلو کورونو پریښودلو ته اړ شوي او مجبور شوي دي .

هغه مهاجرین چې د خلقیانو او پرچمیانو په وخت کی مهاجر شوي دي هغوی ټول د هیواد نه د باندې وتلي دي او افغاني خاوره یې ترک کړې ده .

د دوی نه درې ډلې جوړې شوې دي ، یوه ډله هغه ذوات دي چې د علم ، تحصیل او پیسو سره د هیواد نه وتلي دي ، دغه خلک زیاتره یې په پاکستان او ایران کې تینګ شوي ته دي ، بلکې یورپ ، امریکې او استرالیا ته تللي او یو څه هند او عربي هیوادونو ته هم تللي دي . دوی سره پیسې وې د ترقی لیرې هیوادونو ته یې ځان ورساوه او دوی سره علم او کمال و ، په هر ځای کی یی ځان ته وظیفې او کاروته پیدا کړل . د دوی ښه ژوند او عیش وعشرت په برخه شو ، دوی د ډالرو ، پونډونو او مارکونو سره خبرې کوي ؛ دوی افغاني ژوند ته مخه ښه ویلې ده او کیدای شي که په هیواد کې آرامي او قرارې هم راشي دوی بیرته راستانه نه شي ؛ نو په دغه صورت کې د هیواد نه د مغزو فرار تحقق مومي او دا د یو هیواد لپاره لویه ضایعه ده .

دوهمه ډله هغه ځوانان او یو څه د سواد خښتنان دي چې په صوبه سرحد ، بلوچستان او ایران کی یې ځانونو ته کاروته او کسبونه پیدا کړي دي ، څوک ډریوران او کلینران شوي دي ، ځینې یې مستریان او انجنیران شوي دي ، چا خیاطي او نجاري زده کړې ده ، چا دوکانونه او مغازې جوړې کړې دي ، څوک یو کسب او څوک بل کسب کوي او چا

تجارت ته لاس اچولی دی . څوك په جوماتونو او مدرسو کې قاریان ، ملایان او طالبان شوي دي . د دغې طبقې ژوند هم سنه دی او چې هیواد ته بیرته راستنیږي نو د یو کسب سره به راځي . دغو کسانو سره چې یو کسب او کمال یی زده کړی دی مهاجرت مرسته کړې ده . د پورته دوارو طبقو په حق کې دا متل لګیږي : « باز چې خپله ځاله پریږدي – ځای یی د باچا منګول شي » . هو ! باز چې تر څو پخپل ماحول ، خپل ځنګل او خپله دښته باندې راڅرخي د باچا دربار او ناز ته نه شي رسیدای .

دریمه ډله هغه ساده او بې علمه خلك دي چې په کمپونو کې اوسیږي او بل کوم مدرك نه لري ، دوی د نورو مرستو ته لاس نیولی وي او ژوند یی ډیر تنګ او د زړه سوی دی . په دې خلکو باندې مرستې ورځ په ورځ کمیږي او کله کله د همسایه هیوادونو له خوا تهدیدیږي چې په زور مو وباسو .

د دغو دریو ډلو ژوند چې پورته ذکر شوی ، که یو تربله سره مقایسه کړو ، نو په دغو مهاجرتونو او اخ وډب کی چا ډیره سرمایه او دارایي پیدا کړه او چا هر څه د لاسه ورکړل ، د چا اولادونه په غرب کې ورزل شول او د چا اولادونه خاورو ته لاړل ، څوك د امریکې او یورپ په ماڼیو کې اوسیږي او څوك د کچه ګرهی په تنور کې .

د لومړۍ ډلې چې زیاتره یی غرب ته تللي دي یو سنه والی دا دی چې د خپلو خپلوانو سره کوم چې په افغاني خاوره او یا په صوبه سرحد کې راایسار دي مرستې کوي او یوه اندازه ډالر او مارکونه ورته رالیږي د دوهمې ډلې چې کسب او کمال یی زده کړی دی سنه والی دا دی چې خپله پوله او پټی یی خپلوانو ته ورپریښی دی او چندان پوښتنه یې نه کوي او دریمه ډله چې خوار وزار دي په کال کې یوځل خپل هیواد او خپل وطن ته ځي او که په پوله او پټي کې یی څه شوي وي هغه

راوړي او په کمپونو کې یې خوري .

دا درې ډلې مهاجرین چې ما پورته معرفي کړل هغه لومړۍ ډله مهاجرین دي چې د تنظیمونو او وسله والو ډلو د حکومت نه مخکې راتسنتیدلي وو او ټول یې د سرحد نه اوښتي دي ، د دې ټولو په حق کې د بشر د حقوقو نه تیری راغلی دی .

دوهم قسم مهاجرین چې د تنظیمونو د حکومت په وخت کې د تنظیمونو د جګړو د لاسه راتسنتیدلي او د خپل ټاټوبي نه را بیځایه شوي دي دوی ته اجازه ورنه کړای شوه چې د افغاني پولې نه واوړي ، دوی ته په افغاني خاوره کې چیرې چې ډاګونه دي او د کربوړو او سیمسارو سوړې دي کمپونه جوړ شول او هلته راایسار شول . د دوی اولادونه د تعلیم او کسب نه خلاص شول ، د دوی ځوانان بیکاره او د روزګار نه پاتې شول چې دا ښکاره د بشر په حقوقو تیری دی . د دوی ماشومان او سپین ږیري د سرغشو او کیانو په سر د کوچیانو سره لاس په ګریوان شول او اوس په وچو ډاګونو کی لوږې او تندې تیروي ، یخني او ګرمي تیروي او د کړاو نه ډک ژوند سره اخته دي ، دا د چا د لاسه او څوك دا د بشر حقوق نقض کوي ؟

د مهاجرینو په باره کې چې د افغانستان د جنګونو او خصوصاً د وروستیو جنګونو د لاسه راتسنتیدلي دي او ورسره د بشر حقوقو پوره نقض شوي دي یو څه معلومات وړاندې شول او څیړنه پکې وشوه . اوس راځم په افغانستان کې د بشر د حقوقو سابقې او څرنګوالي ته . په دغه افغاني خاوره کی چې د زمانی په طول کې په مختلفو نومونو مسمی شوې ده لوی رجال او ستر شخصیتونه تیر شوي دي ، دوی هر یوه بشر ته خدمت کړی دی ، په دې مانا چې کومې چارې او شیونه چې انسان او بشر ته ګټه رسوي او ورته ضرور دي هغه یې مشخص

کړي دي او په دې لار کې يې عملي قدمونه اخيستی دي او څه چې بشر ته مضر دي هغه يې ورته په ګوته کړي دي او د هغو نه يې ډار کړی دی او نه يوازې دا چې د مضراتو نه يې بشر ډار کړی او وينا يې ورته کړې ده ، بلکې يې ورتير کړی او مرسته يې ورسره کړې ده چې همدا د بشر د حقوقو مانا او تعبير دی .

که د لرغونې زمانې او منځنيو پيړيو نه راتير شو او اوسني عصر ته راشو او په افغاني خاوره کې د بشر حقوق د مطالعې لاندې ونيسو نو د اعليحضرت امان الله خان د وخت ( نظامنامه ) نړيوالو د قناعت او معلوماتو لپاره وړاندې کولای شو چې مونږ لا پخوا د بشر حقوق مشخص کړي او قيد کړي دي او د عمل لپاره مو په دستوره کې وړاندې کړي دي . دغه نظامنامه د روانې پيړۍ يعنی د شلمې پيړۍ د لومړۍ نيمايي په نيمايي کې مينځ ته راغلې ده ؛ په ۱۹۲۳ کال کې جوړه او نافذه شوه او دا هغه وخت دی چې په نړۍ کې دا د بشر د حقوقو نغاره دومره توده نه وه او نه دومره غالمغال ، شورماشور او توجه ورته وه . په دې برخه کې زموږ هيواد نسبتاً وړاندې دی .

دا اساسي نظامنامه د ژوند په مختلفو اړخونو او بعدونو حاوي ده چې د دې جملې نه د خلکو عمومي حقوق هم پکې تثبيت شوي دي ، استاد حبيب الله رفيع دغه حقونه د نوموړی نظامنامې نه را استخراج کړي دي او دا دی ما ورنه را اقتباس کړل او تاسې ته يې په لاندې ډول وړاندې کوم :

۱ - د افغانستان ټول اوسيدونکي بې له مذهبي او طبقاتي تبعيضه د افغانستان اتباع ګڼل کيږي .

۲ - د هيواد ټول خلك فردي آزادي لري او د نورو په فردي آزاديو تيری نه شي کولای .

۳ - فردي حريت له هر ډول تيري نه خوندي دی ، هيڅوك د محکمې او قانون له حکمه پرته بندي کيدای او تر جزا لاندی راتلای نه شي ، غلامي لغوه ده ، هيڅوك نه شي کولای بل کس د غلام او مريي په توګه وساتي .

٤ - د افغانستان دولت او اتباع حق لري چی ورځپاڼې او خپروني ولري ، خو خارجي نشرات د دولت له خوا کنترولیږي .

٥ - د افغانستان اوسيدونکي د تجارتي ، صناعتي او زراعتي شرکتونو د جوړولو حق لري .

٦ - د افغانستان ټول خلك په فردي او ډله ييزه توګه د دولت ټولو مقاماتو ته د خپل حق د غوښتلو لپاره مراجعه کولای شي .

۷ - د افغانستان ټول خلك د وړيا زده کړې حق لري ، ښوونځي د دولت له خوا اداره کيږي ، غيرمسلم اقليتونه پخپلو ديني زده کړو کې آزاد او لومړنی زده کړې اجباري دي .

۸ - د افغانستان ټول اوسيدونکي د دولتي قوانينو او شريعت په وړاندې مساوي حقوق لري .

۹ - د افغانستان ټول اتباع د خپل استعداد او د دولت له اړتيا سره سم په ملکي ادارو کی د کار کولو حق لري .

۱۰ - په افغانستان کی د ټولو خلکو نغدي او جنسي شتمنی خوندي دي ، دولت په زور د چا ملکيت نه شي غصبولی .

۱۱ - د افغانستان د ټولو اوسيدونکو استوګنځی د احترام وړ دی هيڅ دولتي او غيردولتي اداره د قانون له حکم پرته د چا کور ته بې له اجازې نه شي ورننوتلای .

۱۲ - په عدلي محکمو کی ټولې پيښی او دعواګانې د شريعت او قوانينو له مخې فيصله کيږي .

۱۳ - د چا د مال مصادره کول او پر هغه اجباري کار کول بیخي منع دی .

۱٤ - هر ډول شکنجې ورکول منع دي .

دا وو هغه څه چې په نظامنامه کی د بشر د حقوقو په برخه کې زموږ د مشروطه شاهی او حکومت له خوا درج او ومنل شول او که له دغه ابتدایي قانون نه راتیر شو چې نیمګړتیاوی لري او په ټولو حقوقو حاوي نه دی ، د ۱۹۳۰ کال اساسي قانون هم د دغه قانون چې ابتدایي بڼه یی لرله په لږ تغییر سره د خلکو پورتني حقوق ومنل او احترام او درناوی یی لازمي وباله .

په دغه اساسي قانون پسې د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون د شور او زوږ په فضا کی تصویب شو ، په دغه قانون کې زیاتره د هیواد هغو ځوانو عالمانو برخه اخیستی وه چې په یورپ او غرب کی یی تحصیل کړی و او په عصري علومو مجهز وو . دوی د نړۍ اساسي قوانین لوستي وو او د خپل هیواد په قانون کې یې استفاده ورنه وکړه ، دا اساسي قانون ځکه مکمل ګڼل کیږي چې د خپل هیواد د تجربو ترڅنګه د نورو رسیدلې نړۍ تجربې او پوهه هم پکې سترګکونه وهي ، دغه قانون د نورو ګټو نه غیر د پوره دموکراسی د هرکلي لپاره شین څراغ ولګاوه چې د هیواد منور قشر ورباندې خوشحاله او یو څه قانع شو او هغه نیمګړتیاوی یی لیری کړې چې په تیرو قوانینو کې موجودې وې .

د هیواد دغه اساسي قانون هم د پورتنیو بشري حقوقو احترام او درناوی لازم وګاڼه او په دغه برخه کې چې کومې نیمګړتیاوې وې هغه یی یوه اندازه پوره کړې چې د هغې جملې نه یې جرم شخصي کار وباله او نور چا ته سرایت نه کوي . د انسان تعذیب یی حتمي د حقایقو د کشف په لار کې هم روا ونه باله او په زور اخیستل شوی اقرار یی بې

اعتباره وګاڼۍ ؛ په محکمه کې د مدافع وکیل درلودل د متهم د يو حق په توګه ومنل شول . په هیواد کې دننه او له هیواد نه بهر د افغانانو تبعید بند شو . افغانان خارجي دولت ته په تورن کیدو نه سپارل کیږي ، د مخابراتو محرمیت تضمین شو ، د بیان آزادي ومنل شوه . البته راډیو او تلویزیون د دولت ملکیت وګڼل شول ، د قانون له مخې افغانانو ته د ګوندونو جوړول جایز شول ، د ناروغیو مخنیوی او تداوي د دولت وظیفه وګڼل شوه او کار د هر افغان فرض او حق وبلل شو .

سنه ! زموږ په هیواد کې بشري حقوق چې دومره اوږده سابقه لري او په قوانینو کې په مناسب ډول ځای شوي دي او د قانون حیثیت یې موندلی دی ولې نقض شي او ولې سپك شي او ولې نړۍ زموږ ته په دې برخه کې د انتقاد ګوته ونیسي . هغه هیوادونه چې پخوا پکې بربریت او وحشت و او د بشري قوانینو پکې نوم نه و او نه یې پیژندل اوس په هغو کې بشري قوانین دومره نه نقض کیږي او نه نړۍ ورته د انتقاد ګوته نیسي او نه یې نوم بد دی . دا په موږ څه چل وشو او ولې دا کاني راوشوې ، چل یې واضح دی چې هغه جنګونه او جګړې دي او دا جګړې وسله والې ډلې او ټوپکوالا کوي ، دوی پخپل نامه او سنه شهرت پسې نه دي ، دوی په مادیاتو پسې دي او په دې لار کې تکر سره خوري او لاس په ګریوان کیږي چې په مینځ کې یې اولسي خلك او کونډې رنډې دل کیږي او د بشر حقوق نقض کیږي او زموږ نوم وربانډې بدیږي ، وسله والې ډلې د چوکۍ او مقام په غم کې دي او د چوکۍ د لاس ته راوړلو لپاره لازمي هر جنایت ته تیار دي او په هیڅ نه شرمیږي ، یوه ډله چوکۍ نه پریږدي او ځان وربانډې وژني او بله ډله یې په چوکۍ نه پریږدي ورنه لیرې کوي یې او همداسې اخ ودب روان دی هیڅ نه غلي کیږي .

دوی یو بل سره کینه او حسد لري او د عقدو ښتنان دي ، دوی یو بل ته د هیڅ شي نه نه تیرېږي او نه د یوه په بل باندې کوم شی او مقام پیرزو دی ، دوی به هیڅ وخت سره جوړ نه شي ، په دوی باندې ضرور دغه عربي مقوله رښتیا کیدونکی ده : « اذا تعارضا تساقطا » یعنی دوه خواوی چې په جنګ شي دواړه کمزورې کیږي او له مینځه ځي او دریم قوت صحنې ته راځي .

# هغه عوامل چې دغه جنګونه یې مینځته راوړي دي چې په نتیجه کې یې د بشر حقوق تلف شول

دغه وروستني جنګونه او شخړې چې د وسله والو ډلو په مینځ کې پیښې شوې دي ډېر عوامل او فاکتورونه لري چې غټ یې دلته ذکر کیږي :

۱ - د وسله والو ډلو او تنظیمونو په مینځ کې زړه او سخته دښمني موجوده ده ، دا دښمني ژورې ریښې او جرړې لري چې ایستل او له مینځه وړل یې امکان نه لري او د دوی هڅوکي سره مات شوي دي ، نو ځکه د دوی په مینځ کې روغه نه شي راتلای او تر څو چې دوي وي دا جګړې به وي او په مینځ کې به یې خلک او بیګناه وګړي دل کیږي او د بشر د حقوقو نه به تخلف راځي . د تنظیمونو په مینځ کې ډېر خلک سره وژل شوي دي ، همدا سابقه او تربګني وه کله چې

دوي کابل او افغانستان ته راغلل، په جنګونو سره بوخت شول او داسې کارونه یې وکړل چې تاسې ولیدل . دا چې په دې جنګونو کې کومه ډله ملامته ده او څوك حق ته غاړه نه ږدي دا قضاوت به وخت او خلك وکا ، اوس دلته یوازې دا په ګوته کوو چې دا جنګونه هیڅ ګټه نه لري . د خپلو خلکو په مینځ کې جګړې دي او تباهي ده او زموږ د دروند هیواد سپکاوی او ورانی دی او د خلکو او نړیوالو د پیغور او انتقاد لاندې راځو چې وایې افغانان د بشر حقوق نقض کوي او په درناوی ورته نه ګوري .

۲ – وسله والې ډلې او تنظیمونه په چوکی مین دي ، د دې ټولو جنګونو یو مهم علت همدا چوکۍ ده ، تر څو پورې چې د دوی په زړه کې د چوکۍ مینه وي جګړې او شخړې به وي ، تر څو پورې چې دا مینه د دوی په زړه کې توده وي دا جنګونه به تاوده وي او تر څو پورې چې دا مینه لاړه نه شي داسې فرض کړه چې شخړه به لاړه نه شي .

( غوښه د هر چا خوښه ده خو د پیشو پسې دومی دی ) . چوکۍ د هر چا خوښه ده خو نه دومره چې ځان ووژني یا بل په ووژني ، (چاړه که د سرو ده ، چا په ځیګر نه ده منډلی) . دیرش څلویښت کاله پخوا د یوی اطرافي سیمې یو ساده سړی و چې د کابل په کوڅو کې به ګرځیده ، کابلیانو به ورته خان ... وایه او ملنډې به یې وربانديې وهلې . ده په عین ساده ګي کې دا ارمان کاوه چې کاشکي زمکه مې د کابل په چهاردهي کې وای ، کور مې په ده افغانانو کې وای او ډوډۍ مې په ارګ کې خوړلای . هو ! د ارګ ډوډۍ خوږه او غوړه ده مګر په دې نه ارزي چې څوك خپلې یا پردۍ کولمې وربانديې راوباسي او په دې شعار هم نه ارزي چې ( ارګ یا مرګ ) . د چوکۍ مینه بیوفا ده او بیوفا شي پورې زړه تړل نه ارزي .

مینه د خــــدای او رسول سنه ده
دا نوري میني بیوفا تیرې به شینه

فکر کوم چې وسله والې ډلې او ټوپکوالا ځکه په چوکۍ باندې دومره مین او عاشق دي چې دوی په محرومیت کې شپې سبا کړې دي ، په غرونو ، دښتو او ډاګونو کې یې په سختۍ ژوند کړی دی ، سړې او تودې ورباندې تیرې شوې دي ، جنګونه یې کړي دي چې د ژوند سخته او بیخونده برخه ده او د دولتي چوکیو او مقامونو نه لیرې ساتل شوي دي ، کله چې دوی دولت او چوکیو ته راغلل او آرام او تنعم یې ولید زړه یې ورباندې بایلود او دا ورته داسې شی ښکاره شو چې مرګ او ژوبله ورباندې ښایي .

د چوکۍ جنګ او د چوکۍ مینه اوس د خلکو د ژبې په سر خبره ده ، خلك چې په کابل کې سرویس ته خیژي او بیروبار وي ، نو یو تریله سره د خندا په حال کې وایي چې په چوکۍ جنګ دی او اشاره یې وسله والو ډلو ته وي .

۳ - د حسد او کینې له کبله چې وسله والې ډلې یې یو تریله سره لري د یوه په بل باندې هیڅ شی نه پیرزو کیږي ، یو چې ویني هغه بل په چوکۍ باندې ناست دی په اوبو کې ورته خولې کیږي او ښه د مرګ ګوزار ورباندې کاندي ، د کینې او حسد نه لوی لوی کارونه پورته کیږي او د جنګونو او شخړو ستر او لومړی عامل همدا کینه او حسد دی . کله چې د چا په زړه کې کینه او حسد وي هغه د خپلې ګټې نه هم تیریږي خو چې مقابل جانب ته یې ګټه او فایده ونه رسیږي ، مثلاً که یو سړی حاسد شخص ته ووایی چې دا یو لك روپۍ واخله او یو لك ستا مقابل ته ورکوم ، دی به سمدستي ورته ووایی چې ما ته یې مه راکوه او هغه ته یې هم مه ورکوه . ( ومن شر حاسد اذا حسد ) ، تر

څو چې د دوی د زړه نه حسد لیرې نه شي او د دوی ژوری عقدې اوارې نه شي دوی سولې ته نه پرېږدي او همداسې ډز او ډوز به وي او د بشر حقوق به نقض کیږي او کړاوونه به زیاتیږي .

٤ - د دغو جنګونو او جګړو چې هیواد یې تباه کړ بل لوی عامل د دنیا او پیسو حرص او محبت دی ، هره وسله واله ډله غواړي چې زیاتې پیسې پیدا کړي ، دلته د دوی په مینځ کې د پیسو او ټکو په سر وسله والې نښتې مینځ ته راځي ، مرګ او ژوبله مینځ ته راځي او نور بیګناه خلك هم پکې تل کیږي او دل کیږي چې دا د بشر د حقوقو ښکاره نقض دی . دغه د پیسو مسابقه او جګړه بیا د غټانو په مینځ کې زیاته وي ځکه دوی هر یو هغې چوکۍ او پُست ته هڅه کوي چې ډالر او کلدارې پکې وي او چې دا لاس ته نه ورځي ، نو جګړه پیل کوي ، یا لفظي یا د کوتك . د پیسو مینه د ټولو ګناهونو سر دی او زیاتره ګناهونه د همدې نه پیدا کیږي . په همدې موضوع کې یو حدیث هم شته ( حب الدنیا رأس کلّ خطیئة ) . ټول ګناهونه د پیسو د محبت نه پیدا کیږي . خوشحال خان ختك وایی : « سر دې لاړ شي ، مال دې لاړ شي ، پت دې نه ځي » ، خو داسې خلك شته چې وایی : هر څه دې لاړ شي خو مال دې نه ځي .

٥ - د دغو جنګونو بل عامل چې ډیر بارز او ښکاره دی هغه د پریکړو او فیصلو عدم احترام او نه درناوی دی ، د پیښنور جرګې پروفیسر رباني ته څلور میاشتې وخت ورکړی و ، مګر ده په دغه ریاست باندې څلور کاله په هغه او دغه تیر کړل ، په دغه وخت کې دی د جمهوري ریاست د چوکۍ نه ، نه لیرې کیده او نورو ډلو د ده ریاست نه مانه چې همدا د جنګونو اصلي علت وګرځید . که رښتیا ووایم دغه څلور کاله د افغانستان لپاره دوزخ و او د ده لپاره امارت نه و ، بلکې

حقارت و ، نه پوهيږم دوی به د دي مقام نه څه خوند اخيستی وي ؟ په دغو څلورو کلونو کی يوه ورځ آرامه رانغله ، هره ورځ جنګونه او مرګونه وو ، خواشينۍ وې ، بيخونديړ وې ، غمونه او کړاوونه وو او تخريبات او تحريکات وو او د خارجيانو د مداخلې لپاره زمينه ښه مساعد کيدله .

دغه دوره د انحصار دوره وه او که کوم تنظيم به يې د ځان سره يوځای کړ هغه ته يې هم دومره څه نه ورکول چې ورباندې خوشحاله شوی وای . دغې دورې د خارجيانو لپاره د مداخلې ښه وسيع افق پرانست ، خارجيانو کوښښ کاوه چې نور تنظيمونه ورجلب کړي او د حکومت سره يې يوځای کړي ، مګر څرنګه چې دا سياست يو طرفه او نامعقول و چا نه مانه . دوی د غرض څښتنان دي او ويل کيږي چې صاحب الغرض مجنون ، د مجنون خبره څوك اوري ؟ که رباني پخپل موعد يعنی څلورو مياشتو نه وروسته استعفا کړې وای هر څه به نورمال وو .

٦ – ډيره جنجال او د بحث نه ډکه موضوع چې د وسله والو ډلو او تنظيمونو په مينځ کی پيدا شوه هغه د دفاع وزارت په چوکۍ باندې اصرار و ، د اسلام آباد غونډې ښاغلي رباني ته وخت ورکړ چې د جمهوري رياست په چوکۍ باندې دې اتلس مياشتې پاتې شي او ښاغلی حکمتيار يې صدراعظم وټاکه او د دفاع وزارت موضوع په خيرو کی ياده نه شوه . د جمعيت له تنظيم سره دا فکر و چې دا چوکۍ به ترآخره پورې د همدوی وي ، يادولو ته کوم ضرورت نشته ، مګر حکمتيار په دې فکر کې و چې د وزيرانو انتخاب د ده کار دی ، ځکه چې دی د کابينې رئيس دی . په همدې موضوع باندې د اسلام آباد جرګه ناکامه شوه . جنګونه وشول ، مرګونه وشول او ډيرې بيخوندۍ مينځ ته راغلې ، خو

د ننګرهار شورى يوه د اوږو پوزه كيښوده . دغې موضوع ظاهري حل ډير وخت ونيو او ډيرې خواشينۍ مينځ ته راغلې . ډير مرګونه په دغه ترڅ کی وشول خو کومه نتيجه يې ورنه کړه . هو ! يوازې د بشر حقوق پکې ښه وځپل شول .

ښه ! ګرانو لوستونکو ! تاسې فكر وكړئ چې د يوه تن په چوکۍ باندې دومره خلك مړه شي ، دا چوکۍ نو په دې ارزي او دا خبره کوم مسؤوليت نه لري ؟ يا احمد وزير يا محمود ، دا خبره دومره كله مهمه ده ، لكه چې دومره خلك ورباندې ستړ شول او ستړ كيږي . داسې معلوميږي چې دا خلك د کوم مسؤوليت احساس نه کوي او نه ورسره دا فكر شته چې يوه ورځ به د خداى (ج) او ملت په مخ کی ودريږي او د خپلو كارونو ځواب به ووايي .

۷ - بل شی چې د جنګونو باعث شو هغه د ( اهل حل وعقد ) جرګه او غونډه وه چې مشکلات يې پيدا کړل ، دې غونډې انحصاري شکل لاره او د پخوانيو پريکړو په خلاف وه ، زياترو تنظيمونو پکې ګډون ونه كړ او خصوصاً حضرت صاحب خو بيا ډير بد ورته وکتل .

دغې غونډې ښاغلي رباني ته چې خپلې څلور مياشتې يې پوره کړې وې دوه كاله نور وخت ورکړ چې د جمهوري مقام په چوکۍ پاتې شي ، دغې پريكړې شورماشور او غالمغال پيدا کړ ، جنګونه او شخړې يې رامينځته کړې او هيواد يې د کړاو او بدمرغۍ سره مخامخ کړ . كه دغې غونډې فرمايشي خبره تاييد کړې نه واى او استاد رباني ته يې دوه كاله نور ورکړي نه واى او د جهادي تنظيمونو مشران يې راغوښتی واى او هغو ته يې واك ورکړی واى چې پخپل مينځ کی انتخابات سره وکړي دا جنجالونه به حل شوي واى ، خو د دې په ځاى نوموړې غونډې د جهادي مشرانو جرګې او غونډې چې بايد وخت په وخت كيداى او

مشکلات یې حل کولای باطل اعلان کړې او په ډاگه یې وویل چې : د اهل حل وعقد د جرگې نه وروسته پخواني هر څه منسوخ شول . دی خبرې هم د تنظیمونو قهر او غوسه راوپاروله او د رباني د نوي حکومت په ضد ودریدل او جگړې یې پیل کړې .

وایی چې د اهل حل وعقد د غونډې په جریان کې ډیرې پیسې مصرف شوې او جیبونه وربانديې ډك شول ، او په هماغه وخت کې چې دا غونډه روانه وه خلکو وربانديې اعتراضونه او انتقادونه وکړل ، خو حکومتي رجالو وربانديې کومه اعتنا ونه کړه او د خلکو او د تنظیمونو د مشرانو خبرې یې سرسري تلقي کړې .

هو ! د چا سره چې د اولس او اکثریت ملاتړ نه وي او په زور ، چل او خپله خوښه فیصلې کوي همداسې حال او همداسې رسوایي به یې په برخه وي . په زور یو کار وړانديې تللی شي ، خو دوام نه شي کولای . د ښاغلي رباني حکومت د بانکونو ، سفارتونو او دفاع چارې پخپل انحصار کې وساتلې او په نورو چارو کې یې که څوك ورسره شریکیدل برخه ورکوله .

بلی ! رادیو او تبلیغات یې هم خپل حق گاڼه او چې چا به رادیو او تلویزیون ته غوږ ونیو ، نو دا گومان یې نه کاوه چې دا د افغانستان راډیو او تبلیغات دي ، بلکې پوهیده چې دا د یوه تنظیم تبلیغات او خپروني دي .

۸ - د جنگونو او اخ وډب بل علت لکه چې مورد ورته پورته هم اشاره وکړه هغه حکومتي انحصار دی ، ټولې کلیدي چوکۍ او وزارتونه د یوه تنظیم په واك کې وي . سفارتونه او سفرونه د همدغه یوه تنظیم وو ، پیسو او ټکو په همدوی پورې اړه درلوده ، د بانك نوټونو فرمایش او اختیار د همدغه یوه تنظیم سره و او همدوی د پیسو کانتینیرونه

پخپلو مخصوصو ځایونو کې ساتل ، او په همدغو پیسو باندې جنګونه کول او نظامیانو او هغو عسکرو ته چې په جنګ کې مباشر دي اوس هم بیحسابه پیسې ورکوي او دا ځکه چې دوی دا پیسې بیحسابه چاپوي او بیحسابه یې لري ، دا پیسې چې هیڅ پشتوانه نه لري او بیخرته زیاتې شوي دي بی ارزښته شوې دي او څوك یې په کور او جیب کی نه ساتي ، وسله والې ډلې او ټوپکوالا چې دغه پیسې په لاس راوړي سمدستي یې په صرافی کې بدلوي ، ډالر او کلدارې وربانديِ اخلي او دا ځکه چې افغانی دوی ته پیسه نه ښکاري . هر مازیګر د ګمرکونو او پاټکونو پیسې د دې په ځای چې بانك ته لاړې شي رأساً صرافی ته راوړل کیږي او ټوپکوالا یې په کلدارو بدلوي او څرنګه چې دغه پیسې ډیرې دي نو سیکړه یی خرابه کړې ده او نرخونه یی پورته بیولي دي . دوی ته نرخ او د اجناسو قیمتي فرق نه کا ، یوازې ولس ته غم جوړ دی او د قیمتی بار ولس راکاږي ، که یو من اوړه په پنځوس زره افغانۍ شي د ټوپکوالا ورباندې چرت خراب نه دی ، هو ! خلك دي چې د کړاو سره اخته دي او دوی د خلکو په غم او کیسه کې نه دي .

تنظیمونو د خپل حکومت په دوره کې چې څه د پاسه څلور کلونه کیږي یوه خښته یی په بله نه ده ایښی . هو ! آباد کورونه ، سړکونه او پلونه یی وران کړي دي ، د نمونې لپاره لاړ شئ د میوند جاده او د حضوري چمن ته مخامخ دوکانونه وګورئ چې یوه خښته پکې نه ده پاتې .

زه څو ورځې وړاندې کابل ته لاړم ، سړك او کندوالې پلونه په هماغه شکل پاتې وو چې د تیر رژیم د حکومت نه راپاتې وو . یوازې په یوه پله باندې کار کیده ، ممکن هغه به هم کومې مؤسسې دا کار کاوه یعنی هغه سړك او پلونه چې تنظیمونو وران کړي وو لا په هماغه

شکل ښکاریدل ، او دوی هم ملامت نه دي ځکه چې د جنگونو د لاسه آبادی ته وزګار نه دي . جنګ وکړي که آبادي وکړي ؟ یو کیږي دواړه نه کیږي .

خبره په انحصار کی ده ، که رښتیا ووایو انحصار د یوه تنظیم سره نه دی او نه یوه تنظیم هر څه انحصار کړي دي ، بلکې د مطلقې شاهي غوندې اختیارات یوازې یو سړی لري او ټول کارونه د ده په اشاره کیږي ، د پیسو کلي د ده سره ده ، مقرری او برطرفی همدې کوي دا نور هسې تشریفاتي سمبولونه دي .

۹ - د هیواد د جنگونو ، اختلافاتو او ناکراریو بل عامل په دې وروستیو کلونو کی د سیاست او جنګ ډګر ته د دوستم رادانګل دي . زیاتره تنظیمونه نه غواړي چې دی په حکومت کی شریک شي ، مګر ځینی نور یې بیا د خپل ځان د تقویی لپاره په دولت کی شریک بولي او نظامي مرسته ورنه غواړي . دی لومړی د ډاکتر نجیب یو تکړه او نژدې قوماندان و او بیا د نجیب په لیری کولو کې د مسعود سره یوځای شو . مسعود څه ورنه کړل او کومه توجه یې ورته ونه کړه ، نو ورنه خپه شو او د شورای همآهنګی سره یوځای شو اوس بیا له مسعود سره یوځای شوی دی ، معلومه شي چې دا پیوستون به تر څو پورې وي ؟

ملیشو کابل چور کړ ، کورونه یې وران کړل او خلك یې ووژل ، ډیرې پیسې یې جمع کړې ، خو خپل سرونه یې هم ورباندې کیښودل ، تنظیمونه پخپلو کې هسې هم سره په جنګ وو ، خو صحنې ته د ده راتګ داسې شو ، لکه چې په اور باندې تیل څوك واچوي .

۱۰ - د هیواد د جنگونو او شخړو بل لوی عامل او سبب دا دی چې وزارتونو او چوکیو ته داسې خلك راغلل چې محرومیتونه یې تیر

کړې وو ، په غرونو او دښتو کې يې په کړاو او سختۍ سره شپې سبا کړې وې ، تنګسې يې ليدلې وې ، مرګ ژوبله يې تيره کړې وه ، لوږې او تندې يې ليدلې وې او د . . . لاس ته ناست وو . اوس چې دوی چوکيو ته راغلل ، عيش او عشرت يې وليد ، پيسو او ډالرو سره مخامخ شول نو ځان وژني ، خو چوکۍ نه پريږدي . هغه بل ورته وايي چې ته پورته شه وار زما دی ، مګر دی کله چوکۍ او مقام پريږدي ؟ بس د چوکۍ په سر سره اخلي او ږدي او ټوپك او توري ته لاس ورتيروي . جنګ د شرم کار دی ، مګر جګړه مارې ډلې نه شرميږي . يو جانب هم ځان ملامت نه بولي او هغه بل ته د ملامتيا ګوته نيسي . دا حال به تر څو وي او تر څو به اولس په کړاوکې وي او تر څو به د بشر د حقوقو نه سرغړونې کيږي او تر څو به مور خلکو ته د خجالت نه پورته کتلی نه شو ؟ دوی په دې نه شرميږي چې نړيوال او د نړۍ راډيوګانې دوی ته د ( جګړه مارو ډلو ) خطاب کا او دا نوم د دوی څرنګه په ځان باندې پيرزو دی ؟ دوی بايد په درنو نومونو ياد شوي وای چې هيواد ورسره درون شوی وای .

زه نه پوهيږم چې دغه جګړه مارې ډلې کله د ميوند جادې ته ورغلي دي که نه او کله دوی د چمن د صدر دوکانونه ليدلي دي که نه او داسې نورې خرابې او کنډوالې دوی ليدلي دي او که څنګه دوی به شرميدلي وي که نه ؟ وايي چې يو طبيب و ، کله به چې په هديره باندې تيريده نو مخ به يې پټ کړ او په منډه به شو ، چا ورته وويل چې : مخ ولې پټوې او منډې ولې وهې ؟ ده ورته وويل : ( که رښتيا ووايم چې دغو قبرونو نه ګورم ما ته شرم او حيا راځي ، دلته ډير زما د لاسه پراته دي ) . زه نه پوهيږم چې دغه جګړه مارې او وسله والې ډلې چې په هديرو تيريږي او سرې جنډې هلته ويني دوی به ورنه

شرمیږي که نه او کله چې دوی د تګاو او حصارشاهي په کمپونو کې تیریږي مخ به پټوي او منډې به وهي که عادي تګ به کا او د کومې اغیزې لاندې به نه راځي ؟

۱۱ – د هیواد د جنګونو او اخ وډب بل لوی عامل د خارجي هیوادونو مداخلې دي ، دوی نه پریږدي چې هیواد پخپلو پښو ودریږي او خپل لرغونی تاریخ راژوندی کا ، دوی په دې فلسفه دي چې که ښه ژوند غواړی همسایه کمزوری ساته . دوی نه غواړي چې د دوی په اړخ کې دې یو قوي افغاني دولت تبارز وکړي ، بلکې دوی غواړي چې لکه دا شپاړس کاله افغانستان کنډواله دی همداسې د کنډوالې په حال کې یې وساتي . که افغانستان کمزوری وي ، د دې هیواد ټوله ملي شتمني ګاونډیو هیوادونو ته ورانتقالیږي او هغوی وربانديې شتمن کیږي او لاړه یې تیریږي . زموږ په هیواد کې چې جنګونه اوږده شول او تودې جګړې مینځ ته راغلې یو عامل یې همدا د خارجي هیوادونو ښکاره مداخلې دي .

دا چې خارجي هیوادونه جګړه مارو ډلو ته پیسې او وسلې ورکوي دا کار د افغانانو د کړاو ، رنځونو ، غمونو او قتل وقتال علت دی ، که خارجي هیوادونه دغه بیځایه مرستې ونه کا ، زموږ خلک غیرقانوني چوکۍ ته نه تشویقیږي او نه ورباندې ټینګار کوي .

۱۲ – بل ستر عامل چې د افغانستان د جنګونو ، مرګونو او چور چپاول سبب وګرځید هغه دا و ، چې د پیښور په غونډه کې د تنظیمونو مشران یو تربله سره جوړ او قانع نه کړای شول او د عجلې نه کار واخیستل شو او د هیواد دروازې یې تنظیمونو ته بیرته کړی او دوی یې د افغانستان په لور خوشې کړل . لومړی باید دغه مشران قانع کړی شوی وای ، دوی سره پخلا کړی او آشتي شوی وای ، هر یوه ته

يی خپل سهم او دوره تېاکلې وای او بیا یې دا کار کړی وای . دا کار به مضبوط راغلی وای او دومره افغانان به نه ستړ کیدل لانجه به نه جوړیدله خو کار ټولې عجلې وران کړ .

د دغو پورته عواملو او فاکتورونو له کبله افغانانو پخپل مينځ کې سره لاس په گریوان شول ، مړه شول ، کورونه يی تالا او وران شول ، د پوهنې چارې معطل شوې ، صحي خدمات له مينځه لاړل ، پلونه او سړکونه ویجاړ شول ، افغاني قومونه يو تربله سره دښمنان شول ، ميندې بورې او ښځې کونډې شوې ، لوږې راغلې او تندې راغلې ، بدبختۍ راغلې ، علم د هیواد نه فرار وکړ ، وروسته پاتی شولو او جگړې لا روانې دي نه غلې کیږي او شر به يی کوم ځای ته ووزي . لنډه دا چې زموږ ټولې چارې خرابې شوې او ښايسته کورنۍ مو ویجاړې شوې .

دغو جنگونو چې وسله والو ډلو او جگړه مارو تنظیمونو پیل کړی دي ډیرې بيخوندۍ او نادودي مينځ ته راوړې ، د دغو نادودو نه يوه زموږ په هیواد کې د بشر د حقوقو نقض دی . موږ د بشر د حقوقو باید درناوی کړی وای او په ټوله مانا مو د هغو مراعات او احترام ساتلی وای او دا ځکه چې موږ افغانان يو ، زموږ قول او عمل يو دی او مسلمانان يو چې کوم عهد او لفظ وکړو هغه به نه ماتوو او د وعيد لاندې به ځان نه راولو .

زموږ تیرو مشرانو او دولتي رجالو د بشر حقوق په بین المللي سویه منلي دي او تعهد يی کړی دی چې د بشر د حقوقو اعلاميه موږ منلی ده او احترام او درناوی یی کوو او دا خبره چې زموږ هیواد کې يی اوس د بشر حقوق تر پښنو لاندې کړی دی په ډیرو سندونو کې راغلی ده .

د ۱۹۸٤ کا د دسمبر په لسمه نیټه چې د ملگرو ملتونو د عمومي ټولنې له خوا د بشر د حقوقو کومه اعلاميه تصويب او ومنل

شوه . افغانستان د دغې ټولنې د يو وفادار غړي په حيث په همغه د تصويب په ورځ هغه ومنله او په هيواد کې يې متنونه د هيواد په رسمي ژبو خپاره شول او ټول هيواد وربانديې خبر شو او ټولو خلکو ومنله او چا د مخالفت غږ پورته نه کړ . د دغه رسمي سند يعنی د بشر د حقوقو ټول مواد چې ديرش مادې کيږي ټولې افغان دولت او ملت ومنلې او د هغو احترام او مراعات يې په ځان واجب کړ . په دې باره کې په هيواد کې ډير نشرات شوي دي او د هرې مادې سره يې خلك اشنا دي ، نو موږ ولې دغه موارد نقض کړو او خپل افغانيت له لاسه ورکړو او خپل افغانيت خام کړو او نړۍ ته ځان بې اعتباره کړو . هو ! جنګونه او غمونه دي چې د بشر حقوق نقض کوي او هغو ته په سپکه ګوري ، په دغو جنګونو کی چې جګړه مارو ډلو پيل کړی دي قسم قسم او رنګ په رنګ د بشر د حقوقو نه تيری شوی دی چې د ټولو شميرل دلته او د هغو ذکر د امکان نه وتلې خبره ده ، د بشر د حقوقو هره ماده چې راواخلو چې بايد احترام يی شوی وای دلته په دغو جنګونو کې نقض شوې ده او تيری وربانديې شوی دي .

د بشر د حقوقو په اعلاميه کې راغلي دي چې ټول خلك په بشري حقوقو کې سره مساوي دي ، مګر د هيواد په اوسنيو شرايطو کې داسې نه ده او دغه ماده نقض شوې ده . هغه خوك چې ټوپك لري او د يو څه قدرت څښتنان دي د ژوند د ټولو حقوقو نه ګټه اخلي او عيش او عشرت يی جوړ دی او بالعکس هغه وګړي چې وسله په لاس نه لري هغه د هر څه نه محروم دي حتی په ګيډه وږي او په جامه بربنډ دي . په اعلاميه کې راغلي دي چې تبعيض لغوه دی مګر دلته چې موږ ګورو قومي امتيازات دي ، قومي تبعيض دی او هره متحاربه ډله پخپلو خلکو نظر ساتي او نور د نظره غورځوي . په نوموړې اعلاميه

کې راغلي دي چې هر څوك د ژوند مستحق دی ، مګر دلته د ژوند سره لوبې کيږي ، په اعلاميه کې ويل شوي دي چې هر څوك د امنيت او آزادۍ مستحق دی . دلته امنيت چيرې دی ؟ څوك دی يې وښيي او دلته آزادي چيرې ده او دلته د بيان آزادي چيرې ده ، څوك يوه کلمه نه شي ويلی ، مسالمت آميزه مظاهره نه شي کولای ، مقاله او مضمون نه شي ليکلای او آزاد اخبار خو بيخي نه راپريږدي .

د بشر د حقوقو په اعلاميه کې د شکنجې ورکول منع دي ، وبه ګورو چې دا وضعيت دلته څرنګه دی ، دلته خلك په کانتينير کې اچول شوي دي او بيا اور ورباندې بل شوی ، د خلکو په سرونو باندې ميخونه وهل شوي دي او د چا پوزې پرې شوې دي ، آيا د دې نه لويې شکنجې شته او دا د بشر د حقوقو نه څومره لوی تيری دی ؟

د بشر د حقوقو په اعلاميه کې راغلي دي چې ټول خلك د قانون په مقابل کې برابر دي ، خو دلته لومړی قانون نه شته او که بيا نيم او نيم کله موجود وي هغه په ټولو يو رنګ نه تطبيقيږي ، څوك پکې رنګ شول او څوك پکې زنګ .

په ذکر شوې اعلاميه کې بې د محکمې د حکم نه توقيف او حبس منع دی ، مګر هره وسله واله او جګړه ماره ډله خپل شخصي محبسونه لري او په کلونو کلونو خلك پکې بې د محکمې د حکم نه پراته دي آيا دا د بشر د حقوقو نه تيری نه دی ؟

په اعلاميه کې راغلي دي چې تبعيد پخپل هيواد کی وي او که خارج ته وي منع دی ، اوس به وګورو چې زموږ په هيواد کې څرنګه چل دی ؟ ډير خلك د جګړه مارو ډلو له ويرې د هيواد د يوه ولايت نه بل ته تښتيدلي اويا د دوی د راکټونو او توپونو له کبله فرار شوي او تښتيدلي دي . دغه د ننګرهار په ولايت کې کمپونه وګورئ چې څومره

خلك پکې پراته دي او خپل آباد کورونه یې پرېښې دي ، آیا دا یوه نوعه تبعید نه دی او دا د بشر د حقوقو نه تیری نه دی ؟ او همدارنګه تاسې وګورئ چې څومره خلک خارج ته فرار شوي او تبعید شوي دي چې زیاتره یې تعلیم یافته او د کمال څښتنان دي ، دوی چې د راکټونو او بمونو نه تښتیدلي او فرار شوي دي ، د دوی سره علم او کمال هم د هیواد نه فرار شوی دی ، د دغه کمال او علم نه باید په هیواد کې کار اخیستل شوی وای ، اوس زموږ د پوهې او کمال نه په خارج کی استفاده کیږي .

دوه کاله وړاندی زما د اعصابو ډاکتر په کار و ، خپل مریض مې باید وروستې وای ، په ټول کابل کې وګرځېدم یو د اعصابو ډاکټر مې پیدا نه کړ ، له یوې خوا د اعصابو ډاکټران لږ دي او له بلې خوا چې کوم دي هغه د جنګونو او راکټونو له امله تښتیدلي دي ، زه مجبوره شوم چې خپل مریض مې پیښور ته راوست . هلته په کابل کې په هغه وخت کې د لوی ډاکټر فیس زر افغانی و ، مګر په پیښور کی رانه ډاکټر درې سوه کلداری واخیستې چې اتیازره افغانی ورنه جوړیدلې او د دوه کسانو دوه طرفه خرڅ وړاندې د پاسه شو .

زه چې د پیښور په سړکونو باندې ګرځم او پورته لوحو ته ګورم ډیرې لوحې وینم چې زموږ د مشهورو ډاکټرانو دي ، زموږ د انجنیرانو دي او زموږ د لاسي صنایعو د څښتنانو دي . دا خو یوه برخه ده زیاتره برخه یې نورې نړۍ ته تللې ده او نوره نړۍ زموږ د بشري قوې نه ګټه اخلي ، پخپله په هیواد کې هیڅ نه دي پاتې .

زموږ هغه مهاجرین یا په بله ژبه هغه تبعیدیان چې نورې نړۍ ته ځي هغوی یې بیرته راوباسي ، دوی ورته وایي که موږ بیرته خپل هیواد ته ستانه کړئ موږ هلته د راکټونو او جنګونو د لاسه مرو او یا

وایی موجوده حاکمان زموږ دښمنان دي که لاس ته ورشو موږ وژني ، زموږ فراریان چې دا عذر وړاندې کړي د خارجیانو زړه وریاندې وسوځي او خپل هیواد کې یې پریږدي او داسې یې نه پریږدي چې آزاد وګرځي بلکې مخصوصو کمپونو ته یې بیایي او هلته په کړاو شپې سبا کوي . آیا دا خارج ته تبعید نه دی ، آیا دا د افغانانو لپاره تحقیر نه دی او دا د بشر د حقوقو نه تیری نه دی ؟

د بشر د حقوقو په اعلامیه کې راغلي دي چې د هرچا کور محرم او محفوظ دی بل څوك بې اجازې او په زور نه شي ورننوتلای ، زموږ په هیواد کې دا ماده بیخي نقض ده ، د جنګونو او ګډوډۍ له امله د هیچا کور محفوظ او په امن کی نه دی او وسله وال کسان بې اجازې او په زور ورننوزي تالا او چور کوي یې ، ښه ! په دې کار څه نوم کښېږدو ؟ د بشر د حقوقو نقض ورته ووایو که بل څه ؟

په اعلامیه کی راغلي دي چې شخصي لیکونه محرم او محفوظ دي . اول خو پُستی سیستم نشته چې لیکونه څوك ورورړي او که برای نام کوم ځای کې وي ، هلته چې لیك سر ترپایه ونه لولي لیك نه اخلي .

د بشر د حقوقو یوه ماده داسې حکم کوي چې د یو هیواد سړی کولای شي چې د خپل هیواد هرګوټ او کنار ته لاړ شي او په دې کار کې دی آزاد دی ، اوس به وګورو چې یو هزاره پنجشیر ته تللی شي که نه او یا یو پنجشیری هزاره جات ته سفر کولای شي که نه ؟ او همدارنګه به وګورو چی یو پکتیاوال مزار ته تللی شي که نه او بالعکس . دا ټولې هغه چارې دي چې د بشر حقوق په خاورو منډي .

د بشر د حقوقو په نړیواله اعلامیه کی داسې هم راغلي دي چی هرڅوك د فردي ملکیت حق لري او څوك ورنه دا حق نه شي سلبولای ، مګر دلته زموږ په هیواد کې د جګړو او جنګونو په موده کې د خلکو

نه کورونه او شخصي زمکې واخیستل شوې او د بل په نامه قباله شوې او دا کار ځو ځو ځایه تکرار شوی او لیدل شوی دی . په اعلامیه کې ویل شوي دي چې د یو هیواد هره تبعه کولای شي او حق لري چې د خپل هیواد په ادارو کې کار وکړي او برخه پکې واخلي مګر زموږ په هیواد کې دا حق په ښکاره تلف شوی دی . د هیواد په ځینو برخو کې چې څوک کار ته مراجعه وکړي نو که په پخواني حکومت کې یې کار کړی وي کومه سیاسي عقیده ولري هغه ته کار نه ورکول کیږي چې دا هم د بشر د حقوقو نقض دی .

په اعلامیه کې راغلي دي چې هرڅوك او د ټولنې هر غړی د استراحت ، تفریح او صحت حق لري چې دا حق د ځان او خپلې کورنۍ لپاره وغواړي مګر کومه دی او کله به څوك دغسې ښه ژوند ته ورسیږي . په اوسنیو شرایطو کې دا هسې خوب وخیال دی او هرڅوك او د ټولنې هر مساعد غړی د ښوونې او روزنې حق لري ، خو دغه کار لکه چې موږ یې وینو له مینځه تللی دی ، څه معلمان او ښوونکي مړه شول او څه وتښتیدل او مکتبونه او مدرسې ورانې شوې ، نو تعلیم څرنګه څوك حاصل کړا او په کوم ځای کې تحصیل وکړا ، هلکان په کوڅو او بازارونو کې بیکاره او لېر ګرځي او زیاتره یې بدعمله شول او چرس او پوډر په جیب کې ګرځوي .

په افغاني خاوره کې د وسله والو ډلو او ټوپکوالاوو له لاسه ډیر بیخونده او د جنایت نه ډك کارونه کیږي ، ماشومان او ځوانان یرغمل نیول کیږي او پیسې وربانډې اخیستل کیږي او که پیسې ورنه کا د مرګ د تهدید لاندې راځي . په ښځو تیری کیږي او د دوی عفت مضؤون نه دی ، د پیسو او وسلوپه زور پیغلې نجونې اویا کلن بوډا په نکاح کوي . د دې هیواد په ډیرو برخو کې لوږه زیاته شوې ده او

خلك له قحطۍ سره مخامخ دي او داسې نورې زړه دردوونکي پېښې دروانخلۍ چې دا ټول د بشر د حقوقو نه تيرى دى او دا حقوق قبر ته سپاري .

وسله والي ډلې د ځان د ساتلو او د نورو د وژلو په خاطر د ځان نه د ماينونو حلقې راتاو کړې دي او څو کيلومتره ليرې ځمكې د ځان نه فرش کړې دي . په دغو ماينونو باندې نه يوازې دا چې دښمن مري ،نور ولسي خلك هم مري ، ماشومان او ښځې مري ، سپين ږيري او سپين سرې مري او کونډې او رنډې وړباندې هلاکيږي . وګورئ چې اوس په افغانستان کې څومره معيوبين او ناقص الاعضاء خلك دي چې د چا پښه نشته ، د چا لاس او ټول شل شوي دي او بيكاره ګرځي او د نورو د اوږو بار دي .

يوه شپه په تلويزيون کې يو ځوان وښودل شو چې دواړه لاسونه يې بر په مټو کې قطع شوي وو . په دغه وخت کې ما نه چا پوښتنه وکړه چې دى به لمونځ او اودس څرنګه کوي ، ما ځواب ورنه کړای شو او لا تراوسه پورې مې ځواب ورته نه دى موندلى . دا غريب هم د ماينونو قرباني و ، که تنظيمونه بالفرض سره جوړ هم شي د ماينونو خطره به تر ډيره پورې موجوده وي او زمونږ خلك وړباندې مري او معيوب کيږي به او دا فاجعه به تر ډيره پورې روانه وي .

# تنظیمونو چې قدرت په لاس کې ونیو څه پېښ شول ؟

پخوا له دې نه چې تنظیمونه قدرت ته ورسیږي د ډاکټر نجیب حکومت ښه په قوت او زور کې و او د افغانستان د ټولو ولایتونو مرکزونه او ښارونه د ده په واك کې وو او چا دا فکر نه کاوه چې دا رژیم به دومره زر رانسکور شي . د زماني په بطن کې هررنگه پیښې مینځته راځي او خلك نوي نوي واقعات ویني ، له بده مرغه نجیب یوه سهوه وکړه چې جنرال دوستم او د ده ملیشو ته یې زیات اختیارات ورکړل او دوستم یې ښه نازاوه او ځان ته یې ډېر نژدې کړ ، دا ناز او امتیاز د دفاع د وزارت په طبیعت برابر نه و او جنرل شهنواز تڼی چې په هغه وخت کې د دفاع وزیر و،هغه هم د خپلو منسوبینو لپاره دغسې امتیازات غوښتل ، خو نجیب ورسره موافقه نه کوله .

له دغه ځای نه د نجیب او تني په مینځ کې د مخالفت او مخاصمت لړۍ پیل شوه او خبره کودتا ته ورسیده ، دغه کودتا ناکامه شوه او نجیب په قدرت پاتی شو ، مگر په مریی او یاغیر مریی ډول سره د ده د جنگي ماشین پرزې کمې شوې او ماشین ورځ په ورځ کمزوری کیده او دا کار که بل چا نه شو لیدای د اردو جنرالانو او نظامیانو ښه حس کولای شو . له بلې خوا ببرك کارمل د مسکو نه هیواد ته راستون شوی و او د اردو په جنرالانو باندې یی چې د ده د وخت نه راپاتې وو د نجیب د رژیم په ضد گوتې وهلې . له همدې کبله د پرچمیانو په لیکو کی ښکاره اختلاف بروز وکړ او بې اعتمادي زیاته شوه ، پرچم دوه ټوټې شو ، کارملي او غیر کارملي ، په دغه وخت کې تر ټولو لوړی جنرال مومن د نجیب نه سر واخیست او د عدم اطاعت بیرغ یې پورته کړ او دا ځکه چې دی جنرال و او د نجیب د جنگي ماشین په کمزوری پوهیده .

که څه هم په هغه وخت کې د مزار والي جنرال اخك اراده وکړه چې مومن په څو ساعتو کې وځپي او کار یې فیصله کړي ، خو نجیب دغه کار ته پرې نه ښود او د صبر توصیه یې ورته وکړه .

د دغو پورته ټولو شرایطو او گډوډیو په پوهیدلو او د موقع نه په استفادې سره د یو تنظیم محلي قوماندان دوستم ته ور وړاندې شو او د کابل د حملې پلان یی ورسره وڅیړه ، څرنگه چې ملا یی ورسره وتړله او بې له دې نه چې په پیښور کې مجاهدین په غونډه لگیا وو کومې قطعي فیصلې او قناعت ته ورسیږي د ائتلافیونو ټانکونه د کابل پولې ته ورسیدل . د تنظیمونو مشران چې په خبرو بوخت وو او په دې وضعیت خبر شول د غونډې نه پاڅیدل ، څادرونه یې څنډ وهل او د کابل په لور یې منډه کړه ، ولې لږ وړاندې ناوخته و .

په دغه وخت کی د نجیب طیارې ته میشو چې د ده نژدې

اعتمادیان وو د هند په لورې د الوتونی اجازه ورنه کړه ، مجیب بین المللي تعمیر ته پناه یووړه او ټول دولتي نظامي مرکزونه بې له کوم مقاومت نه د تسلیم په حال کی شول ، که څه هم دوی ته د کارمل له خوا ویل شوي وو چې یوازې به یو خاص تنظیم ته تسلیم شي ، مگر هرتنظیم به چې ورمخکې شو هغه ته به تسلیمیدل او خپلې وسلې به یی ورسپارلې . ټول تنظیمونه په کابل باندې ورننوتل ، څوك لږ مخکې او څوك وروسته ، گټه هغو وکړه چې مخکې ورننوتل ، ځینو نظامي مرکزونو د جوادیت نه کار واخیست او هرڅوك به چې ورتلل که د تنظیم سړی به و او که غیرتنظیمي به و ؛ وسله به یی ورکوله . په دغه وخت کی زه پخپله په کابل کې وم او حال مې پخپلو سترگو لیده ، ما ته هم زما گاونډیانو وویل چې راځه د وسلو ډیپو ته ورشو او څو ټوپکونه ورنه راوړو . ما ورته وویل چې : شاه گل د ډزو نه دی ، زه وربانديې ډزې نه شم کولای نو څه یې کوم . دا نو هغه وخت دی چې په کابل باندې ټول تنظیمونه لکه میږې او ملخ راټول شول او هر یوه غوښتل او هڅه یی کوله چې دولتي مرکزونه او ماڼۍ ونیسي او زیاتې وسلې لاس ته راوړي ، په دغه باره کی رقابت او سیالي پیل شوه او نړ هغه دی چې مهم ځایونه ونیسي او په ستراتیژیکو ودانیو او غونډیو لنگته واړوي . دا کار ټولو ته یوه اندازه ورسید ، خو ائتلافیونو پکې زیاته گټه وکړه ، ارگ ، بانك او هوایی ډگر د دوی سره شو چې همدا درې د دولت مهم ارکان دي او دولت په همدې دریو ولاړ دی او خارجه وزارت هم چې د ارگ په څنگ کې دی،د دوی په لاس کی لویدلی و او حکومتي دستگاه د دوی شوه ، جناب حضرت صاحب مجددي د پیښور د پریکړې په اساس په ډیره زړه وره توگه په داسې حال کې چې ډز او ډوز روان دی په ارگ ورننووت او په اصطلاح په تخت کښیناست .

دا د ستراتیژیکو ځایونو نیول د تنظیمونو لومړۍ مسابقه او سیالي وه او چې دا بزکشي تیره شوه نو د دولتي مالونو په چور او لاس ته راوړنه کی رقابت پیل شو او سرکاري مالونه ټول داسې تالا والا شول ، لکه چې هیڅ شی د ښار په مینځ کې موجود نه وو ، حتی دولتي میزونه او چوکۍ ګانې هم پاتې نه شوې .

څرنګه چې پر کابل ائتلافیون حاکم شول ، نو نورو سترو تنظیمونو ته دې خبری زور ورکړ او د ځان سره یی ویل چې : توری به لالا وهي – مړۍ به عبدالله . یعنی په جهاد کې زیاته برخه مونږ اخیستې ده ، ډیر شهیدان مونږ ورکړي دي او ډیر دښمنان مونږ وژلي دي او اوس بادشاهي نور کا ، نو ښه توده جګړه یې پیل کړه ، دواړو خواوو د ټانکونو ، توپونو ، راکټونو ، ماشینګنو او د ټولو وسلو نه چې د دوی په لاس کې وې استفاده وکړه او یوه جانب د بل په مقابل کې استعمال کړې او داسې بیرحمه او بې احتیاطه ګوزاونه یی سره وکړل لکه چې په کومه دښته کی جنګ روان وي او هلته هیڅ کورنه او ملکي کسان نه وي . دوی سره دا سودا ، دا فکر او دا مسؤولیت نه و چې دا د ښار مینځ دی ، دلته کورونه دي ، دلته خلك دي او دلته د خلکو سرمایه او شته دي ، نه دا فکر ورسره نه و او اړم وو ډزې یې کولې ، توپونه یی ویشتل او راکټونه یی ګوزارول چې نتیجه هغه شوه چې دومره ورانی او مرګ ژوبله مینځته راغله چې په تیرو څوارلسو کلونو کی دومره بیخوندي نه وه شوې . د دوی نوم بد شو ، جهاد ته صدمه ورسیده او په ملکونو کې یې د افغانانو شهرت ته زیان ورساوه او ویه ګورو چې د جنګونو او د دغو شخړو نتیجه څه شوه او څومره ګټه یې وکړه او چا ورنه ګټه پوره کړه .

په دغه وخت کې به چې چا د کابل ښار ته وکتل چې شین بوټی او

شنه ونه به پکې نه ښکاریده او نه پکې روغه ماڼۍ او تعمیر و ، نو داسې ګومان به یې کاوه چې په دغه ښار باندې ... راختلي دي ، چنګیز خان او هلاکو وریاندې تیر شوي دي او یاجوجو او ماجوجو دغه څنډه وهلې ده ځکه چې د مذهبي روایاتو سره سم یاجوج ماجوج چې کوم ځای ووهي هلته ونه او غنم او شین بوټی نه پاتې کیږي او هر څه د ځان سره وړي .

یوه هفته نیمه چې تیره شوه د پاکستان په وساطت یو څه نسبي کراري راغله او خلکو یو څه د آرام سا وایستله ، په دغه وخت کی د پاکستان حکومت د خپلو مالونو لپاره د خپل سرحد دروازې بیرته کړې او د افغانستان په لور یې راولیږل او د دومره سخاوت نه یې کار واخیست چې حتی د تار او ستنې پورې یې هرڅه په زیاته پیمانه راصادر کړل ، یعنی اوړه ، غوړي ، تیل ، غواګانې او میښې یې راولیږلې ، قسم قسم میوې او ترکاری یې راچالان کړې ، رنګا رنګ رختونه او ټوکران ، پټوګان او زړوکي ، څادرونه او لنګۍ ، تولیه ګانې او مختلف دسمالونه ، روجایی ګانې او جای نمازونه او د برق او بریښنا مختلف سامانونه او د ماشومانو جامې او داسې نور شیان یې راوړل ، که دلته په افغانستان او کابل کې د چوکیو د نیولو او د زمکو د تصرف او چور او تالان مسابقه وه هلته په پاکستان او پیښور کی د مارکیټونو په مینځ کی د مالونو د صادرولو او افغانستان ته یې د راوړلو مسابقه او سیالي وه او هر هټی وال او مغازه دار او هر شرکت کوښښ کاوه چې ډیر مالونه او سامانونه ولیږي او ډیرې پیسې پیدا کاندي او په دې کار کې یې سیالي سره کوله . هو ! زموږ سیالي او مسابقه هغه وه او د دوی دغه .

دا مالونه دومره ډیر شول چې حتیٰ د پاخه او عمومي سړک په

غاړو کې نه ځایېدل ، نو خبره د فرعي سړکونو څنډو ته ووته او دومره ارزاني راغله چې تاجرانو به ویل چې په دغه قیمت مونږ دا شیان په پاکستان کې نه دي اخیستي . د کابل خلکو چې دا پرېماني ولیده او دا ارزاني یې حس کړه ، نو تعجب یې کاوه چې دا څنګه پاکستان دی چې د خپل مصرف نه زیات دومره شیان لري .

په هیوادوالو باندې یوه خوږه دوره راغله مګر د نذره شول او بیرته جنګونه پیدا شول ، دغه موجوده مالونه خاورې ایرې او هغه او دغه شول اونور بیا رانغلل او نه دومره پرېماني او ارزاني شوه .

د دې برخې عنوان دی چې ( تنظیمونو قدرت په لاس کې ونیو ) هو ! عنوان همداسې دی خو مجاهدینو قدرت ونه نیو ، بلکې یوه ځانګړې تنظیم قدرت په لاس کې واخیست او جنګونه ټول له همدې نه پیښ شول ، دغه یوه تنظیم هلې ځلې کولې چې خپل قدرت وساتي او دوام ورکړي ، یو څه وخت یې د پیښور د غونډې نه استفاده وکړه او په قدرت یې ځان ټینګ کړ ، بیا یې د لویې څارنوالی د پریکړې نه ګټه واخیسته کومه چې دغه تنظیم پخپله جوړه کړې وه ، هغه وخت او موعد چې په خلاصیدو شو خو بل چا استعفا ته پرې نه سنود او خارجیانو هم تشویق کړ چې پخپل منصب پاتې شي . دلته یې او په دغه وخت کې یې سیاسي هلو ځلو ته زور ورکړ ، کله یې یو تنظیم تشویق کاوه او کله یې بل او یو څو دانې غوزان یې په جیب کې وراچول مګر په اصل قدرت کې یې څوك د ځان سره نه شریکول او نه یې چا ته پوره برخه ورکوله .

له کومې ورځې راهیسې چې تنظیمونو قدرت په لاس کې ونیو د افغانستان توره ورځ نوره پسې توره شوه او د غم د پاسه غم شو ، له یوې خوا د قدرت انحصار و او له بلې خوا د تنظیمونو دغه انحصار په

نورو انحصارگرو باندې پیرزو نه و او غوښتل یې چې نور انحصارگر له پښو وغورځوي او دوی د قدرت په گدۍ کښېني ، نو جنگونه ورځ په ورځ تودیدل او نوی بڼه یې غوره کوله او عام خلك پکې ستړي کیدل او چا یې پروا نه کوله او نه چا کوم مسؤولیت حس کاوه ، همداسې بدبختي روانه وه او خلك او ولس په تکلیف او کړاو کې وو او د قیمتی او قحطی سره لاس په گریوان وو او بې د وسله والو ډلو ، د گوتو په شمیر د ځینو ولسي خلکو ژوند هم چې به چالاك و سنه شوی و ، یعنې په ولس کې هم افراط او تفریط و ، یو څو کسانو ژوند ښه کړی و او د تنظیمونو سره په چور او چپاول کې شریك وو ، تنظیمونو به د کورونو مالونه یوووړل او دغو چالاکو ولسي خلکو به د خالي کورونو نه لاړي او تیران ، ثمبې او کړکۍ او الماری اولرگي وړل . هو ! دغو چالاکو کسانو غلا شوي او لوټ شوي مالونه ټول نه هضمول او نه یې هضمولی شي ، بلکې تنظیمونو او د پوستو والاوو ته یې فیصدي ورکوله او هغوی یې خوشحاله ساتل ، همدا لوبه روانه وه او همدا لوبه ده روانه ده او ژوند هم روان و او د ژوند جاله بیخي نه چپه کیدله .

د ۱۳۷۲ کال د جدي په لسم په مازیگر کې د نادر پښتون په جاده کې وم ، ما یو شی اخیست او په هغو لکسو او لویو مغازو کې پسې وگرځیدم ، هرې مغازې ته به چې ما سر ښکاره کړ نو داسې لکس او قیمتي مالونه او شیان به پکې وو چې انسان به ورته تعجب کاوه ، څو قسمه رنگه جاپاني او امریکایی تلویزیونونه ، جاپاني ویدیوگانې ، ټیپونه ، غټې او وړې راډیوگانې او جاپاني او چینایی ترموزونه ، روسي نکلي سامانونه او د کور او د ژوند نور رنگارنگ سامانونه تر د برقي زینتی شیټونو پورې پکې موجود وو چې قیمت یې سوو میلیونونو ته رسیده . مغازه داران خوشحاله او آرام ښکلومیدل ، آرام

ځکه وو چې کورونه یې په مأمونو ځایونو کې وو او خوشحاله ځکه وو چې جیبونه یې ډك وو ، د هر یوه په ځنګ کې به د پیسو سیف ولاړ و او چې کوم شی به یې خرڅ او وپلوره نو پیسی به یې سمدستي په سیف کې واچولې او پسې قلف به یې کړ ، دوی فکر کاوه چې همیشه به همدا وضعیت وي ( تل به ناصر خان وي او تل به یې سره اوښان وي ) او د زماني د پیر او د عصر د نیرنګ نه غافل وو .

ماښام کور ته بیرته راغلم او په لار کې مې چُرت واهه چې د خلکو ځنګ ښه ژوند دی ، څومره پیسې او دولتونه لري او زه هیڅ نه لرم ، حال دا چې څلویښت کاله مې ماموریت وکړ ، یوازې ګټل او خټل کوم او بس ، خواشیني او خپه په لاره روان وم ، خو بیا به په زړه کې د پلار خبره رایاده شوه چې ده به تل ویل چې لږ خوره تل خوره ډیر خوره ګنډیر خوره ، لږ به مې زړه ښه شو .

تقدیر ته ګورئ چې څه کا ، نور تنظیمونه له حکومتي انحصار نه په تنګ راغلي وو او په حاکمانو یې دغه انحصار پیرزو نه و ، نو دواړو سره لاس یو کړی و او په دې فکر کې وو چې په دوو ساعتونو کې به د رباني حکومت له پښو وغورځوو او قدرت او دولت به دوی په لاس کې ونیسي ، مګر دوی په دې اټکل کې تیروتي وو . د هماغې شپې په پنځو بجو یې د رباني د حکومت په ضد په ګډه عملیات پیل کړل او داسې جګړه ونښته چې په دې تیرو کلونو کې یې مثال نه و ، جګړه ډیره توده او درنه او د ټولو جنګي وسایلو نه پکې استفاده وشوه دواړو خواو درنې او ثقیله وسلې استعمال کړې او په ځینو ځایونو کې لاس په لاس جنګونه هم وشول . دا هغه وخت و چې خلك لا په خوب ویده وو ، په دغو ډزو راویښ شول ، ټول د ډزو د لاسه په کورونو کې بند پاتې شول او د وتلو او تښتیدلو امکانات نه وو ، له یوې خوا د شپې

تیاره وه ځکه چې په جدي کې په پنځو بجو لا تیاره وي او له بلې خوا بې شمیره ګولۍ وریدلې ، توپې غړمبیدلې ، ټانکونه غریدل او راکټونه د کورونو په سر تیریدل او یوه برخه یې د نادر پښتون په جاده لګیدل هغه چې ما مازیګر په ډیر ډول او فیشن کې لیدلې وه ، که رښتیا درته ووایم قیامت جوړ و ، ځینو راکټونو او ګولیو هدف خطا کاوه په کورونو لګیدل د هماغه کور د زړه نه خدای خبر و چې راکټ به پکې لګیدلی و او څو کسان به پکې مړه وو ، ( زمکه هغه سوځي چې اور وربانديې بل وي ) غم و او که درد و په هماغه کوربه و او نورو خلکو به کیسې کولې چې په فلاني کور کې راکټ لګیدلی او دومره کسان یې وژلي دي او په فلاني کور لګیدلی دی دومره کسان یې مړه کړي دي .

دا داسې تود جنګ و چې هیڅ نه سړیده او همداسې مسلسل پخپل شدت کې روان و او داسې بیرحمه جګړه وه چې هیڅ د انسان او ولسي خلکو د ژوند سوال پکې نه و ، هرجانب زر زر ډزې کولې او زر زر یې راکټونه او ګولۍ ویشتلې چې دا وسنیي چې موږ په زور کې یو . دلته مهم د ګولۍ ویشتل وو او دا مهم نه وو چې ګولۍ هدف او خپله موخه ولي که نه ؟ زیاتره غم په هغو کورونو و چې مینځ کی به یې د جګړه ماړو پوستې پرتې وې .

ځینو جګړه مارو ډلو د دې لپاره چې ځان بچ کړي او نور د بلا خولې ته سپر کړي او یا په نورو ځان وساتي ، نو د ولس او کورونو په مینځ کې به یې پوستې جوړولې او جوړوي یې او په دغو پوستو کې ځان یوه اندازه په امن کې ویني ، ما یو ټانك پخپله لیده چې ځان یې د لرګیو په یوې غرفې پورې تښلولی او پټ کړی و ، خو دومره کار سنه و چې دا غرفه د یو قصاب وه ، څوك به چې په لاره تیریدل یوه به بل ته ویل : وګوره چې ټانك د لرګیو په غرفې پورې پنا اخیستی ده ،

هغه بل به ورته ويل که په دي ټانك راکټ راخوښي کړي غرفه والا به پکي هلاك شي .

خبره د نادر پښتون د جادې وه ، په دغه ځای کې جګړه سخته توده وه او د جنګ ثقل تقریباً همدغه ځای و دغه ځای ته مرغه نه شو ورتللی ، دغه آباد او ډك دوکانونه او مغازې يوازې وسله والو چوړ او تالا کړې ځکه هغې خواته ملکي کسانو ورکتلی هم نه شول ، مغازه دارانو یوازې خپل سر او تندی واهه او نور یی هیڅ د لاسه نه کیدل ، دوی به ویل : کاشکې هغه نغدې پیسې خو مو له ځان سره راوړې وای . هغه مغازه داران او سیتان چې زه یی د ژوند په ارمان کی وم د ما نه بتر شول او زه ورپورې باچا وم ، زما یو غم و ، د دوی سل ، ما ته د شپې خوب راته مګر دوی ته خوب نه شو ورتللی ، زه روغ پاتې شوم دوی سودایان شول ، زه په لږه اموخته وم هغه رارسیده ( لږه خوره تل خوره ) دوی په ډيره اموخته وو هغه نه وو .

زه چې د نوموړې جادې په وضعیت خبر شوم نو د ځان سره مې وویل چې : دا جاده زما سترګو ووهله ، خو بیا مې د ځان سره فکر وکړ چې زما سترګې خو بدې نه دي او نه زما سترګو وهلې ده ، دا هغو سترګو ووهله چې د څه مودې راهیسې یی څارله او د همداسې ورځې انتظار یی ایسته . زه دغه متل بیا تکراروم : لیوه د خدایه څه غواړي -- باد او باران .

دغه د جدي د لسمې جنګونه ډير بيرحمه او په لوړي سر کې ډير تاوده وو ، خلك په کابل کی بند پاتې شول او د ګولیو او راکټونو له ډاره بیرون نه شو وتلې او نه یی د کابل نه هجرت کولای شو ، هرچا غوښتل او خصوصاً بیا هغو خلکو چې په سیمه کې یې جنګونه وو چې کابل نه امن ځای ته لاړ شي ، خو دا کار امکان پذیر نه و او ټول

محصور وو او حتی ډیپلوماتان او خارجي اتباع هم بند پاتې وو او د وتلو فرصت یې نه موند .

په جرمني ژبه کې یو متل دی چې ( بلا ځانله نه راځي - بلکې اووه بلاګاني هم د ځان سره راولي ) . دلته یوازې همدا د جنګ بلا نه وه نورو بلاګانو هم خولې وازې نیولې وې ، د چا کره اوړه او غوړي نه وو چې پاخه یې کا ، ځکه چې بازار بند و او نه څوك بازار پورې تللی شو . د چا په کور کې تیل او لرګي نه وو . له بلې خوا د کابل د جدي ساړه وو ، چا ته مریضان پراته وو ، باید ډاکټرانو ته یې وروستي وای خو بلا دا وه چې نه ډاکټر و ، نه یې معاینه خانې وې او نه چا وروستلای شول ، که دا بلاګانې حساب کړو او دا بدبختی جمع کړو خبره اوو ته رسیږي ، دلته خبره د مریض او ناروغ را یاده شوه ، زه په دې برخه کې تاسې ته خپل سرګذشت او برخه لیك په واقعي بڼه بیانوم چې دغو جنګونو کله چې مجاهدینو قدرت په لاس کی ونیو ولس ته یی څه ارمغان راوړ او په ولس یی څه لوبې وکړې او زه پخپله څومره ورنه متأثر او متضرره یم :

د جدي اتم دی ، جنګونه لا پیښ شوي نه دي او یوه اندازه کراري ده ، زما یو لس کلن زوی په محـرقه پریوت ، ډاکټر نسخه راکړه او وې ویل : تود یی وساتئ او کله کله ما ته راځه د مریض حال راته وایه ، ناروغ په کټ کی پروت دی او تود یی ساتو چې د جدي د لسم شپه راغله ، جنګ پیل شو ، جګړه مارو ډلو لا د مخکې نه تیاری نیولی و او جګړې ته چمتو وو ، دا بلا هم زما په قسمت وه چې زما کور د جنګ په محاذ کې و او ټول راکټونه زما د کور د پاسه تیریدل راتیریدل . زموږ د زړه نه یو خدای (ج) خبر و ، د هر راکټ سره به ماشومانو چیغې وهلې او له ویرې به ریږدیدل .

په مکروریانو کی زموږ خپلوان اوسیدل او هغه ځای نسبتاً سنه و ، موږ قصد وکړ چې هلته لاړ شو ، که په لار کې هرڅه پیښیږي توکل په خدای دی په منډه به ځو . مریض مو په شا کړ ، د تودې کوټې نه مو وایست او په منډه مو ځان ورساوه ، ډك کور مو همداسې پریښود او په خدای مو وسپاره . هلته مو ټکټك وکړ ، چا ځواب رانه کړ ، یو سړی هلته پیدا شو ، وې ویل : خلك لاندې زیر زمیني ته ښکته شوي دي ، د راکټونو نه ډاریږي . موږ هلته ورغلو چې گورو قیامت دی ، که د دې زیر زمینی صفت درته وکړم په یو ساعت کی به تمام نه شي له کومه وخته چی د مکروریانو بلاکونه جوړ شوي دي دغو زیر زمینیو او تاکاویو د لمر او د انسان سترگه نه ده لیدلې ، ما چی وشمیرل یوازې په دغو تاکاوی گانو کې له اوو نه زیاتې بلاگانی وې ، تیاره پکې وه باید د ورځې لاټین پکې رڼا شي ، رطوبت او لمده بل و ، بد بویی وه ، ساړه وو چې د یرش درجو ته رسیدل ، هډوکي پکې ډیر وو سپیو دلته راوړي وو ، د چرگانو او مرغانو بڼکې وې ، خو د خدای فضل و چې د یخنی له کبله خزندې پکې نه وې ، د مکروریانو ژوند په دغسې ژوند بدل شو او د دغو شرایطو سره هم انسان اړخ ولگاوه اوژوند یې پیل کړ . بله بلا دا وه چې ډیر ازدحام و ځکه چې ټول بلاك راښکته شوی و او دا هم بلا وه چې د حاجت ځای نه و ، د دې کار لپاره به خلك پاس خپل اپارتمان ته ختل ، هلته په اپارتمان کی اوبه نه وې ، نلونه وچ وو ، خلکو به په سطل کی اوبه د ځان سره خیژولې .

موږ د خپلو خپلوانو په څنگ کې کښیناستو او هغه مریض چې د ډاکټر د توصیې سره سم باید تود وساتل شي دغه یخچال ته مو راوړ . دغه لوی ماشوم خپلې مور د غیږې نه شپه او ورځ لیرې نه کړ ، تاسی فکر وکړئ چې څومره کړاو او تکلیف به یې ایستلی وي او څو سره به

زهیره شوې وې .

په دغه تاکاوۍ او زیر زمینۍ کې چې کوم شی ډیر ښه و هغه د صمیمیت ، ترحم ، زړه سوی او پیرزوینې فضا وه او داسې معلومیده (لکه چې بانه په سترګو درانه نه دي ) دوی یو د بل نه په تکلیف او ځپګان کی نه وو او چې زړه تنګ نه وي ځای نه تنګیږي چا داسې د تنګی او تکلیف احساس نه کاوه او هرڅوك پوهیده چې دغه مصیبت او بلا له بلې خوا راغلی ده ، خدای به یې زر دفع کړي . هو ازدحام ډیر و خو تکلیف آوره نه و ، د ډوډۍ په وخت کی به میله وه او د ماشومانو چانګ او چونګ او ژړا به داسې خوند کاوه لکه موسیقي .

خلکو همداسې راډیوګانو ته غوږ نیولی و چې ګوندې کوم ښه خبر به واوري او د کړاو نه به خلاص شو . له نیکه مرغه په دا بله شپه اعلان وشو چې د جدي پنځلسمې یعنې د جنګ پنځمه ورځ د ( اوربند ) ورځ ده ، د ملګرو ملتونو په کوښښ دغه یوه ورځ ډزبندي ده او دواړو جګړه مارو خواوو وریاندې موافقه کړې ده څو خارجي اتباع د کابل نه سالم ووزي .

په دې خبر خلك وغوړیدل او دومره خوشحاله شول چې په جامو کی نه ځاییږي . ټولو څوك چې تلل تیاری ونیو او اختر وریاندې راغی . د غنمو له برکته ځوزان هم اوبیږي . دغه ډزبندي او اوربند د خارجیانو لپاره و او د افغانانو په کیسه کی څوك نه وو ، خو افغانانو هم د دغې ورځې نه استفاده وکړه او ټول پیاده د بګرامیو په لور وخوځیدل او هرچا سامان پریښود او یوازې توسان یې د یخنی له کبله په اوږو اچولي وو .

خلك ډله ډله روان شول ، موږ څنګه چل وکړو ، موږ سره څو مریضان دی او بیا د محرقې مریض دی ، وایی چې که ګور ګران دي خو د مړي ناکام دی ، له ناکامه مو شاته واچاوه ، له یوې خوا زه سپین

پیری او کمزوري یم ، له بلې خوا ماشوم دروند او لوی دی ، د مور زور یې هم وریاندې نه رسیږي ، پریښودی یې نه شو د زړه غوښې دي ، خلك روان دي مور هم ورسره روان یو ، په زمکه واوره پرته وه خو آسمان شین دی ، د بگرامیو د چمن په حصه کې د خلکو تگ او یون یوه عجیبه منظره جوړه کړې وه ، نر او ښځې ، واړه او غټ ، غریبان او ماړه او ښایسته او بدرنگ چې شمیر یې لسهاوو زرو ته رسیده لیکه لیکه روان وو او رنگارنگ جامې یې اغوستې وې او دغو لیکو ته به چې څا کتل داسې تصور به یې کاوه ( لکه شپانه چې رمې وشړي په غرونه ) ، خیر د بگرامیو پاخه سړك ته ورسیدو او د بگرامیو پورې لا ډیر مزل دی ، چا ویل هلته موټرې پیدا کیږي او خلك تر پلچرخي پورې وړي .

په پاخه سړك باندې حزب اسلامي یو څو لارۍ اچولې او خدمتي کړې وې چې دغه خلك پلچرخي پورې ورسوي خو هغوی ته ورختل قیامت و ، یوازې ځوانان او د قوت څښتنان ورختلای شول او زموږ غوندې کمزوري خلك چې بیا مریض هم راسره و کله ورختلای شول .

په هلو ځلو ، پلې چې مریض مو په شا کړی و د بگرامیو بازار ته ورسیدو ، هلته موټرې چیرې وې که کوم یو به پیدا شو هغه د سترگو په رپ کې ډك شو . موږ له ناکامه یو خرگاډی تر پلچرخي پورې ونیو ، دا چې دا خرگاډی سر منزله پورې په کومو نخرو ورسید اوږده کیسه غواړي چې دلته نه ځاییږي . زه دلته اوس یوازې یو دوه خبرې کوم یوه دا چې د حصارشاهي د کمپ تیره همدغو مهاجرینو لپاره کیښودل شوه او له همدوی نه ډك شو . دوی ته پاکستان دروازې بیرته نه کړې او ویل یې چې په افغاني خاوره کې دی کمپ ورته جوړ شي .

دا چې برحو درمره خلکو ته کمپ جوړیده او د خلکو چې ماشومان هم

پکې ووړ جدي شپې په دغه ډاك کې څرنګه تیرې کړې دا هم یوه اوږده کیسه غواړي او ډیر غالمغال ورنه جوړ شو .

دوهمه خبره دا ده چې زما مریض په تبه او محرقه کې وران شو ، د بګرامیو باد او د مکروربانو تاکاوی ووهلو ، سوزاك او د پښتورګو مرض ورته پیدا شو ، روماتیزمو ونیوه او ډیر وکړید او اوس هم کړیږي دا د جنګونو د لاسه . دغه د کابل مهاجرین کمپونو ته لاړل او زه په جلال آباد کې پاتې شوم ځکه چې ما هلته یوه سرپناه لرله . یوه شپه مریض راته ډیر سخت شو او هیڅ طاقت یی نه کیده نو د شپې مو د جلال آباد صحت عامې ته ورووست ، دا نو د شپې دوه بجې دي .

ډیرې دروازې مو ووهلې او ټکټك مو کړې چې بالاخره مو د نوکریوال اطاق پیدا کړ ، هغه یو کاغذ راکړ چې د مریض معاینه وکړئ او راته یې وویل چې په دغه بل تعمیر کې لابراتوار دی ورشئ او پخپله بیرته په بستر کې ننوت . هلته بیا د لابراتوار پیدا کیدل مشکل وو ، د څه لټون نه وروسته مو پیدا کړ ، نوکریوال ډاکټر بیا کاغذ راکړ چې لاړ شئ پیچکاري راوړئ هلته نوکریوال درملتون شته . پیچکاری مو ورته راوړې او د مریض او ناروغ درد غلی شو . دا خو د ریکارډ یو مخ و اوس به یی هغه بل مخ وګورو ، دغه د صحت عامې شفاخانه په ډیره پراخه او ښایسته زمکه کې جوړه شوې ده ، ډیر لکس او ښکلی تعمیر لري اوښایسته ډبرې او مرمر پکې کار شوي دي او نقشه یی فوق العاده ده ، که درته ووایم په دغه سیمه او همسایه ممالکو کی داسې تعمیر نشته دروغ به نه وي ، دا خو ظاهري شکل و چې له پخوا نه راپاتې دی مګر مینځ یی هغسې و چې تاسې ته مو کیسه وکړه . دا د ریکارډ دواړه مخونه چې ما ولیدل چې ظاهر یې ډولي او مینځ یی خالي ، نو ما ته د منافق قبر راياد شو ، د منافق قبر په ظاهر

کې ډیر ښایسته وي ، قیمتي ډبرې او مرمر پکې لګیدلې وي ، سیمنټ شوې وي پنجره ورنه تاو وي او ګلونه وریاندې وخت په وخت ایښودل کیږي ، مګر د قبر په بطن او داخل کې بیا ناولتوب او وهل او ټکول وي، که تاسې پخپله د دغې شفاخانې ظاهر او باطن ووینئ زما مثال به بیځایه ونه بولئ او آفرین به راباندې ووایئ .

دا دومره کړاوونه چې خلکو ولیدل او ما هم ولیدل او لا وینو یې دا د څه او د کوم وخت نه راپیدا شول ؟ دا چې تنظیمونو قدرت په لاس کې ونیو او وریاندې جوړ نه شول او جنګونه یې پیل کړل ، له هغې راهیسې دا کانې وشوې اولا به کیږي .

له څه وخت نه را په دیخوا چې تنظیمونو قدرت به لاس کې نیولی دی که دغه دوره څوك مطالعه کړي او سمه یې وڅیړي نو دغه لاندې نتیجې په لاس ورځي او په دغو حقایقو پوهیدای شي :

۱ - خلکو په کورونو او جوماتونو کی دعاګانې کولې چې خدایه مجاهدین راولې چې موږ د جنګونو ، قیمتیو او ورور وژنې نه خلاص شو او په هیواد کی کراري راشي او د افغانستان نوم نور پسې بد نه شي او افغانستان نور خراب نه شي او وطن په ګډه آباد کړو ، خو دوی چې راغلل او په هیواد رادننه شول داسې چارې یې وکړې چې خلك ورته هك پك پاتې شول او د حیرت ګوته یې ورته په غاښ ونیوله .

۲ دعاګانې په ښیراو وبدلې شوی او که چا به ښکاره ښیرې نه کولې زړه خو یې کولې او خوابدي وو او د ځان او مال غم ورسره شو او زیاتره یي کمپونو ته مهاجر شول او په بده ورځ اخته شول

۳ - په دغه دوره کی یوازې توپك حاکم شو ، محکمه او قانون په ځنګ پاتې شول چا ورته مراجعه نه کوله ، که چا سره به توپك و هغه سره به هرڅه وو ، پیسې ورسره شته او ښه ژوند کولی شي او ښه ژوند

یی وکړ او ټول قوت او واك دوی سره دی او خلك ورنه ډاريږي او د دوی په مقابل کې د احتياط نه كار اخلي او خصوصاً بيا په مذهبي چارو کې څوك د دوی سره خوله نه وهي ، د کفر د ټاپې نه ډاريږي ، هو ! د دوی د قدرت په وخت کې وسله حاكمه شوه او قانون محكوم .

٤ - په دغه دوره کې چې دوی حاكمان شول او قدرت يې په لاس کې ونيو ډيرې خارجي مؤسسې هيواد ته راننوتلې او په کار يې پيل وکړ ، دا مؤسسې په ظاهر کې گټه لري او خلك فكر كوي چې هيواد ورسره آباديږي او هيواد آبادوي ، دوی ډالر او كلداري افغانانو ته وركوي او د يو تعداد خلكو ژوند ورسره ښه شوی دی ، خو ما د خدای لپاره يار ليدلی نه دی ، هره مؤسسه يو څه هدف لري او هغه پوره كوي څوك سياسي هدف لري ، ځينی بيا مذهبي او كلتوري اغراض لري او څوك اقتصادي گټې زموږ په هيواد کېويني او د خپل تجارت او لويو لارو په غم کې دي .

د دغو مؤسسو چې د تنظيمونو د قدرت په وخت کې هيواد ته راداخل شوي دي يو زيان دا دی چې خلك ورسره بد اموخته شول ، څوك چې په دغو مؤسسو کې كار كوي هغوی خپل ژوند د ډالرو سره عيار كړی دی ، كه د دغه نيلي نه راښکته شي ژوند يې ترخيږي ، زما يو ملگری د مؤسسې نه ليرې شوی دی او نژدې دی چې د اعصابو په مرض اخته شي ، دی وايي : ما او زما كورنۍ د ډالرو سره خبرې كولې اوس افغاني ژوند راته خوند نه راكوي او د افغانيو خبرې راباندې ښې نه لگيږي .

٥ - له كومه وخته چې تنظيمونو قدرت په لاس کی نيولی دی ، نو دوی هرڅه ځان ته تكيه كړي دي او په كوم ځای کې چې د پيسو مدرك او غوړ وي هغه دوی قبضه كړی دی . مگر د مؤسسو په چارو کی دوی پاتې راغلي دي ، په مؤسسو کې زياتره منور قشر او د

پخواني رژیم خلك دي ، ځکه دوی په ژبو پوهیږي او په مؤسسو کې ژبه شرط ده او وسله وال کسان د ژبې او کمال په برخه کې کمزوري دي . هو ! دغه مؤسسې بیا په غته سویه د وسله والو ډلو د مشرانو سره په مفاهمه کې دي .

٦ - د گمرکاتو ، پاټکونو او تاجایی گانو پیسې په زیاتره ځایونو او ولایاتو کی به بانك کی خپل دوران نه طی کوي او رأساً صرافیو ته ځي او په خارجي اسعارو بدلیږي . دا هم د دې دورې خصوصیات دي .

٧ - د هیواد په ځینو ځایونو کی څو خارجي مؤسسې غریبانو او مهاجرینو ته پخه ډوډی په ارزان قیمت ورکوي او هر کور ته یو کارټ ورکوي چې د ورځې پنځه ډوډی کیږي ، خو قوماندانان ، رئیسان ، او د ادارو مشران بیا شپږ اووه کارتونه لري . ما یو چا ته وویل چې : د دی ډوډی کیفیت او نوعیت خو خراب دی ، دا څرنگه دا پیسه داران خوري ؟ هغه راته وویل : ډیر ساده کیږه مه ، دا ډوډی مالونو ته ورکوي او مزدوران ورباندې ساتي او له بله پلوه ما پخپلو سترگو ولیدلې چې څو کونډې رنډې د ښاروال د کوټې په مخکې چړیدلې او د ډوډی ډ کارټ غوښتنه یې کوله ، خو چا دننه ښاروال ته نه ورپریښودلې . دا هم د دې دورې انصاف دی چې وسله والو ډلو قدرت په لاس کې نیولی دی .

٨ - کله چې تنظیمونو قدرت په لاس کې ونیوءنو د اسلام چیغې یې پورته کړې او ولس خوشحاله شو چې اوس به اسلام ته خدمت وشي خو واقعیت دا دی چې د اسلام سنکلی دین ته په دغه دوره کې هیڅ خدمت ونه شو ، بلکې وسله والو ډلو زیان وروړساوه .

٩ - د دغې دورې بل لوی خصوصیت دا دی چې ټوله جگړو او اخ وډب نیولې ده ، بدمرغي پکې دي او خلك د ژوند پورې په تنگ دي .

۱۰ – څه وخت چې تنظیمونه قدرت ته ورسیدل او په خپل مینځ کې سره لاس په گریوان شول ، نو هر یوه یو قوم ته تکیه وکړه او د بل قوم په مقابل کې یې پورته کړل چې په دې ترتیب د قومونو په مینځ کې دښمنی پیدا شوې ، پښوا یو افغان ملت و او د ورونو غوندې گډ ژوند یې کاوه ، اوس څو ټوټې شو او هره ټوټه د بلې ټوټې دښمنه شوه چې دا د افغان ملت په پیکر یو ستر گوزار دی او تر ډیره پورې به دغه اور سوړ نه شي او عام ولس به یې په لمبو کې سوځي .

۱۱ – قدرت چې وسله والو ډلو ته په لاس ورغی او په جنگونو او شخړو سره اخته شول ، نو ځینو تنظیمونو ته دغه کار نامناسب ښکاره شو او د جهاد په ضد یې وباله ، نو ورنه په ډډه شول او په جنگونو کې یې برخه وانخیسته .

۱۲ – په دغه دوره کې که د چا به جیب ډك و هغه هر کار کولای شو او بند نه پاتې کیده .

۱۳ – تر دغه ځایه پورې د تنظیمونو نیمگړتیاوې یو څه په گوتو شوې او دا به انصاف نه وي که د دوی مثبتې خواوې ونه ښودل شي او سترگې ونه پټې شي . د دوی د راتگ نه پخوا به چې په کوم کور کې هلك رالوی او ځوان شو ، نو دغه هلك به عسکری ته نیول کیده او د لارې او کوڅې نه به تجمع ته بوتل شو او د جنگ جبهې ته به واستول شو ، هلته به زیاتره یا مړ کیده او یا به تښتیده چې دا دواړه چارې کورنی ته یو ستر تکلیف او مصیبت و . طبیعي خو داده چې په کوم کور کې ماشوم ځوان شي هغه کور ورته خوشحالیږي او موټی موټی وریاندې غټیږي ، خو د تیر حکومت په وخت کې بیا خبره بل شان وه . په کوم کور کې به چې هلك ځوان پیدا شو ، په حقیقت کې به هلته مصیبت پیدا کیده ، نو د تنظیمونو په راتگ سره دغه تکلیف د خلکو

نه لیرې شو ، ځکه چې دوی د خپله ځانه پوره وو . د نورو د اولادونو سره یی غرض نه کاوه او دا تکلیف پخپله په ما باندی هم تیر شوی دی ځکه نو راته داسې نیغ په نیغه یاد و او بل دا چی دوی جلب واحضار نه کوي ، ملي اردو له منځه وړي او دا د هیواد لپاره ستر زیان دی .

دلته ما په دې بحث کی یوه اندازه هغه پیښنې وخیړلې چې د تنظیمونو د قدرت نه وروسته مینځ ته راغلې او هغه واقعات مې په گوته او ښکاره کړل چې ولس یی خپه کړی دی . ( فان مع العسر یسراً - ان مع العسر یسراً ) په هره تیاره پسې رڼا راځي او په هره تنگسه پسې آسانتیا وي .

# د سولې او آرامۍ په خاطر وړاندیزونه

په افغانستان کې د سولې او آرامۍ په خاطر ډېرې هلې ځلې شوې دي او ډېرو پوهانو ، د نظر خښتنانو ، سپین ږیرو او تجربه کارانو خپل پیشنهادونه او نظریات ویلي او لیکلي دي او حتی په دې لار کې ملګرو ملتونو هم خپلې هڅې نه دي سپمولي او ټینګ او متین ګامونه یې اخیستي دي او خپله خواخوږي یې له افغانانو سره ښکاره کړې ده . مګر کومه د ویلو وړ نتیجه یې نه ده ورکړې او نه په ظاهر کې د سولې کومه نخښه اونښانه لیدل کیږي ، یوازې دومره مثبت ټکی د دې هلو ځلو په انجام کې بریښي چې د تنظیمونو مشران او د قدرت مینان په دې حقیقت پوهیدلي دي چې هیڅ تنظیم او ډله په یوازې سر حکومت نه شي کولای او نه آرامي راوستی شي . همداسې بدې ورځې

به وي او خلك به د ژوند له هر اړخ او بُعد نه په کړاو کې وي او سرگردانه او لالهانده شپې به سبا کوي او د بشر حقوق به د پښو لاندې کوي او په دې حقیقت هم پوهیدلي دي چې ترڅو په هیواد کې مسلح ځواکونه او په موجوده شکل تنظیمونه موجود وي او یوه بل ته د ټوپك خوله ورنیولې وي سوله به د موږ نه پته گرځي او مخ به یې ونه وینو .

اوس د سولې او آرامۍ د هلو ځلو په نتیجه کې دومره کار هم شوی دی چې د تنظیمونو سرگروپان د سولې په باره کې فکر او چُرت وهلو ته اړ شوي دي ، خو عملي اقدام ته لا چمتو شوي او آماده شوي نه دي او نه د سولې داعیی ته په رښتیا لبیك وایی او د چا سره چې زور او قدرت دی د سولې هر رنگ عملیه خوند نه ورکوي او په یو ترتیب ورنه ځان خلاصوي .

د خپل غم ځپلي هیواد د سولې او آرامی په خاطر زه هم یو څو پیشنهادونه او وړاندیزونه لرم چې محترمو لوستونکو ته به یې وړاندې کړم ، خو پخوا له دې چې په دغه کار لاس پورې کړم دا وایم چې ښه وړاندیز هغه دی چې عملي بڼه ولري او د کیدو امکانات یې وي که چیرې پیشنهادونه عملي سریعه صبغه ونه لري او یا په یوه اوږده ستراتیژۍ بنا وي هغه هغسې د وخت ضیاع او ځان ښودنه ده او پیشنهاد یې مه بوله .

ترڅو چې د سولې د لارې نه اساسي خنډ لیرې نه شي په دغه لاره تگ مشکل دی او د سولې قافله وړاندې نه شي تیریدلی ، که هرڅومره هلې ځلې او خوارۍ وشي بیځایه به وي او نتیجه نه ورکوي ، هغه خنډ او مانع د قدرت عدم انتقال دی . د چا سره چې قدرت او حکومت دی هغه انتقال ته په هیڅ صورت حاضر نه دی ، دوی په دوه ټکو ټینگ ولاړ دي : ( ارگ یا مرگ ) او ( الملك لمن غلب ) ، ترڅو چې دوی په

دغه ذهنیت وي سوله هیواد ته صحیح راتلای نه شي . له یوې خوا دوی کمزوري دي ، هیواد نه شي اداره کولای ، د خلکو ملاتړ ورسره نه شته په زور کلي نه کیږي او هره ورځ اخ وډب روان دی او له بلې خوا قدرت نه پریږدي ټینګ وریاندې ولاړ دي . په داسې حالت کې د سولې هرراز وړاندیزونه او کوښښونه بی ثمره دي .

ځینې خارجي هیوادونه د سولې په لار کې کوښښونه کوي ، هلې ځلې کوي او منډې رامنډې وهي ، خو د دوی ناکامي په دې کې ده چې دوی یوه ورځ هم د قدرت د انتقال خبره ونه کړه ، او نه دا لفظ د دوی په خوله راځي ، دوی افغانانو او مختلفو ډلو ته وایی چې یوځای سره کښیني ، تفاهم او مفاهمه وکړي او جنګونه بس کړي او دا خبره نه کا چې د قدرت انتقال ته زمینه برابره او مساعده ده ، په دې خصوص کې هم خبرې او مفاهمه سره وکړئ . د دې نه د دوی نیت او غرض معلومیږي چې دوی یوی خواته رغږي او همدا یې ناکامي ده .

د ټولو بدبختیو او کړاوونو منبع همدا د قدرت عدم انتقال دی . د بینن سیوان پنځه فقره ییزه پلان د قدرت لیونیانو شنډ کړ او په پښو یی وواهه . د بینن سیوان د ناکامیدلو نه وروسته بیا بین المللی ټولنې خپلې هڅې پیل کړې او ښاغلی مستیری یی موظف کړ چې د افغانانو په مینځ کی روغه جوړه وکړي او وروو وژنې ته خاتمه ورکړي . ده دغه ماموریت په څو مرحلو کې سر ته ورساوه ، خو په هره مرحله کې به چې خبره د مطلب ټکي ته ورسیده چې هغه د قدرت انتقال دی ، د ده ماموریت او ټولې هڅې به یی په لغته ووهلې او ده به بیا په بله مرحله پیل وکړ او هغه مرحله به هم چې نهایی ټکي ته ورسیده په بوټ به ووهل شوه او حتی یوځل چې مستیري خپل پلان جوړ کړ او ډاډه و . یو شپږ کسیز هیئت یی هم د ځان سره کابل ته بوت چې قدرت ورانتقال

شي ، مگر هغه هیئت ترغې په ترغي او ریشخند شو او مور پوه نه شوو چې هغه بیا څه شو ؟ نو د سولې اساسي او مرکزي نقطه د قدرت انتقال دی او چې دا کار ونه شي سوله نه شي راتلای .

زما لومړی وړاندیز دا دی چې قدرت دې بی شرطه او په ډیر اخلاص نقل شي او د انتقال نه وروسته دې بیا نه ورګوري چې څه وړاندې وشو دا چې قدرت به څوك په لاس کی نیسي ، کمیټه به وي که شخص ، د کمیټې خبره سمه نه ده ، په ډیرو قصابانو کی غوا مرداریږي ، باید شخص قدرت په لاس کی ونیسي ، دا شخص به څوك وي ؟ دا شخص به ملګري ملتونه او اسلامي کنفرانس په ګوته کوي او دا خو ښکاره او طبیعي ده چې دوی به داسې شخص معرفي کوي چې دغه مقام سره لایق وي او اداره یی کړی شي ، بین المللي شهرت ولري ، د هیواد او خلکو مینه ورسره وي او ټولو ته په یو نظر ګوري ، سابقه او تجربه ولري او د جنګ نه یی کرکه اونفرت راځي او په ټولو او یا به زیاترو ګران وي او اجداد یی معلوم وي .

داسې شخص چې قدرت په لاس کی ونیسي دا بیا د ده کار دی چې څرنګه اردو جوړوي ؟ څرنګه کابینه جوړوي ؟ او هیواد په څه شکل د مشکلاتو نه وباسي ؟ که د ده لاس آزاد پرې نه ښود شي او محدودیتونه وړاندې ولګول شي او غلطې مشورې ورکړای شي خبره بیرته په شا راګرځي او نتیجه نه ورکوي ، یعنی د ده په چارو کی دی څوك مداخله نه کوي او خنډان دې ورته نه پیدا کوي . په دې ترتیب هیواد کی آرامي راتلای شي .

زما دوهم وړاندیز دا دی چې تنظیمونه دې منحل شي ځکه ترڅو چې تنظیمونه او وسله والې ډلې وي بل څوك حکومت نه شي کولای . د تنظیمونو مشران دی د بشریت په خاطر خپل تنظیمونه رنګ کړي ،

ضرورت ورته نشته ، دوی معاش نه شي ورکولای ، نو ترڅو به یې د ملت په غوسنو ساتي ؟ سنه همدا ده چې په ډاګه ووایې چې تنظیمونه ړنګ شول ، هو ! د موجوده تنظیمونو په ځای دې چې وسله وال دي سیاسي ګوندونه جوړ کړي او د وسلې په ځای دې د سیاست نه کار واخلي . وسله والو ګوندونو سنه نتیجه ورنه کړه اوس دی یې ځای سیاسي ګوندونه ونیسي او دا یو عادي کار دی په ټوله نړۍ کې شته ، نو که تنظیمونه ړنګ شي په هیواد کې آرامي راتلای شي .

زما دریم وړاندیز دا دی چې وسله دې د هیواد نه ټوله شي ، که هیواد تر پوزو پورې مسلح وي کړکیچ نه غلی کیږي او د هیواد اداره کول مشکل کیږي . لومړی دې دا کار په داوطلبانه ډول تنظیمونه وکړي ، د دې وسلو بیه به ملیاردونو افغانیو ته ورسیږي ، خو موږ پوهیږو چې دوی خپلې پیسې ورباندې نه دي ورکړې ، یا ورسره مرستې شوې دي او یا یې په جنګونو کې نیولې دي ، تنظیمونه دې دا کار د خپل ولس په خاطر وکړي ، دوی ولس ډیر خپه کړی دی اوس دې یې په دې کار بیرته خوشحاله کړي او یو څه جبیره دې وکړي ، که د هیواد نه وسله ټوله شي آرامي راتلای شي .

د ولس نه دې هغه وسله چې په پیسو یې اخیستې وي د پیسو په مقابل کې واخیستل شي او هغه چې مفته لاسته ورغلې ده هغه دې ورنه بې عوضه واخیستل شي او دا کار ډیر اسان کیدای شي څوك وسله نه شي پټولای ؛ په دې ترتیب که په کوم کلي یا قریه کې د یو یا دوه کسانو نه وسله واخیستل شي هغوی بیا د ټول کلي حال وایي او هرڅه افشا کیږي . هره وسله چې اتومات شکل لري د ټولولو وړ ده او که بالفرض چا سره وسله پاتې شي او تحویل یې نه کا په هغه دې درنه ناغه ولګول شي ، که داسې ناغې وټړل شي او د معین نورم ته کوم متخلف

ته جزا ورکړې شي نور ورنه ضرور عبرت اخلي .

دا د وسلو ټولول زموږ په هیواد کې سابقه لري ، زما په یاد دي چې کله په سقاوی کې شینوارو جلال آباد ته تالا کړ او دولتي وسلې یې د ځان سره یووړلې ، نو دوی گومان کاوه چې دا وسلې زموږ شوې ، خو کله چې نوی حکومت مینځته راغی او په ډیر قوت او د اکثریت په خوښه راغی ، نو لومړی یې د وسلو په ټولولو پیل وکړ او په ولسوالیو کې یې اختیارات نظامیانو ته ورکړل ، د یو څو کسانو نه یې چې وسلې په کلي او قریه کې واخیستی ، نو هغوی د نورو حال هم ووایه او هرڅه په ډاګه شول او حتیٰ یو دولتي ټوپك هم د چا سره پاتې نه شو .

هو ! شرایطو فرق کړی دی ، په هغه وخت کې دومره وسله نه وه تیت شوې او راټولول یې د کنترول لاندې راتلای شول ، خو اوس هم یو څه نور شرایط سنه شوي دي ، د هیواد زیاترو سیمو ته سړکونه تیر شوي دي ، ترانسپورتي وسایل ډیر شوي دي او نور عصري دقیق وسایل په کار لویدلی شي ، که هیواد د وسلې نه پاك شي آرامي ورسره راتلای شي .

زما څلورم وړاندیز دا دی څرنګه به چې په افغانستان کې په دغه مرحله کې هرڅه نوي مینځته راځي او ثبات او استقرار به لا ټینګ نه وي ، نو په دغه نازکه او نوې مرحله کې باید زموږ د هیواد په چارو کې ګاونډي هیوادونه لاسوهنه پریږدي ، دوی دې زموږ د هیواد دردونو او کړاوونو ته وګوري ، دوي دې زموږ غمځپلو او ربړیدلو خلکو ته پام وکړي او د بشریت او د بشر د حقوقو په خاطر دې نور زموږ د هیواد نه لاس واخلي ، که د ګاونډیانو ډاډ او د دوی پیسې او وسلې نه وای اوس به د قدرت په ګدۍ خپل مستحق ناست وای .

که رښتیا درته ووایم ځینې ګاونډیان زموږ د خلکو سره همدردي او خواخوږي نه لري ، بلکې خپلې ګټې په دغه مړژواندي هیواد کې ویني

او لا نور هیواد پسې خرابوي . زموږ د هیواد دا موجوده واکداران یعنی د تنظیمونو مشران لا دومره پوخ سیاسي شعور نه لري چې ځوک یی تیر نه باسي ، نو ځکه پردي ورلاندی شوي دي او د خپل هدف په لور یې سوق کوي . زموږ ګاونډیان داسې فکر کوي چې افغانستان یوه لنګه غوا ده ، ځکه نو هر یوه ورته کاسه په لاس کې نیولې ده ، مګر کیدای شي چې د شودو په ځای په کاسه کې زهر ورتوی شي او بیا به خوند ورکا .

د ګاونډیانو د کشمکش او رقابت له امله افغانستان هغې ګاډی ته ورته دی چې د ډیر فشار سره سره بیا هم له ځایه نه خوځي او ځای په ځای ولاړه ده او دا ځکه چې د فشار موازنه وړاندې برابره ده . په دې ترتیب چې مرغانو پکې پړي اچولي دي او کوښښ کوي چې د هوا په لور یی پورته کا ، کبان یی ښکته اوبو ته کشوي ، ګونګټانو ورته شا تمبه کړې ده او مخ په وړاندې یی ټیل وهي او چنګښانو ورته څنګ اړم کړی دی مخ په شا یی بیایی . د دغو ژوو له ډیره زوره کولمې راووتلی مګر ګاډی ځای په ځای ولاړه ده او کوم خوا ته حرکت نه کوي ، که زموږ ګاونډیان خپل زورونه او خپله مداخله بنده کا ، زموږ د ژوند ګاډی به پخپل اصلي مسیر حرکت وکړي او هر څه به نورمال شي او سوله او آرامي به هیواد ته راشي .

زما پنځم وړاندیز یو اخلاقي او انساني وړاندیز دی ، د هیواد ټول خلك دی له هر نژاد او قوم نه چې وي د دوستی لاسونه دې سره ورکړي د خپل زړه نه دې غورځ او عقدې لیرې کاندي او هغو دښمنیو ته دې خاتمه ورکړي چې تنظیمونو د دوی په مینځ کې راپیدا کړې دي او تیر په تیر او هیر په هیره دې هرڅه وګڼي او د نوي دولت سره دې خپله پوره همکاري او مرسته ټینګه کاندي او که چیرې خپلې زړې دښمنۍ

رايادوي او يو د بل نه د غچ او بدل اخيستلو په فکر کې شي ، نو بيا په هيواد کې آرامي نه راځي او سوله به څوک ونه ويني او دښمنی به بيرته را تازه شي او بيا به د هيواد گاونډيان ملامت نه وي ، په دې صورت کی به پخپله افغانان ملامت او گرم وي .

د نوي دولت سره چې د ډيرو کړاوونو او ډير وخت نه وروسته مينځته راځي هيوادوال بايد پوره اخلاص پيدا کاندي او که څوک ورباندې حملې شروع کا او د موزيکي د کټ غوندې څوک يی سر وهي او څوک يی لنگه ، بيا کله آرامي په هيواد کې راتلای شي او کله د سولې نه څوک گټه اخيستی شي او بيرته به هغه پخوانی دوره پيل شي .

راځئ چې لومړی د خدای په لحاظ ، بيا د بشريت په خاطر او ورپسې د خپلې مينې د آبادۍ په نيت ټول سره يو موټی شو ، په يو اتفاق او اتحاد شو او ځان ته يوه داسې ټولنه جوړه کړو چې زموږ ژوند پکې سنه شي ، زموږ دوستان راباندې خوشحاله شي او د دښمنانو زاره راباندې وچوي . دا وو د سولې او آرامی په خاطر زما وړانديزونه .

زه د خپلو وړانديزونو په پای کې دا په ډاگه وايم چې زه د ځينو خلکو د دې نظر سره مخالف يم چې وايی : افغانان دې جگړې بس کړي او خپلې لانجې دې د خبرو او مفاهمې او ډيالوگ له لارې حل کړي او جگړه د حل لاره نه ده . دا خبرې چا ته کا او د چا نه غواړي چې جگړې بس کړي او ديالوگ دې پيل کړي . جگړې او لانجې خو د تنظيمونو مشران کوي ، که مطلب دا وي چې دوی دې سره کښيني او خپل ذات-البيني اختلافات دې سره حل کړي ، دا خبره خو د امکان نه وتلې ده ، دوی دومره عقدې لري ، دومره کينې او بغضونه لري او دومره لويې دښمنې يو تربله سره لري چې دوی کې يې د خبرو او تفاهم استعداد بيخي وژلی دی ، دوی د دې مرحلې نه وتلي دي او معذور دي او که

مطلب دا وي چې نور افغانان دې سره کښيني او اختلافات دې سره حل کړي دا خبره هم بيځايه ده ، ځکه نورو سره اختيارات نشته ، نورو سره قدرت نشته او نورو سره ټوپك نشته او نه د نورو په مينځ کی اختلافات سره شته ، متخاصمې او جګړه مارې ډلې خو همدوی دي او دوی د روغې جوړې استعداد نه لري .

که بالفرض تنظيمونه مفاهمې او ديالوګ ته سره غاړه کښيږدي او يوه ميز ته سره کښيني ، تاسې څه وايئ ، چې دوی به سره جوړ شي ؟ زه فکر کوم يو به يو څه وايی او پخپل نظر به ټينګ وي او بله به څه وايی او پخپلو نظرياتو به اصرار کوي . په دې ترڅ کی به هفتې تيرې شي ، مياشتې به تيرې شي او کلونه به ووزي ، خو دوی به سره جوړ نه شي او خلك به ورته د انتظار نه مړه شي ، د دی خبرې يو مثال د فلسطينيانو او يهود و ديالوګ دی چې څه وخت پيل شوی دی او کله به پای رسيږي .

زه فکر کوم د دې موضوع حل دوه لارې دي : يوه دا چې د يو دريم قوت راپيدا شي هرڅه هغه دغه کړي او « الملك لمن غلب » په اساس قدرت په لاس کې ونيسي او د امير عبدالرحمن غوندې ملوك الطوايفي ختم کړي .

بله لار يې دا ده چې د ( بوسنيا هرزيګووينا ) غوندې په خارج کې دې ورته جرګه جوړه شي او دا موضوع دې په خارج کې حل او په دوی دې تحميل شي .

دلته دا خبره چې څوك کاندي چې دا موضوع دی د انتخاباتو له لارې حل شي چی جګړه پای ته ورسوي . دلته يوه غلط فهمي موجوده ده ، خلك داسې فکر کوي چې په انتخاباتو کې به د افغانستان ټول خلك حتی نر وښځې ګډون کوي ، خو داسې نه ده . تنظيمونه انتخابات

داسې تعبیروي چې انتخاباتو کې به یوازې د تنظیمونو افراد ګډون کوي او نور د انتخاب حق نه لري او بې د تنظیمونو نه بل څوک حق نه لري چې ریاست ته کاندید شي ، ځکه تنظیمونه دغه د انتخاباتو حق ځان ته محفوظ بولي او نورو جهاد نه دی کړی ، د انتخاباتو له صحنې نه دی ووزي ، یعنې څوک چې په تنظیمونو پورې مربوط نه دي هغوی نه ځان کاندیدولای شي او نه بل ته رایه ورکولی شي ، دا کار یوازې تنظیمونه کولای شي او بس ، تر هرڅه لومړی باید دا غلط فهمي لیرې شي او موضوع ښکاره شي .

دا خبره هم دقت غواړي چې وایې یو پراخ بنسټ دولت دې جوړ شي او ټولو تنظیمونو او ټولو قومونو ته دې پکې برخه ورکړای شي .

زه وایم دولت خو د پلار او نیکه پټی نه دی چې ټولو ته مساوي تقسیم شي او هر قوم ته یو یا دوه وزارتونه ورسیږي ، دا کلمه سمه نتیجه نه ورکوي ، مثلاً که د وحدت ګوند او هزاره ګانو ته صحت عامه ورکړای شي او یا نورستانیانو او یا ازبکانو ته د کرنې وزارت ورکړی شي . په دې صورت کې به قومونه خوشحاله شي ، خو وزارتونه به خپه او وروسته پاتې شي ، په قومونو او نژادونو باندې د دولت ویش معقول نه بریښي ، د دولت چارې باید د چارو اهل ته وسپارل شي ، که څوک د طب ماهران وي هغوی ته دی صحت عامه وسپارل شي او که د هر نژاده وي ، که څوک د زراعت پوه وي او په دغه رشته کې یې کار او تحصیل کړی وي هغوی ته دی د کرنې وزارت وسپارل شي . همدارنګه د سیاست ماهرانو او د سیاست په شق کې تعلیم یافته ګانو ته دې خارجه وزارت وسپارل شي او داسې نه لکه چې اوس روانې جنګ دی یو تنظیم یا یو قوم ته وسپارل شي .

تاسې نه ګورئ چې دولتونه د خارج نه متخصصین راغواړي او دا ځکه چې دوی نسبت نورو ته ښه پوهیږي او د کار اهل دي ، دلته قوم یا نژاد ته څوک نه ګوري ماهر ته ګوري . په دې باره کې موږ یوه

تجربه هم لرو ، د ننگرهار جهادي شورى د دولت چارې په تنظيمونو ویشلي وې ، یوه تنظیم ښاروالي اخیستی وه ، بل د برېښنا ریاست اخیستی و ، د بل سره بانك و او بل سره گمرك او داسې نور درواخله او هر یو تنظیم داسې فکر کاوه چې دا د دوی د پلار او نیکه پټی دی د بل چا حکم پکې نه مني حتیٰ د شورى د رئیس حکم هم سم نه منل کیده .

ښه ! په داسې تقسیماتو کی به څه گټه وي او دولتي چارې به څومره مخ په وړاندې لاړې شي . هو ! شخصي گټې پکې ښې متصورى دي .

داسې تجربې موږ د تنظیمونو د دولت او قدرت نه پخوا هم تیرى کړې دي ، د دې لپاره چې قومونه خوشحاله وساتي د سرحداتو وزارت په ځنگ کې یې د وړو ملیتونو د وزارت په نامه دوهم د سرحداتو وزارت جوړ کړی و ، وړو ملیتونو په دې قناعت ونه کړ اوتقاضا یې کوله چې د پوهنې وزارت په ځنگ کې دی د وړوکو ملیتونو لپاره دوهم د پوهنې وزارت جوړ شي . دا کار په پلان کې و ، خو خبره گډه وډه شوه او رژیم بدل شو او هم تقریباً نسبتاً لویو نژادونو لپاره جدا جدا شوراگانې جوړې شوې وې او په یوه کور کې کوره کې جوړ شوي وو په دې د قومونو ځینې کسان خوشحالیدل ، خو د دولت او بودجې ملا ورباندې ماتیده .

په دې برخه کې زما وړاندیز دا دی چې دولتي چارې دې د چارو اهل ته وسپارل شي او قوم او نژاد ته دې نه کتل کیږي . د طب ماهر دې صحت عامې ته ورمعرفي کیږي ، د سیاست ماهر دې خارجه وزارت ته او د نظامي چارو ماهر دې د دفاع وزارت ته ورشي او په وزارتونو باندې د یو قوم او یا یوه تنظیم ټیکه داري گټوره نه ده .

( اذا فوّض الامر الى غیراهله فانتظر الساعة . الحدیث ) کار چې د کار اهل ته نه سپارل کیږي پوه شه چې قیامت روان دی .

موږ باید په زور په ځان قیامت را نه ولو او کار د کار اهل ته وسپارو ، دا به زموږ هوښیاري او تعقل وي .

B
4.762
MOH
6498

Serial No: 99-

# The Latest Factional Fighting and Human Rights of Afghans

By

M. Akbar M. Shinwary

Published

By

The Writers Union of Free Afghanistan (WUFA)

Peshawar 1997-
Copies 2000-

Download from:aghalibrary.com